بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمدنی محاکماتو د اصولو قانون

رسمي جريده ګڼه ( ۷۲۲)
نېټه ۱۳۶۹/۵/۳۱ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوۀ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلۀ دیگری از قوانین نافذۀ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**
**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون اصول محاکمات مدنی
**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان
**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات
**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات
**تدارکات واداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری واحمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه
**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی
**مصححین:** نور علم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد
**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار
**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰
**تیراژ:** ۸۰۰۰
**چاپ:** اول (قطع جیبی)
**قیمت:** ۸۰ افغانی
**مطبعه:** مطبعه طباعتی وصنعتی احمد
**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷
**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتو فهرست

# د افغانستان د جمهوریت د مدني محاکماتو د اصولو قانون

**لومړی باب**........................................................**۱۱**
لومړی فصل: عمومي حکمونه..............................**۱۱**
دوهم فصل: دعوی.............................................**۱۳**
**دوهم باب**........................................................**۱۴**
لومړی فصل: استدعا..........................................**۱۴**
دوهم فصل: د دعوی مبادي.................................**۱۶**
دریم فصل: په محکمو کې د مدني قضیو د څېړلو بهیر.........**۲۱**
څلورم فصل: د قاضي ډډه کول او ردول.....................**۲۶**
پنځم فصل: په مدني قضیو کې د څېړنې واک.................**۲۹**
شپږم فصل: د کورنۍ په قضیو پوری اجراآت.................**۳۴**
اووم فصل: د عامه حقوقو د قضیو څېړل......................**۳۸**
اتم فصل: خبرتیا ،جلب،احضار..................................**۴۰**
نهم فصل: غیابي حکمونه........................................**۴۵**
لسم فصل: په مدني قضیو کې د اهل خبری او مطلع څخه گټه اخیستنه..........**۵۰**
یوولسم فصل: په مدني قضیو کې د لومړنیو اجراآتو تنظیم......**۵۴**
دولسم فصل: د محاکمې بهیر او په قضیه کې د شاملو کسانو حاضریدل..........**۵۷**
دیارلسم فصل: د محکمې پریکړه او حکم.....................**۶۶**
څوارلسم فصل: د محکمې قرار.................................**۷۱**
پنځلسم فصل: د حکم سببونه (د ثبوت وسیلې)..............**۷۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**درېيم باب: په پورتنيو محکمو کې اجراآت.............................. ۹۱**
لومړی فصل: د لاندنيو محکمو پر پريکړو باندی شکايت او اعتراض........................................................................... **۹۱**
دوهم فصل: د شکايت يا اعتراض وړاندی کولو ډول............. **۹۳**
درېيم فصل: د پورتنی محکمی لومړنی اجراآت ....................... **۹۵**
څلورم فصل: د شکايت او اعتراض د څېړلو په خاطر د قضائی غونډی دا پرېدل ............................................................... **۹۷**
پنځم فصل: د پرېکړی دنه سموالی او د هغی د نقض په هکله د پورتنی محکمی د قرار صادرول............................................ **۱۰۲**
شپږم فصل: د لاندنی محکمی پر قرار باندی د شکايت او اعتراض وړاندی کول ............................................................... **۱۰۳**
اووم فصل: د لاندنی محکمی د صادره حکمونو پر خلاف د شکايتونو په څېړلو کې د پورتنيو محکمو واکونه............. **۱۰۴**
**څلورم باب: د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضيو په ديوان کې اجراآت.............................................................. ۱۰۹**
لومړی فصل: د قضيو لومړنی څېړنی ................................ **۱۱۰**
دوه هم فصل: د فرجام غوښتنی شرايط او په هغی پوری اجراآت ............................................................................... **۱۱۱**
درېيم فصل: په وروستی پړاو کې څېړنه ............................. **۱۱۳**
څلورم فصل: د قانونيت له مخی د لاندنيو محکمو د وروستيو حکمونو څېړل....................................................................... **۱۱۴**
**پنځم باب: د مدنی او عامه حقوقو په قضيو کې پر وروستيو پرېکړو او قرارونو باندی نوی کتنه.......................................... ۱۲۱**
لومړی فصل: نوی کتنه.................................................. **۱۲۱**
دوه هم فصل: د نوی کتنی اړوند اجراآت............................ **۱۲۲**
**شپږم باب: متفرقه حکمونه......................................... ۱۲۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست (دری)

## قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان

**باب اول**.............................................................. ۱۳۹
فصل اول: احکام عمومی........................................... ۱۳۹
فصل دوم: دعوی .................................................... ۱۴۱
**باب دوم** .............................................................. ۱۴۲
فصل اول: استدعا .................................................. ۱۴۲
فصل دوم: مبادی دعوی ........................................... ۱۴۴
فصل سوم: جریان رسیدگی قضایای مدنی در محاکم .......... ۱۵۰
فصل چهارم: اجتناب و رد قاضی ................................. ۱۵۵
فصل پنجم: صلاحیت رسیدگی درقضایای مدنی ............... ۱۵۸
فصل ششم: اجراآت مربوط به قضایای خانواده ................ ۱۶۳
فصل هفتم: رسیدگی به قضایای حقوق عامه..................... ۱۶۸
فصل هشتم: اطلاع،جلب،احضار.................................... ۱۶۹
فصل نهم: احکام غیابی ............................................ ۱۷۴
فصل دهم: استفاده از اهل خبره و مطلع در قضایای مدنی.... ۱۷۹
فصل یازدهم: تنظیم اجراآت مقدماتی در قضایای مدنی ...... ۱۸۳
فصل دوازدهم:جریان محاکمه و حضور اشخاص شامل قضیه۱۸۶
فصل سیزدهم: فیصله و حکم محکمه............................. ۱۹۵
فصل چهاردهم: قرار محکمه........................................ ۲۰۰
فصل پانزدهم: اسباب حکم ( وسایل ثبوت) .................... ۲۰۱
**باب سوم: اجراآت در محاکم فوقانی**.......................... ۲۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل اول: شکایات و اعتراض بر فیصله های محاکم تحتانی ۲۲۱
فصل دوم: صورت تقدیم شکایت یا اعتراض ..................... ۲۲۳
فصل سوم: اجراآت مقدماتی محکمه فوقانی ...................... ۲۲۶
فصل چهارم: تدویر جلسهٔ قضائی غرض رسیدگی به شکایت و اعتراض............................................................... ۲۲۸
فصل پنجم: صدور قرار محکمهٔ فوقانی مبنی بر عدم صحت فیصله و نقض آن.............................................. ۲۳۲
فصل ششم:تقدیم شکایت واعتراض بر قرار محکمهٔ تحتانی ۲۳۴
فصل هفتم: صلاحیت های محاکم فوقانی در رسیدگی به شکایات علیه احکام صادرهٔ محکمهٔ تحتانی ................ ۲۳۵
**باب چهارم: اجراآت در دیوان قضایای مدنی وحقوق عامهٔ ستره محکمه** ............................................................. ۲۴۰
فصل اول: رسیدگی ابتدایی قضایا.................................. ۲۴۰
فصل دوم: شرایط فرجام خواهی و اجراآت مربوط به آن...... ۲۴۱
فصل سوم: رسیدگی در مرحله نهایی ................................ ۲۴۴
فصل چهارم: رسیدگی به ا حکام نهایی محاکم تحتانی از نظر قانونیت.......................................................................... ۲۴۵
**باب پنجم:تجدید نظربر فیصله‌هاو قرارهای نهایی درقضایای مدنی و حقوق عامه**................................................................ ۲۶۳
فصل اول: تجدید نظر.................................................... ۲۵۲
فصل دوم: اجراآت مربوط به تجدید نظر ........................... ۲۵۳
**باب ششم: احکام متفرقه** ................................................ ۲۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان جمهوریت
## د جمهور رئیس فرمان

**ګڼه: ۱۳۴۱**
**نېټه: ۱۳۶۸/۹/۱۹**

د افغانستان جمهوریت دمدنی محاکماتو د اصولو د قانون توشېح د افغانستان جمهوریت د اساسی قانون د پنځه اویایمی مادی د دوه یمی فقری د حکم سره سم د افغانستان جمهوریت د مدنی محاکماتو د اصولو قانون چې د اضطرار د حالت د اعلام په هکله د ۱۳۶۷/۱۱/۳۰ نېټی په (۱۴۸۹) ګڼه فرمان کې د ورسپارل شویو دندو پر اساس د وزیرانو د شوري د **۱۳۶۸/۵/۵** نېټی د (۱۸۰) ګڼه مصوبی په ترڅ کې د پنځه سوه شپږو مادو په لرلو سره تصویب شوی دی توشېح کوم.

دا فرمان د وزیرانو د شوري د مصوبی او د افغانستان جمهوریت د مدنی محاکماتو د اصولو د قانون سره یو ځای په رسمی جریده کې د خپریدو له پاره عدلیې وزارت ته دی واستول شی.

**نجیب الله**
**د افغانستان جمهور رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري مصوبه د کابل ښار**

**ګڼه: ۱۸۰**
**نېټه: ۱۳۶۸/۵/۵**

د افغانستان جمهوریت د مدنی محاکماتو د اصولو د قانون په هکله د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شورا د اضطرار حالت د اعلام په باب د جمهور رئیس د ۱۳۶۷/۱۱/۳۰ نېټې په (۱۴۸۹) ګڼه فرمان کې د راسپارل شویو واکونو پر اساس تصویبوی:

۱- د افغانستان جمهوریت د مدنی محاکماتو د اصولو قانون په (۵۰۶) مادو کې منظور دی.

۲- د وزیرانو د شوري مصوبه دی دتوشېح له پاره د جمهوری ریاست مقام ته وړاندی شي.

**سلطانعلی کشتمند**
**د وزیرانو شوري د اجرائیه کمیټی رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د جمهوریت د مدني محاکماتو د اصولو قانون

## لومړی باب

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده:**
دا قانون د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون د یوسلو اتمې مادې د حکم پر بنسټ د افغانستان جمهوریت په محکمو کې د مدني قضیو د قضاوت او د څېړلو د څرنګوالي د اړوندو چارو د تنظیم په خاطر وضع شوی دی.

**دوهمه ماده:**
د دغه قانون بنسټیز هدفونه دا دي:
۱- د اتباعو د حقوقو برابري په پام کې نیول او په مدني قضیو کې د افغانستان جمهوریت د قوانینو د حکمونو تطبیقول.
۲- په قضائي غونډو کې د عادلانه چلند تنظیمول.
۳- د دعوی د دواړو خواوو، شاهدانو او اهل خبری د حقوقو او وجیبو حدود ټاکل.
۴- د شهادت او د قانوني سندونو، قاطعه قرینو، مستنبطه قرینو او د حکم د سببونو د ارزیابي د کړنلارې تنظیمول.
۵- د استیناف غوښتنې، فرجام غوښتنې او د محکمو پرورو ستنیو پریکړو او قرارونو باید د بیا کتنې د اړوندو چارو تنظیمول.
۶- د مدني دعوو د څېړلو چټکوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېيمه ماده:**
د مدني دعوو څېړل د افغانستان جمهوريت د محکمو له واک څخه دي.

**څلورمه ماده:**
پدغه قانون کې لاندني اصطلاحات لاندني معناوي لري:
۱- قاضي: هغه څوک دي چې حکم کوي.
۲- محکوم له: هغه څوک دي چې د هغه په ګټه حکم شوی وي.
۳- محکوم عليه: هغه څوک دي چې پر خلاف يې حکم شوی وي.
۴- محکوم به: هغه شي چې د حکم موضوع وي.
۵- د حکم طريقه : د قرار او پريکړې د صادرولو څرنګوالي او ډول دي.
۶- قضاء: هغه حکم ده چې په ځانګړو الفاظو او کلمو سره په غوڅ او جزم ډول د قاضي په واسطه صادريږي.
۷- حکم: د قاضي قضاوت دی او په داسې الفاظو سره صادريږي چې حکم مې وکړ ته......... د.......... په موضوع ملزم يې او خپل حکم يې د مدعی بها په مستردولو او يا تسليمولو په ډاګه کوي. او يا مې حکم وکړ چې په مدعی بها کې مدعی عليه ته مه مزاحم کيږه.
۸- د الزام قضا: د مدعی بها پر ثبوت باندی حکم دی.
۹- د بالترک قضا: پر نه اثبات باندی حکم دی.
۱۰- استيناف غوښتنه: هغه ده چې محکوم عليه د ښاري، ناحيوی ولسوالي يا د علاقه داری د محکمی پر صادر شوی حکم باندی قناعت ونه کړی او خپل شکايت او اعتراض د ولايت محکمی او يا د لويې ولسوالۍ محکمی ته وړاندی کړی.
۱۱- فرجام غوښتنه: هغه ده چې محکوم عليه د ولايت د محکمی يا د لويی ولسوالی د محکمی پر صادر شوی حکم باندی قناعت ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او خپل شکایت یا اعتراض دستري محکمې اړوند دیوان ته وړاندې کړي.
۱۲- اهل خبره: هغه مسلکي کسان دي چې په ځانګړو ځانګو کې د تخصص، معلوماتو یا د کافي تجربې لرونکي وي.

## دوهم فصل
## دعوی

**پنځمه ماده:**
دعوی د محکمې، په وړاندې له پردې شخه د حق غوښتنه ده.

**شپږمه ماده:**
څوک چې حق غواړي مدعي او هغه څوک چې حق ور څخه غوښتل کیږي مدعی علیه دی.

**اوومه ماده:**
د دعوی دواړو خواوو د قانون د حکمونو سره سم له قانوني اهلیت څخه دې برخمن وي.
د قانوني اهلیت د نقصان یا نشتوالي او غیابت په صورت کې د ولایت، وصایت او قیمومیت حکمونه د تطبیق وړ دي.

**اتمه ماده:**
مدعی بها غوښتل شوی شی دی او په هغو حقوقو کې شامل دی چې د افغانستان جمهوریت قوانین یې اتکل کړې دی او د دعوی موضوع کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه ماده:**

(۱) په هغو مدني قضيو کې چې د دولت حقوق او وجيبې، کلي يا قسمي ګټې يا تاوان مطرح وي د دولت قانوني استازی د مدعی يا مدعی عليه په توګه ځای نيسي.

(۲) د دغې مادې د لومړۍ فقرې د مندرج حکم په منظور د دولت استازی د دولت د قضاياوو اداره ده.

**لسمه ماده:**

په هغو قضيو کې چې د کلي اوسيدونکي په ګډه ډول د ګټې خاوندوی په محکمه کې د مدعی يا مدعی عليه په توګه د هغوی د ځينو کسانو حاضريدل کافي دي لکه څرځای، عامه لار او ورته نور.

**يوولسمه ماده:**

(۱) هغه دعوی چې د مړي د ګټې او تاوان او يا متروکې په اړوند صورت نيسي محکمې ته د خبرلو له پاره د مدعی يا مدعی عليه په توګه د ورثې ديو تن حاضريدل کافي دي.

(۲) د عيني متروکې په دعوی کې، هغه ورثه چې متروکه په حيازت کې يې ده د خصم په توګه ګڼل کيږي.

## دوهم باب
## لومړی فصل
## استدعا

**دوولسمه ماده:**

(۱) د مدني حق استدعا د رسمي عريضې په واسطه غوښتل کيږي.

(۲) حقوقي عريضې محکموته په مستقيم ډول يا د حقوقو د څانګو له لياري محکموته وړاندې کيږي او تر څېړلو لاندې نيول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیارلسمه ماده:**

حقوقي عريضه د لاندنيو مطالبو لرونکې ده:

۱- د مدعي او مدعی علیه نوم د پلار نوم، اصلي او اوسني استوګنځی، دنده، د تذکرې نمبر.

۲- د مدعی بها د اندازې ټاکل او د دعوې لنډ مطلب.

۳- د مدعی بها د جنس، ډول او بيه بيانول په هغه صورت کې چې منقول وي. په هغه صورت کې چې مدعا بها عقاروي د هغې د بيې ډول او ساحې بيانول هم حتمي دي.

۴- د عارض لاسليک يا د ګوتې نښه، په هغه صورت کې چې عارض وکيل، وصي يا قيم وي د وکالت، وصايت او قيموميت د سند د نمرې او نېټې د ده د بشپړې پيژندنې په يادولو سره هرو مرو ده.

۵- د حق د رامنځته کيدو نېټه او د عريضې وړاندې کولو نېټه.

**څوارلسمه ماده:**

په هغه صورت کې چې مدعا بها مشترک او مدعی متعددوي استدعا د يوې عريضې په واسطه صورت نيسي.

**پنځلسمه ماده:**

په مدعا بها کې د دعوې د سبب د يووالي او د مدعی عليه د تعدد په صورت کې استدعا د يوې عريضې په واسطه صورت نيسي.

**شپاړسمه ماده:**

(۱) هغه عريضه چې واکمنې محکمې ته وړاندې کيږي محکمه يې د معروض عليه د حاضريدو نه وروسته څېړي د معروض عليه د قناعت په صورت کې قضائي قرار صادروي او د اجرأ له پاره د حقوقو ادارې ته يې استوي.

(۲) د معروض عليه د انکار په صورت کې محکمه د قانون د حکمونو سره سم رسيده ګي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووه لسمه ماده:**

هغه عریضه چې د حقوقو اداری ته وړاندی کیږی د مدعی علیه یا د دواړو خواوو د نه قناعت په صورت کې محکمی ته سپارل کیږی.

## دوهم فصل
## د دعوي مبادی

**اتلسمه ماده:**

د واکمنی محکمی د تحریراتو څانګه را رسیدلی عریضی اخلی او د محکمی د رئیس له کتلو نه وروسته اړوند دفتر کې یی ثبتوی.

**نولسمه ماده:**

په هغه صورت کې چې محکمه په قضیه کې ځان واکمن ونه بولی د هغی دردولو قرار صادروی.

**شلمه ماده:**

په هغه قضیه کې چې لومړنی اعتراضونه صورت ونیسی محکمه دغه اعتراضات په هغه قضائی غونډه کې چې د محکمی له خوا ټاکل کیږی څیړل کیږی او قضائی تصمیم پری نیول کیږی.

**یو ویشتمه ماده:**

لومړنی اعتراضونه په لاندی ډول دی:

۱- د محکمی له خوا د قضیی د څیړلو د واک نشتوالی.

۲- د مدعی او مدعی علیه د واک او اهلیت نشتوالی.

۳- پر مدعی علیه باندی په عریضه کې د لیکل شوی ادعا نه متوجه کیدل.

۴- د عارض او معروض په منځ کې د مخکینی قضائی حکم صادریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵**- په غیر منقوله مدعا بها کې د مثبته سندونو پر بنسټ د مدعی علیه د ذوا لیدی نشتوالی.

۶- له هغی دعوي سره چې په بله محکمه کې دایره ده د قضیی ارتباط.

۷- په بله محکمه کې د عریضی د مندرجی قضیی دایریدل.

۸- تر مرور زمان لاندی د دعوی کړای شوی قضیی راتلل.

**دوه ویشتمه ماده:**

د دغه قانون د یوویشتمی مادی په مندرجو موردونو کې قضائی هیأت د دواړو خواوو په حضور کې موضوع څیړی قضائی قرار صادروی او دواړو خواوو ته یی اوروی.

**در ویشتمه ماده:**

هغه خوا چې د دغه قانون د (۲۲) مادی پرلیکل شوی قضائی قرار باندی قناعت ونه لری کولای شی د شلو ورځو د مودی په ترڅ کې حاکمی محکمی یا پورتنی محکمی ته خپل اعتراض وړاندی کړی په دغه حالت کې حاکمه محکمه مکلفه ده معترض ته د نیټی په قید کولو سره رسید ورکړی او اعتراض یی په اړوند دفتر کې له ثبتولو نه وروسته پورتنی محکمی ته وسپاری.

**څلیر ویشتمه ماده:**

د معقول عذر نه پرته د صورت دعوي او د دعوي د ځواب د وړاندی کولو موده له پنځلسو ورځو نه نه شی زیاتېدای.

**پنځه ویشتمه ماده:**

د محکمی د تحریراتو څانګه مکلفه ده د صورت دعوی د دعوی د ځواب او ضمیمو له رارسیدونه د رارسیدو د نیټی په قید کولو سره مدعی او مدعی علیه ته دی رسید ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ ویشتمه ماده:**

د محکمې د تحریراتو څانګه د دعوی د رارسیدو نه وروسته د قضائی هیأت په تشخیص د هغه د سموالی په صورت کې د قانون سره سم په محصول پوری اړوند اجراآت سرته رسوی او د محکمې د رئیس په لیکلی امر سره صورت دعوی یی په ټاکلی فورمه کې لیکی او یوه نسخه یی د وخت په ټاکلو سره مدعی علیه ته د ځواب د برابرولو له پاره سپاری. او د دعوی د نه سموالی په صورت کې مدعی د صورت د عوی په تصحیح مکلف کیږی.

**اووه ویشتمه ماده:**

د مدعی علیه د ځواب د برابریدو نه وروسته محکمه د قضیی د څېړلو نېټه دواړو خواووته اوروی.

**اته ویشتمه ماده:**

په بسیطو دعواوو او هغی دعوی کې چې د سملاسی رسیده ګی غوښتونکی وی د استدعا او د دواړو خواوو د شفاهی څرګندونو له مخی رسیده ګی کیږی. بسیطی دعوی د دعوا ګرو د اوضاعو او احوالو او د ژوندا نه د شرایطو له مخی د واکمنی محکمې په تشخیص پوری اړه لری.

**نهه ویشتمه ماده:**

هغه مدعی چې خپلی دعوی په قانونی وخت کې محکمې ته وړاندی نه کړی محکمه دنه خصومت کولو قضائی قرار صادروی او عریضه یی اړوندی مرجع ته مستردوی.

**دېرشمه ماده:**

په هغه صورت کې چې مدعی علیه په قانونی وخت کې خپله لیکلی ځواب محکمې ته وړاندی نه کړی محکمه به د هغه په شفاهی ځواب بسنه وکړی او پر موضوع باندی به قضائی رسیده ګی وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو دیرشمه ماده:**
که مدعی په نهه ویشتمه ماده کې د مندرج قضائی قرار له صادریدو نه وروسته محکمی ته راشی محکمه د موضوع سابقی غوارې او د بلی خوا د حاضریدو نه وروسته پر موضوع باندی رسیده ګی کوی، پدغه حالت کې مدعی د خپلی دعوی په وړاندی بیولو مکلف دی.

**دوه دیرشمه ماده:**
که مدعی دوهم ځل بیا په قانونی وخت کې د دعوی د اقامه کولو له پاره حاضر نه شی او د قانونی عذر له امله محکمی ته خبر ورکړی نه وی محکمه بیا دنه خصومت کولو قرار صادروی.

**دری دیرشمه ماده:**
د دغه قانون په دوه دیرشمه ماده کې لیکل شوی قرار د استیناف غوښتنی د حکمونو تابع دی خو دا چې قانون د هغه پر خلاف حکم کړی وی.

**څلور دیرشمه ماده:**
(۱) هغه محکمه چې په دوه دیرشمه ماده کې لیکل شوی قرار صادر کړی دی خو نوموړی قرار د پورتنی محکمی په واسطه نقض شی مکلفه ده چې د قضیی په څېړلو لاس پوری کړی.
(۲) پورتنی محکمه مکلفه ده د خپل نقض او د لومړی محکمی په واسطه د قضیی د بیا څېړلو په هکله قرار دواړو خواووته واوروی.

**پنځه دیرشمه ماده:**
د محکمی دفتر ته د بیا څېړلو له پاره د قضیی د را رسیدو نه وروسته مدعی مکلف دی د یوی میاشتی په بهیر کې خپله دعوی په اړونده محکمه کې اقامه کړی په هغه صورت کې چې د قانونی عذر نه پرته په ټاکل شوی موده کې خپل دعوی اقامه نه کړی محکمه دنه خصومت کولو قرار صادروی او دغه قرار وروستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ د یرشمه ماده:**

د نکاح په دعوی کې مدعی مکلف دی چې د مؤجه عذر نه لرلو په حالت کې د عریضې د رارسیدو له نېټې څخه د یوې میاشتې په بهیر کې خپله دعوی محکمې ته وړاندې کړي د دغې مودې په تیریدو سره محکمه کولای شي د نه خصومت کولو قرار صادر کړي، مدعی ته یوازې یوه پلا د استیناف غوښتنې حق ورکول کیږي.

که لومړنۍ محکمه دوهم ځل بیا د نه خصومت کولو قرار صادر کړي دغه قرار وروستنی دی.

**اووه د یرشمه ماده:**

محکمه د لاندنیو دفترونو لرونکې ده:

۱- د واردې او صادرې کتاب.

۲- د جزائي دوسیو د اندارج کتاب.

۳- د مدني او تجارتي قضیو د اندراج کتاب.

۴- د عاجلو قضیو دغونډو اجندا.

۵- د عادي قضیو د غونډو اجندا.

۶- د قضائي حکم د پاڼو فورمه.

۷- د قضائي حکم د پاڼو د ثبت فورمه.

۸- د قضائي قرارونو د اصل او ثبت فورمه.

۹- د اوصیاء د محاسبې دفتر.

۱۰- د ولایتونو د محکمو پر نهایي او غیر نهایي حکمونو باندې د شکایتونو او اعتراض د ثبت دفتر.

۱۱- د استیناف غوښتنې د ثبت دفتر.

۱۲- ابلاغ پاڼه.

۱۳- د محصولي سندونو د ثبت کتاب.

۱۴- شهریه (تابلو).

۱۵- د عریضو د ثبت کتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- د محصولی تعرفی دفتر.
۱۷- د حاضری دفتر.
۱۸- د قطعی پریکړو پر تطبیق باندی د څارنی دفتر.
۱۹- د اړتیاوړ نور دفترونه.

**اته دېرشمه ماده:**
د محکمو د دفترونو او کتابونو شمیر او ډول د هری محکمی د کارد ځانګړی توب له مخی سره توپیر لری او محکمو هر یو د خپل کار د ځانګړتیا سره سم د دغه قانون د اووه دېرشمی مادی له مندرجو دفترونو څخه استفاده کوی.

**نهه دېرشمه ماده:**
د محکمو د اداری کارمندانو نور مکلفیتونه د دغه قانون د حکمونو د په نظر کې نیولو سره د هغی ځانګړی لایحی په واسطه چې د ستری محکمی عالی شوری یې تصویبوی تنظیمېږی.

## دریم فصل
## په محکمو کې د مدنی قضیو د څېړلو بهیر

**څلویښتمه ماده:**
د افغانستان جمهوریت په محکمو کې د ټولو مدنی دعواوو څېړل په ښکاره ډول دی. پرته له هغو حالتونو څخه چې ښکاره څېړنه عامه نظم ګډوډ کړی او یا د اشخاصو د ژوند د پټو اسرارو د افشا کېدو سبب شی.

**یو څلویښتمه ماده:**
ښکاره غونډی په رسمی ورځو کې دایرېږی او مینه والو ته د ننوتلو اجازه ورکول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه څلوېښتمه ماده:**

په ټولو حالتونو کې به د محکمې د حکم ابلاغ علني وي.

**درې څلوېښتمه ماده:**

پټې غونډې په قضيه کې د شاملو کسانو او د هغوی د قانوني ممثل په حضور دايرېږي او د لزوم په صورت کې شاهدان، اهل خبره او ژباړونکي ګډون کوي.

**څلور څلوېښتمه ماده:**

چا چې پنځلس کلنۍ سن پوره کړی نه وي او په قضيه کې ګډون و نه لري په قضائي غونډو کې ګډون کولای نه شي.

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

د محکمې د تحريراتو څانګه مکلفه ده د غونډې د دايريدو نه د مخه مدعي او مدعی عليه يا د هغوی قانوني ممثل، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکي په ټاکل شويو ځايونو کې کينوي.

**شپږ څلوېښتمه ماده:**

قضائي هيأت هغه وخت د غونډې خونې ته راننوزي چې د غونډې د دابرېدو وخت رسيدلی وي او په پنځه څلوېښتمه ماده کې ليکل شوی کسان حاضر شوي وي.

**اووه څلوېښتمه ماده:**

د غونډې خونې ته د قضائي هيأت د راننوتلو په وخت کې ټول حاضر شوي کسان پورته کيږي او کوم وخت چې قضات خپل ځايونه نيسي په خپل ځای کيني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اته څلوېښتمه ماده:**

د قضائي غونډې رئيس د غونډې رسميت د لوی او دادګر خدای په نامه پرانيزي، د قضائي هيأت جوړښت، څارنوال، اهل خبره، ژباړونکي او د غونډې منشي حاضرينوته ورپيژني.

**نهه څلوېښتمه ماده:**

د قضائي غونډې رئيس د قضيې او غونډې د شاملو کسانو حقوق، وجيبې او مکلفيتونه توضيح کوي او د قضائي غونډې او منشي ته د غونډې د اجندا د لوستلو دستور صادروي او د مدعي، مدعی عليه او يا د هغوی د قانوني ممثل په پيژندلو سره د قضيې څېړلو ته پيل کوي.

**پنځوسمه ماده:**

د غونډې رئيس د قضيې د څېړلو په وخت کې لومړی مدعي يا د هغه قانوني ممثل ته او وروسته مدعی عليه او يا د هغه قانوني ممثل ته وخت ورکوي چې خپله دعوی او دفاع ولولي.

**يو پنځوسمه ماده:**

د دعوی دواړو خواوو په پوره آزادي خپلې غوښتنې لولي او څرګندوني کوي د يوی خوا د وينا د پای ته رسيدو نه د مخه بله خوا حق نه لري د مقابل خوا وينا پرې کړي.

**دوه پنځوسمه ماده:**

د مدعي، مدعی عليه او نورو اړوندو کسانو څخه استيضاح د غونډې د رئيس په واک کې ده که د محاکمې په بهير کې ځينې مطالب د غونډې د قضائي غړيو سره د استيضاح وړ وي د غونډې د رئيس په اجازه له دواړو خواوو څخه پوښتل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری پنځوسمه ماده:**

د غونډی منشی مکلف دی، د دعوی، مدافعاتو، د شاهدانو د شهادت او د اهل خبره په څرګندونو پوری مربوط د محاکمی ټول بهیر بی له کموالی څخه د غونډی په محضر کې قید کړی او د هغه په پای کې د رئیس او اړوندو کسانو لاسلیک تر لاسه کړی.

**څلور پنځوسمه ماده:**

د قضائی غونډی لارښوونه او سمون د غونډی د رئیس په واک کې دی.

**پنځه پنځوسمه ماده:**

په قضیه کې شامل کسان، د دعوی د دواړو خواوو قانونی ممثل، شاهدان، اهل خبره، ژباړونکی او په قضائی غونډه کې نور شامل کسان د غونډی د نظم په رعایت کولو او د غونډی د رئیس له امرونو څخه په اطاعت کولو مکلف دی.

**شپږ پنځوسمه ماده:**

مدعی، مدعی علیه او یا د هغوی قانونی ممثل، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکی مکلف دی د څرګندونو او د مطلبونو د توضیح کولو په وخت کې په پښو ودریږی خو دا چې د غونډی رئیس هغو ته د کښیناستلو اجازه ورکړی.

**اووه پنځوسمه ماده:**

څوک چې د غونډی نظم ګډوډ کوی، د غونډی رئیس ورته اخطار ورکوی او د سرغړولو په صورت کې رئیس کولای شی اخلال کوونکی سړی د غونډی له خونی څخه وشړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اته پنځوسمه ماده:**

که د غونډې د نظم اخلال کوونکی مدعی، مدعی علیه، یا د هغوی قانونی ممثل وی د بیا تخلف کولو په صورت کې محکمه کولای شی اخلال کوونکی په نغدی جزاء چې له دری زره افغانیو ځخه زیاته نه وی یا تر یوی اونی پوری په بند محکوم کړی.

**نهه پنځوسمه ماده:**

که اخلال کوونکی مدنی څارنوال وی محکمه د قضائی قرار په صادرولو سره د هغه په بدلولو لاس پوری کوی.

**شپیتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې اخلال کوونکی مدافع وکیل وی محکمه هغه د قانون د حکمونو سره سم تأدیب کوی.

**یو شپیتمه ماده:**

که څوک په قضائی غونډه کې د قباحت یا د جنحی د جرم مرتکب شی د محکمی له خوا د قانون د حکمونو سره سم مجازات کیږی.

**دوه شپیتمه ماده:**

محکمه د دغه قانون له اته پنځوسمی ځخه تر شپیتمی مادو پوری مندرج مجازات په واجب التعمیل قضائی حکم کې ټاکی او دا حکم د استیناف وړ نه دی.

**دری شپیتمه ماده:**

د دغه قانون له اته پنځوسمی ځخه تر شپیتمی مادو پوری په مندرجو حالتونو کې محکمه کولای شی د غونډې د پای ته رسیدو نه د مخه صادر شوی حکم لغو کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور شپیتمه ماده:**

که محکمه د جنحي په جرم کې په هماغه قضائی غونډه کې تورن په جزأ محکوم نه کړي او یا ارتکاب شوی جرم جنایت وی محکمه مکلفه ده د پیښنی محضر جوړ کړي او د تورن د نیولو امر صادر کړي او موضوع اړوندی څارنوالی ته احاله کړی. په دغه مورد کې د حکم صدور په نږدی ګاونډی محکمه کې صورت نیسی.

## څلورم فصل
## د قاضی ډډه کول او ردول

**پنځه شپیتمه ماده:**

د محکمی رئیس او هر یو غړی په لاندنیو حالتونو کې د محکمی په جوړښت کې له ګډون کولو او د مدنی دعوی له څېړلو څخه ډډه کوی:

۱- په هغه صورت کې چې د ترڅېړلو لاندی په قضیه کې ذینفع وی او یا دعوی په اصول او فروع، میره، میرمن او یا د هغوی په خپلوانو پوری اړه ولری.

د دی منظور له پاره خپلوان عبارت دی له ورور، وراره، خور، خورزه، تره، عمه، خاله، ماما، خسر او خواښی څخه.

۲- په هغه صورت کې چې په محکمه کې د طرح شوی قضیی په اړوندو سندونو کې کوم سند لیکلی وی یا لاسلیک کړي وی یا د دعوی په موضوع کې پخوا د څارنوال، حکم، اهل خبری یا شاهد په توګه د عقیدی اظهار کړی وی.

۳- په هغه صورت کې چې د رئیس یا د محکمی د غړیو یا د قضیی د دواړو خواوو د یو تن په منځ کې دعوی وی.

۴- په هغه صورت کې چې د دعوی د یوی خوا او د رئیس یا د محکمی د غړیو د یو تن تر منځ مخکینی خصومت موجود وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ شپیتمه ماده:**

هغه قاضیان چې د دغه قانون د پنځه شپیتمی مادی د لومړی فقری د مندرج حکم سره سم یو بل سره خپلوی لری د مدنی قضیی د څېړلو د محاکمی په جوړښت کې نه شی شاملیدای.

**اووه شپیتمه ماده:**

قاضی کولای شی د دغه قانون په پنځه شپیتمه او شپږ شپیتمه مادوکی د مندرجو حالتونو څخه بهر د بل سبب د رامنځته کیدو په صورت کې د دعوی په څېړلو کې له ګډون څخه ډډه وکړی.

**اته شپیتمه ماده:**

په لاندنیو حالتونو کې د قضیی په وروستی رسیده ګی کې د رئیس او د محکمی د غړیو ګډون مجاز نه دی:

۱- د قضیی په لومړنی څېړنه کې د ګډون په صورت کې.

۲- د ستری محکمی په دیوانونو د قضیی په څېړلو کې د ګډون په صورت کې.

**نهه شپیتمه ماده:**

د دغه قانون په اووه شپیتمه او اته شپیتمه مادو کې د مندرجو حالتونو د شته والی په صورت کې قاضی مکلف دی په قضیه کې د خپل ډډه کولو موضوع محکمی ته وړاندی کړی.

**او یایمه ماده:**

د دعوی دواړه خواوی کولای شی د دغه قانون په اووه شپیتمه او اته شپیتمه مادو کې یو د مندرجو حالتونو د شته والی په صورت کې د موضوع له څېړلو څخه د قاضی درد غوښتنه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو اویایمه ماده:**

د قاضی درد غوښتنه د درېیو ورځو په بهیر کې د موضوع د څېړلو د پیل نه د مخه په لیکلی او مستند ډول محکمی ته وړاندی کیږی.

**دوه اویایمه ماده:**

۱- د محکمـی قـضائی هیـأت د قـضائی غونـډی پـه تـرخ کـې درد اسباب او دلایل وڅېړی د منلو او نه منلو په باب یی د رأیو په اکثریت تصمیم نیسی او قرار صادروی.

۲- د رأیو د برابری په صورت کې د قاضی رد کېدو ته ترجیح ورکول کیږی.

**دری اویایمه ماده:**

په هغه صورت کې چې په لومړنی محکمه کې یو تـن قاضی وی د رد غوښتنه پورتنی محکمی ته وړاندی کیږی او درد د منلو په حال کی، بل یو قاضی ته د قضیی د څېړلو دنده ورکول کیږی.

**څلور اویایمه ماده:**

که درد غوښتنه د لومړنی محکمی قضائی ټول هیـأت تـه متوجه وی درد د منلو پـه صـورت کـې د پـورتنی محکمـی لـه خـوا د څېړلـو او د حکم د صادرولو په خاطر بل قضائی هیأت ټاکل کیږی.

**پنځه اویایمه ماده:**

کـه درد اسـباب د ولایـت د محکمـی د ریاسـت یـا د هغـی د معـادلی محکمی یو د دیوانونو قضائی هیأت ته متوجه وی د محکمـی رئـیس د یو بل قاضی په ګډون درد دمنلو یا نه منلو په هکله تصمیم نیسی.

پـه هغـه صـورت کـې چـې درد اسـباب د ولایـت د محکمـی د هغـی د انـډول محکمـی رئـیس یـا د سـتری محکمـی غړیـو تـه متوجـه وی د ستری محکمی عالی شوری په دی هکله تصمیم نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ اويايمه ماده:**

کوم وخت چې د قاضي درد موضوع مطرح وي د دعوی د اصل څېړنه معطل کیږي.

**اووه اويايمه ماده:**

که د قاضي دردولو موردو نه ثابت نه شي هغه محکمه چې د رد په نه ثابتيدو تصميم نيسي سوء نيت لرونکی د رد غوښتونکی (مدعی، مدعی عليه) تر دری زره افغانيو پوری په نغدی جزاء محکوموی.

**اته اويايمه ماده:**

هغه قرارونه چې د محکمی له خوا د رد په باب صادريږي وروستني دي.

## پنځم فصل
## په مدني قضيو کې د څېړنې واک

**نهه اويايمه ماده:**

مدني دعوی په لومړی پړاو کې د ښاري، ناحيې، ولسوالی يا علاقداری د محکمی په واسطه يوی خوا ته کیږي پرته له هغو حالتونو څخه چې قانون بل ډول تصريح کړی وي.

**اتيايمه ماده:**

محکمه د هغو دعواوو په څېړلو لاس پوری کوی چې د حقوقی يا حکمی شخصيتونو له خوا د پريکړی غوښتنه يې شوی وي.

**يو اتيايمه ماده:**

(۱) مدنی دعوی د مدعی عليه د استوګنی په سيمه کې يوی خوا ته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که مدعی علیه د استوګنی ځو ځایونه ولری د ده پر خلاف مدنی دعوی په هغه محکمه کې څېړل کیږی چې مدعی علیه د استدعا په وخت کې د هغی په قضائی ونډ کې استوګنه ولری.

**دوه اتیایمه ماده:**

په هغه صورت کې چې میړو ښه ښځه مدعی علیه وی د دعوی څېړل د هغه د میړه د استوګنی د سیمی د محکمی په واک کې ده.

**دری اتیایمه ماده:**

په هغه صورت کې چې نجلی د واده سن ته رسیدلی یا د مدعی علیه د بشپړ حقوقی اهلیت څخه برخمن وی د دعوی څېړل د ده د پلار او یا د هغو شرعی محارمو د استوګنځی د محکمی له واک څخه ده چې د هغه د اعاشی او پالنی متکفل دی.

**څلور اتیایمه ماده:**

که اهلیت نه لرونکی او یا د نیمګړی اهلیت خاوند مدعی علیه وی د دعوی څېړل د ولی، وصی یا قیم د استوګنځی د محکمی له واک څخه دی.

**پنځه اتیایمه ماده:**

د محجور، مفقود او غایب استوګنځی د دوی د قانونی قایم مقام استوګنځی دی.

**شپږ اتیایمه ماده:**

که د دولت کارکوونکی یا د وسله وال پوځ منسوب کسان په مدنی قضیو کې مدعی علیه وی د دعوی څېړل د هغوی د کار ځای د محکمی له واک څخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووه اتیایمه ماده:**

د مسافر یا کډوال دعوی په هغه صورت کې چې مدعی او مدعی علیه وی په هغه ښاری، ناحیوی، ولسوالی یا د علاقه داری په محکمه کې دایریږی چې دواړه خواوو د هغی محکمی د رسیدګی واک قبول کړی.

**اته اتیایمه ماده:**

که د دعوی د دواړو خواوو یو تن د محکمی پر واک باندی اعتراض ولری چې نوموړی دعوی څېړی باید خپل اعتراض د دعوی د دایریدو نه د مخه همغی محکمی ته وړاندی کړی پر ته له دی د محکمی واک قبول کړای شوی ګڼل کیږی.

**نهه اتیایمه ماده:**

که مدعی علیه د مدعی د استوګنی په سیمه کې کم ترکمه یو کال اوسیدلی وی واکمنه محکمه د مدعی د استوګنځی محکمه ده.

**نوی یمه ماده:**

د هغه سوداګر یا کسبګر د مدنی معاملو د څېړلو له پاره چې مدعی علیه وی واکمنه محکمه یی د سودا ګری یا کسبګری د ځای محکمه او یا د هغه د اصلی استوګنځی محکمه ده.

**یو نوی یمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د یوی ټاکلی قانونی معاملی د سرته رسولو له پاره کوم استوګنځی غوره کیږی له معاملی څخه د راپیدا شوی دعوی د څېړلو له پاره واکمنه محکمه د غوره شوی استوګنځی محکمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه نوي يمه ماده:**

د ويش يا ترکې د دعوې څېړل د هغه ښارې، ناحيوې، ولسوالۍ يا د علاقه دارې د محکمې له واک څخه ده چې د ويش يا ترکې وړ عين د هغه په ونډ کې وي.

په بيلابيلو قضائې حوزو کې د عين د شته والي په صورت کې د څېړلو واک د هغې محکمې څخه دی چې د عين زياتره برخه پکې ده.

**درې نوي يمه ماده:**

په يوه محکمه کې د دايريدو نه وروسته د دعوې ليږدول او په بله محکمه کې په ځانګړې فورمه کې يې ليکل جوازنه لري، د قاضي له خوا د ډډه کولو د غوښتنې يا د مدعی عليه له خوا د هغه درد کيدو په صورت کې په هماغه محکمه کې بل قضائي هيأت ټاکل کيږي او دعوی څېړي.

**څلور نوي يمه ماده:**

که د محکمې حوزه وي يا موضوعي واک د نوي قانون په نافذيدو سره بدلون ومومي د قضيې څېړل د هغې محکمې له واک څخه دي چې دعوی پکې دايره ده.

**پنځه نوي يمه ماده:**

په افغانستان کې په استوګن بهرنيو اتباعو پورې مربوط د مدني قضيو د دعوې څېړل د افغانستان جمهوريت د محکمو له واک څخه دي.

**شپږ نوي يمه ماده:**

د هغه بهرني تبعې پر دعوې باندې رسيده ګي چې په افغانستان کې استوګنځی ونه لري په لاندنيو حالتونو کې د افغانستان جمهوريت په محکمو پورې اړه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په هغه صورت کې چې بهرني سړی د افغانستان په جمهوریت کې په خپله اختیاري استوګنځی ولري.
۲- په هغه صورت کې چې د عقد موضوع یا د تنفیذ ځای یې د افغانستان په جمهوریت کې وي.
۳- په هغه صورت کې چې د ترکې په غوښتنې پورې مربوط دعوی د افغانستان په جمهوریت کې پېل شوې وي.
۴- په هغه صورت کې چې د متروکې ټول مالونه او یا یوه برخه یې د افغانستان په جمهوریت کې وي.

**اووه نوی یمه ماده:**

د میړه د نشتوالي یا مفقودي له امله د تفریق دعوی د څېړلو واک د مدعی د استوګنځی د محکمې څخه ده.

**اته نوی یمه ماده:**

د بندي میړه پر خلاف د بند په سبب د تفریق د دعوی د څېړلو واک د قانون د حکمونو سره سم د میړه د بند ځای د محکمې له واک څخه دی.

**نهه نوی یمه ماده:**

د هغه میړه پرخلاف چې په افغانستان کې د استوګنې او یا اوسیدنې ځای لري، مدعی علیه د ضرر د اسبابو له تحقق نه وروسته خپله میرمن یې پرې ایښې او بهرته تښتیدلی وي د ضرر له امله د دعوی اقامه کول د میرمنې د استوګنځی په محکمه کې صورت نیسي.

**سلمه ماده:**

د هغه چا پر خلاف د دعوی د اقامه کولو له پاره واکمنه محکمه چې بیله قانوني مجوز څخه افغانستان یې پرې ایښې وي په لاندنیو حالتونو کې د مدعی د استوګنځی محکمه ده:
۱- د میرمنې، اصول او فروع د نفقې دعوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د نسب د ثابتولو دعوی.
۳- د ولایت د سلبولو دعوی.
۴- د وصایت او قیمومیت د سلبولو دعوی.

## شپږم فصل
## د کورنۍ په قضیو پوری اجراآت

**یو سلو یوومه ماده:**

لاندنی موضوعات د کورنۍ په قضیو کې شامل دی:
۱- واده اوله هغه څخه راپیداشوی حقوق.
۲- د زوجیت له معاشرت څخه راپیدا شوی حقوق.
۳-د زوجیت له اړیکی څخه راپیدا شوی مالی شخړې.
۴-په نسب پوری مربوطی دعوی.
۵-د ماشوم په حضانت او نفقی پوری مربوطی مسئلی.
۶- د واده ړنګیدل په هر علت چې وی.
۷- په غایب او ورک میړه پوری مربوطی مسئلی.
۸- نور هغه موضوعات چې د قانون د حکمونو سره سم د کورنی قضیو څخه وګڼل شی.

**یو سلو دوهمه ماده:**

(۱)محکمی ته د محول کیدو په صورت کې دکوژدی له دعوی څخه انصراف په قضائی قرار کې څرګند کیږی.
(۲) د کوژدی له دعوی څخه د انصراف په هکله د محکمی قرار وروستی دی د پورتنی محکمی د څېړلو وړنه دی.

**یو سلو دریيمه ماده:**

دسوغاتونو مستردول دقانون دحکمونو سره سم یوازی له نامزدڅخه غوښتل کیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو سلو څلورمه ماده:**

(۱) محکمه دنکاح ددعوی ددوران ورکولو نه دمخه دعقد پر شهرت باندی خپل ډاډتر لاسه کوی.

(۲) دنکاح دعقد دشهرت په باب دعقد په غونډه کې حاضر شویو کسانو څخه معلومات صورت نیسی.

**یوسلو پنځمه ماده:**

دنکاح ددعوی ددوران یاددعوی دردکېدوپه هکله دمعلوماتودلاس ته راوړلونه وروسته دمحکمی اجراآت اوڅېړنی په قضائی قرار کې عملی کیږی او داقرار وروستی دی.

**یوسلو شپږمه ماده:**

(۱) که د نکاح د دعوی د څېړلو په وخت کې د مدعی علیه د استوګنځی په باب توپیر منځته راشی، محکمه د مدعی علیها د استوګنځی د ټاکلو په باب د دواړو خواوو د ښیګڼو د په نظر کې نیولو سره تجویزنیسی.

(۲)دمحکمی په تجویزکی دښځی داستوګنځی د ټاکلو په هکله دپلار، نیکه، ورور او په ترتیب سره دښځی دشرعی محارمو استوګنځی اودخیریه مؤسسو موقعیت شامل دی.

(۳)محکمه کولای شی ددواړوخواوو دښیګڼوپه مطالعه کولوسره یو دنوموړیو ځایونوپه ټاکلوسره تصمیم نیسی.

**یوسلو اوومه ماده:**

که ښځه ددغه قانون دیوسلو شپږمی مادی ددوه یمی فقری دمندرجو ځایونو په یوه کې استوګنه ولری دمربوطی دعوی یوی خوا ته کول دعاجل اجندا تابع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اتمه ماده:**

دعقدپه وخت کې دواده داهلیت دنه بشپړولو له امله د منکوحی د نکاح پر فسخ باندی ددعوی اقامه کول د اووه لس کلنۍ دسن له بشپړولو نه وروسته جواز نه لری.

**یوسلو نهمه ماده:**

دواده داهلیت تثبیت ددې باب لسم فصل دمندرجو حکمونو سره سم صورت نیسی.

**یوسلو لسمه ماده:**

که دضررله امله دتفریق په دعوی کې ادعاشوی ضررمؤجه نه وی او محکمی سره دمیرمن اومیړه ترمنځ دکړکیچ او اختلاف ویره موجوده شی محکمه دوه تنه عادل کسان یو دمیړه دخپلوانوڅخه اوبل یو دمیرمنی دخپلوانو څخه دهغوی داصلاح کولوله پاره دحکم په توګه ټاکی.

**یوسلو یوو لسمه ماده:**

دضررله امله د تفریق په دعوی کې حکم له دوه ځلی څخه زیات نه شی ټاکل کېدای.

**یوسلو دوولسمه ماده:**

محکمه د حکمونو په واسطه د راټول شویو دلیلونو پر بنسټ خپل حکم په مؤجه ډول صادروی.

**یوسلو دیارلسمه ماده:**

دضرر له امله د تفریق په دعواووکی دلوړی توجیه کول صورت نه نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو څوارلسمه ماده:**

که دمیړه عیب دیو کال په بهیر کې لیری نه شی محکمه دمدني قانون دیوسلو نهه اویایمی مادی دحکم دپه نظر کې نیولو سره دمیړه او میرمنی تر منځ په تفریق حکم کوی.

**یوسلو پنځلسمه ماده:**

دغیابت له امله دتفریق په دعوی کې په هغه صورت کې چې میړه معلوم او ټاکلی استوګنځی ولری محکمه دا موضوع په لیکلی ډول غایب میړه ته اعلاموی. دمیرمنی استوګنځی ته دراستنیدو او یا خپل استوګنځی ته دهغی دراغوښتلو په خاطر میړه ته موده ټاکی.

**یوسلو شپاړسمه ماده:**

په هغه صورت کې چې غایب میړه دمحکمی داعلام دوررسیدو اوډټاکلی مودی دتېریدو سره سره خپل غیابت ته دوام ورکړی محکمه غایب له پاره دوکیل په ټاکلو سره موضوع څېړی.

**یوسلو اووه لسمه ماده:**

که غایب میړه معلوم او ټاکلی استوګنځی ونه لری او یا غایبه میړه ته د لیکلی اعلام دور رسیدو امکان نه وی موضوع د حاضریدو د مودی په ټاکلو سره د راډیو له لاری خپریږی د دغه منظور له پاره موده د اعلان د نېټی نه له یوی میاشتې څخه کمه نه شی اوسیدای.

**یوسلو اتلسمه ماده:**

په هغه صورت کې چې غایب میړه د راډیودخبرتیا سره سره دقانونی عذر له وړاندی کولو نه پرته په ټاکلی موده کې حاضرنه شی محکمه دمسخر وکیل دټاکلو نه وروسته موضوع څېړی او دمیړه اومیرمنی تر منځ په تفریق حکم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو نولسمه ماده:**
دهغه ورک میړه پر خلاف دواده دړنګیدودعوی چې ژوند او مړینه یې معلومه نه وی دمدنی قانون ددری سوه شپږ ویشتمی مادی دحکم دپه نظرکی نیولو سره دځلورو کالو دمودی له تیریدو نه دمخه جواز نه لری.

**یوسلو شلمه ماده:**
دحکم دټاکلواو په هغه پوری دمربوطو مسئلو په هکله او دعیب، ضرر، نفقه نه ورکولو اودمیړه دنشتوالی له امله دتفریق ددعواوو په ردولوکی دمدنی قانون حکمونه هم په پام کې نیسی.

## اووم فصل
## د عامه حقوقو د قضیو څیړل

**یوسلو یو ویشتمه ماده:**
دعامه حقوقو،په دعواوپوری مربوطی عریضی په مستقیمه توګه دکابل ښاری محکمی، دولایتونو یا لویی ولسوالۍ محکمو ته وړاندی کیږی او په موضوع کې په لاندی ډول اجراآت کیږی:
۱-ددولت دقضایاوو اداری ته دعریضی دمحتویاتو لیکلی ابلاغ.
۲- دقضیی دسوابقوراغوښتل ددولت دقضایاوو داستازی او دحکمی شخصیتونو دقانونی ممثل دنیتی په ټاکلوسره حاضریدل.
۳-په لومړنی غونډه کې دقضیی ددواړوخواوو دځرګندونو اودفاع اوریدل.

**یوسلو دوه ویشتمه ماده:**
که دځرګندونواودفاع له اوریدو نه وروسته محکمه د دواړه خواوو د دلایلو د ارزیابی په نتیجه کې پوه شی چې د شخړی هوارول د څیړلو غوښتونکی ده خپل قرار د دعوی د دوران په هکله صادروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو دروېشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې محکمه په لومړنی غونډه کې ودی نتیجی ته ورسیږی چې شخړه اصلاً دمحکمی دخېړلو غوښتونکی نه ده خپل قرار ددعوی دنه دوران په هکله صادروی.

**یوسلو څلیر وېشتمه ماده:**

ددغه قانون په یوسلودوه ویشتمه ماده کې لیکل شوی قرار قطعی نه دی دقضیی دیوی خوادشکایت یاددولت دقضایاوواستازی داعتراض له امله دستری محکمی په اړوند دیوان کې دبیاخېړلو وړده.

**یوسلو پنځه ویشتمه ماده:**

که په هغه قضیه کې چې ددولت دقضایاوو اداری ته رسیږی دمقابلی خوا قناعت دمحکمی له څېړلو نه پرته تر لاسه نه شی ددولت دقضایاوو اداره دا قضیه اړوندی محکمی ته د هوارولو له پاره استوی.

**یوسلو شپږ ویشتمه ماده:**

دهغوموضوعاتو په هکله چې ددولت دقضایاوو د اداری له خوا محکمی ته استول کیږی. ددې قانون د(۱۲۲او۱۲۳)مادو دمندرجو حکمونو په پام کې نیول هرو مرو دی.

**یوسلو اووه ویشتمه ماده:**

محکمه دعامه حقوقو په دعوی کې داثباتیه مدارکو لکه دسندونواو شاهدانو پراساس خپل حکم صادروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم فصل
## خبرتیا،جلب،احضار

**یوسلو اته ویشتمه ماده:**
محکمه ددعوی اړخ په مستقیمه توګه خبر وی اویا دارونـدو مراجعـو په واسطه جلبوی.

**یوسلو نهه ویشتمه ماده:**
محکمه کولای شی داهل خبری او دربیم ګړی شخص چې څرګندونی یی د قضیی په روښانه کیدو باندی اغیزمن وی دحاضرید و غوښتنه وکړی.

**یوسلو دېرشمه ماده:**
که ددوارو خواوو څخه یو یی محکمی تـه پـه ټاکلی ورځ حاضـرنه شـی دمحکمی له خوا جلبیږی.

**یوسلو یو دېرشمه ماده:**
دجلب فورمه په یواصل اودوه کاپیوکی جوړیږی اولانـدنی مراتـب بـه پکی وی:
۱-دمحکمی نوم او پته.
۲-ددعوی داړخ شـهرت او پته.
۳-دحاضریدو نیټه او وخت یی.
۴-دموضوع معرفی.
۵- مجلوب تـه د موضـوع د مربوطـو سـندونو د برابرولـو او وړانـدی کولو په باب یادونی.
۶- د نه حاضریدو له عواقبو څخه اخطار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو دوه د پرشمه ماده:**
محکمه کولای شي د تیلفون او تیلگراف په شمول د هرې ممکنې وسیلې له لارې د دعوې د دواړو خواوو، شاهدانو او اهل خبرې د حاضریدو غوښتنه وکړي.

**یوسلو درې د پرشمه ماده:**
د محکمې د جلب فورمه، د رسمي مکتوب په واسطه د جلب او احضار څانگې ته صادریږي.

**یوسلو څلور د پرشمه ماده:**
د جلب او احضار څانگه مکلفه ده د جلب فورمه اړوند سړي او یا د هغه قانوني ممثل ته ورسوي په دوهم کاپي کې یې د هغه استحضاري او لاسلیک واخلي او محکمې ته دې واستوي.

**یوسلو پنځه د پرشمه ماده:**
که مجلوب سوادو نه لري د گوتې نښه یې په فني او خوانا ډول دې پر پاڼه ولگول شي.

**یوسلو شپږ د پرشمه ماده:**
که مجلوب له لاسلیک یا د گوتې له لگولو څخه ډډه وکړي کیفیت یې په فورمه کې لیکل کیږي او یو د لاندې کسانو لاسلیک پکې نیول کیږي:
۱- د استوگنځی د شوري د مسئول یا د دوو تنو گاونډیو یا د هماغه ځای د اوسیدونکو لاسلیک.
۲- د جلب د اداري د آمر لاس لیک او په هغه صورت کې چې ډډه کوونکی د دولت د اداري یا مؤسسو کارکوونکی وي د اړوندې اداري د آمر تصدیق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اووه دېرشمه ماده:**

د جلب او احضار مراجع د یوسلو شپږ دېرشمی مادی د مندرجو مراتبو د پای ته رسولو د په پام کې نیولو سره فورمه د رسمی مکتوب په واسطه محکمی ته اعادهٔ کوی.

**یوسلو اته دېرشمه ماده:**

که مجلوب د دولتی ادارو، مؤسسو یا تصدیو کارکوونکی وی د جلب فورمه د هغه اړوندی اداری ته هم استول کېدای شی.

**یوسلو نهه دېرشمه ماده:**

که د معاذیرو له امله د مجلوب میندل په مؤقتی ډول وځنډیږی اړوند مراجع مکلف دی مطالب یی په رسمی ډول د محکمی په خبرتیا ورسوی د خنډونو د لیری کېدو نه وروسته د جلب د فورمی د پړاوونو په تېرولو لاس پوری کړی.

**یوسلو څلوېښتمه ماده:**

که مجلوب تښتیدلی، غایب یا ورک وی تحقیقاتی سندونه یی بشپړیږی او کېفیت یی د جلب په فورمه کې لیکل کیږی او محکمی ته استول کیږی.

**یوسلو یو څلوېښتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې مجلوب د وسله وا ل پوځ په خدمت کې شامل وی د جلب فورمه هغه ته د اړوندی قطعی له لاری اورول کیږی.

**یوسلو دوه څلویشتمه ماده:**

که د جلب په فورمه کې په دغه قانون کې مندرج مراتب په پام کې نیول شوی نه وی فورمه د محکمی له خوا اړوندو مراجعو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړولو له پاره اعادۀ کیږي او د جلب مراجع د فورمې د پراوونو په بشپړولو مکلف دي.

**یوسلو دري څلویښتمه ماده:**

که مجلوب محکمې ته حاضر شي او په راتلونکو غونډو کې هم د هغه وروستني راتګ ضروري وي د راتلونکې غونډې نېټه د هغه د استحضاري له پاره ورته ابلاغ کیږي او جریان یې په اړوند دفتر کې ثبت کیږي.

**یوسلو څلور څلویښتمه ماده:**

که د دعوي د اړخ د ګوښه کېدو یا تیښتې خوف متصور وي محکمه کولای شي دی د حاضریدو د ضمانت په ورکولو مکلف کړي.

**یوسلو پنځه څلویښتمه ماده:**

که مجلوب د جلب په فورمه کې د جلب او احضار د مراجعو له استحضاري یا په محکمه کې د استحضاري نه وروسته محکمې ته د بیا حاضریدو نه ډډه وکړي، محکمه په دوه یم یا دریم ځل د هغه په جلبولو لاس پورې کوي.

**یوسلو شپږ څلویښتمه ماده:**

که مجلوب د دې قانون د یوسلو پنځه څلویښتمې مادې د مندرجو حکمونو د تطبیق سره سره بیا هم محکمې ته حاضر نه شي یا د دغه قانون د یوسلو څلویښتمې مادې سره سم تښتیدلی، غایب یا ورک وګڼل شي د هغه د حاضریدو غوښتنه د هغې مودې په اوږدو کې چې محکمه یې ټاکي د وروستي ځل له پاره د راډیو یا د اعتبار وړ کثیرالانتشاره ورځپاڼې له لارې عملي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اووه څلوېښتمه ماده:**
په هغه صورت کې چې مجلوب د باوري عذر نه پرته په ټاکلې موده کې محکمې ته له حاضریدو څخه ډډه وکړي محکمه د هغه په هکله غیابي حکمونه تطبیقوي.

**یوسلو اته څلوېښتمه ماده:**
محکمه د اجندا د نېټې سره سم د دعوې د دواړو خواوو جلب او احضار ته لاس پورې کوي. مستعجله دعواوې له دې حکم څخه جلا دي.

**یوسلو نهه څلوېښتمه ماده:**
د مجلوب د حاضریدو د مودې ټاکنه د هغه د استوګنځي دواټن او په لیږدوونکو وسیلو پورې مربوط د امکاناتو له مخې د محکمې له واک څخه ده.

**یوسلو پنځوسمه ماده:**
د جلب او احضار د مراجعو له خوا په دغه فصل کې د جلب او احضار د مندرجو حکمونو له په پام کې نیولو څخه هر ډول اهمال د محکمې له خوا د دغو مراجعو د آمریت خبرتیا له پاره اورول کیږي چې له سرغړوونکې څخه قانوني پوښتنې تر سره کړي.

**یوسلو یو پنځوسمه ماده:**
د دغه فصل د یوسلو پنځوسمې مادې د حکم له تطبیقېدو څخه کنټرول په هرو پنځلس ورځو کې د محکمې له خوا صورت نیسي.

**یوسلو دوه پنځوسمه ماده:**
د محکمې تحریرات د دې فصل د مندرجو حکمونو له تطبیق څخه د محکمې د رئیس په وړاندې مسئولیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل
## غیابی حکمونه

**یوسلو دری پنځوسمه ماده:**
که عارض د دېرشو ورځو د مودې په اوږدو کې د خپلې عریضې مندرجې دعوی په محکمه کې تعقیب نه کړي د دې قانون د حکمونو سره سم د هغه په غیاب کې دنه خصومت کولو قرار صادرېږي.

**یوسلو څلور پنځوسمه ماده:**
که مدعی خپل صورت دعوی محکمې ته وړاندې کړي او د دعوی له دوران نه وروسته د قانوني عذر نه پرته غایب شي محکمه د دې باب د اتم فصل د حکمونو سره سم د مدعی په جلب لاس پورې کوي او په هغه صورت کې چې په ټاکلې موده کې محکمې ته حاضر نه شي د نه خصومت کولو پریکړه صادرېږي.

**یوسلو پنځه پنځوسمه ماده:**
که مدعی علیه د مدعی د دعوی د اقامه کېدو نه وروسته اقرار وکړي او د حکم د صادرېدو په وخت کې ځان ګوښه کړي یا د شاهدانو له شهادت نه وروسته غایب شي محکمه په دواړو حالتونو کې مدعی علیه حکمي حاضر بولي په موضوع کې حکم صادروي.

**یوسلو شپږ پنځوسمه ماده:**
په هغه صورت کې چې مدعی د شاهدانو له حاضرولو څخه د نه توان لرلو اظهار وکړي او د مقابل اړخ د لوړې غوښتنه وکړي خو د لوړې د اجراء کېدو په وخت کې ځان ګوښه کړي محکمه مدعی حکمي حاضر بولي د مدعی علیه په حلف یا نکول حکم صادروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اووه پنځوسمه ماده:**

که مدعی علیه په هغو موردونو کې چې د لوړې ردول جواز لري مدعی ته د لوړې رد وکړي او مدعی غایب شي محکمه د مدعی په نکول حکم کوي.

**یوسلو اته پنځوسمه ماده:**

که مدعی علیه د عریضې د وړاندې کېدو نه وروسته د جلب له کبله اصلاً حاضر نه شي او یا د دعوی د دوران نه د مخه یا وروسته تر هغه غایب شي او مدعی د موضوع د حل او فصل په خاطر ټینګار وکړي محکمه د دې باب د اتم فصل د حکمونو د په پام کې نیولو سره اجراآت کوي او د ټاکلې مودې له تېرېدونه وروسته د غایب د لومړي درجې خپلوانو څخه یو تن، میړه یا میرمن یې د وکیل په توګه ټاکي او دعوی څېړي.

**یوسلو نهه پنځوسمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د غایب لومړي درجه خپلوان، میړه یا میرمن یې د وکالت د شرایطو لرونکې نه وي یا خپلوان یې د وکالت له قبلولو څخه ډډه وکړي د لیکلې تجویز پر بنا محکمه مدنی څارنوال د غایب د وکیل په توګه ټاکي او دعوی څېړي.

**یوسلو شپیتمه ماده:**

غایب سړي ته د وکیل ټاکل د حکم په پاڼو کې د محکمې له خوا صورت نیسي دا وکیل د غایب د دفاعي واکونو څخه برخمن دی.

**یوسلو یو شپیتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې غایب مدعی علیه باوري عذر ولري او محکمې ته خبر ورکړي د عذر د لیرې کېدو په خاطر تر دوو میاشتو پورې د قضیې څېړنه ټال کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوسلو دوه شپيتمه ماده:**
كه د تعطيل موده له دوو مياشتو څخه تېرى وكړي محكمه كولاى شي د قانوني ممكنه وسيلو څخه په ګټې اخيستنې سره د قضيي په څېړلو لاس پورې كړي او په ځانګړو حالتونو كې پورتني موده تمديد كړي.

**يوسلو درې شپيتمه ماده:**
(۱) كه غايب د محكمې له خوا د وكيل له ټاكل كېدو نه وروسته حاضر شي، محاكمه د ده په حضور كې تر سره كيږي.
(۲) كه د هغه غيابت مكرر او يا د تمرد او د مقابل لورى د تاواني كولو څخه راپيدا شوى وي دا حضور يې اعتبار نه لري. محاكمه د محكمې له خوا د ټاكل شوي وكيل په حضور كې دوام مومي.

**يوسلو څلور شپيتمه ماده:**
كه د مدعى عليه د دفاع په ترځ كې اصل مدعى ته لوړه متوجه شي او وروسته د دفع مدعى غايب شي پدغه صورت كې محكمه له غايب څخه د نيابت په توګه وكيل ټاكي او اصل مدعى ته لوړه توجيه كوي په دغه حالت كې حلف او نكول قانوني اغيزې لري.

**يوسلو پنځه شپيتمه ماده:**
كه مدعى شاهدان نلرله او د غايب مدعى عليه د حلف غوښتونكى وو محكمه پر غايب باندې د لوړې معلق حكم صادروي.

**يوسلو شپږ شپيتمه ماده:**
كه مدعى عليه د دوو مياشتو د مودې په بهير كې محكمې ته حاضر شي خو له لوړې څخه نكول وكړي دا نكول يې حقيقي نكول او د پورتني ټاكل شوي مودې په بهير كې محكمې ته د عذر نه پرته د مدعى عليه نه حاضريدل حكمي نكول دي په دواړو حالتونو كې محكمه د هغه په نكول حكم صادروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اووه شپیتمه ماده:**

(۱) که غایب مدعی علیه په ټاکلی موده کې حاضر شي او د مدعی د ادعا په وړاندی لوړه وکړي د مدعی د خصومت په خلاصیدو حکم صادریږي.

(۲) د دوو میاشتو د مودی له تیریدو نه وروسته لوړی ته د مدعی علیه تیاری اعتبار نه لري.

**یوسلو اته شپیتمه ماده:**

که د غایب ولی، وصی، قیم یا وکیل دعوی تعقیب نه کړي محکمه د هغوی د نه حاضریدو او نه تعقیبولو له امله په نه خصومت کولو حکم نه کوی د غیابت د اوږدیدو په صورت کې د غایب د قیم، وصی یا وکیل پر ځای بل چا د قانونی ممثل په توګه او له ولی څخه د ولایت د سلبیدو په صورت کې یو تن د وصی په توګه ټاکی او په موضوع کې خپل حکم صادروی.

**یوسلو نهه شپیتمه ماده:**

که د دعوی وکیل د خپل مؤکل د عوی تعقیب نه کړي محکمه یوازی یوه پلا موضوع مؤکل ته اوروی او د مؤکل د حاضریدو یا د نوی وکیل د ټاکل کېدو په صورت کې د دعوی یوی خواته کولو ته لاس پوری کوی. ابلاغ ته د مؤکل د نه پاملرنی په صورت کې محکمه د نه خصومت کولو حکم صادروی.

**یوسلو اویایمه ماده:**

(۱) د غایب وکیل د اقرار، ابراء اصلاح، قناعت کولو او نورو هغو اقداماتو واک نه لري چې د غایب په ضرر تمامیږي.

(۲) د محکمی له خوا د ټاکل شوی وکیل واک د دی قانون د یو سلو دری شپیتمی مادی د حکم د په نظر کې لرلو سره د غایب سړی د خبرېدو او حاضریدو نه وروسته پای ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو یو اویایمه ماده:**

د عامه حقوقو ممثل د اقرار، ابراء او اصلاح کولو واک نه لري مګر دا چې بل ډول تصریح شوی وي.

**یوسلو دوه اویایمه ماده:**

غیابي حکمونه وکیل ته اورول کیږي او محکوم علیه ته خبر ورکول کیږي او محکوم علیه ته داورولو د نه امکان په صورت کې د خبرتیا پاڼه د غایب د کورنۍ یو د غړیوته سپارل کیږي او د کورنۍ د غړیو د نه موجودیت په صورت کې د استوګنځی اداري او یا د هغوی د کار ځای اداري ته سپارل کیږي.

**یوسلو دري اویایمه ماده:**

د غایب وکیل او د عامه حقوقو ممثل د محکمي د صادر شوی حکم په وړاندی د قناعت کولو واک نه لري.

**یوسلو څلور اویایمه ماده:**

د محکمي له خوا د وکیل د ټاکنی حکمونه د میړه د غیابت او یا مفقودیت له امله د تفریق په دعواوو کې هم تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم فصل
## په مدنی قضیو کې د اهل خبرې او مطلع شخه ګټه اخیستنه

**یوسلو پنځه اویایمه ماده:**

(۱) محکمه کولای شي د دعوی مربوطو پیښو د استیضاح په منظور د دعوی د دواړو خواوو د غوښتنې یا د خپل تجویز پر اساس د اهل خبرې نظر یې چې په موضوع کې د مسلک او تخصص پر اساس د کافي معلوماتو خاوند وي او د اسلام د شریعت د معیارونو سره سم د ښو او صافو او پیژندنې لرونکي وي وغواړي.

(۲) اهل خبره د فعالیت د پېل نه د مخه لوړه کوي چې دندې یې په بشپړ امانت سره تر سره کړي.

**یوسلو شپږ اویایمه ماده:**

(۱) په عقاري دعواوو کې محکمه کولای شي د دعوی د دواړو خواوو د اختلاف د رامنځته کېدو په صورت کې د بیې، کروکې، د حدودو د ټاکلو، د مساحت او ساختماني مسئلو په باب له اهل خبرې شخه معلومات تر لاسه کړي.

(۲) محکمه کولای شي د منقولو ملکیتونو په مربوطو دعواوو کې د مدعی بها د بیې د ټاکنې په خاطر له اهل خبرې شخه معلومات تر لاسه کړي.

**یوسلو اووه اویایمه ماده:**

(۱) د دې قانون د یو سلو شپږ اویایمې مادې د لومړۍ فقرې د حکم په منظور اهل خبره، مساح، د کدستر کارمند، د ځمکې د اصلاحاتو متخصص، مهندس، ساختماني انجنیر او ګاونډي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د دې قانون د يوسلو شپږ اويايمې مادې د دوه يمې فقرې د حکم په منظور اهل خبره، محاسب، کنټرولر، مسلکي تخنيکران او اهل حرفه دي.

**يوسلو اته اويايمه ماده:**

که د مدعي يا مدعى عليه هويت مشبوه وي محکمه کولای شي د هغه د نوم پيژندنې، کسب او استوګنځي په هکله د اهل ګذر د مطلعينو، صنفي وکيل يا د اړوندې ادارې د آمر څخه استيضاح وکړي.

**يوسلو نهه اويايمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د اشخاصو په خاصه توګه په ښځينه طبقه او ماشومانو کې د سن تثبيتول د محاکمې په بهير کې ضروري وګڼل شي او شخص د تابعيت تذکره ونه لري يا د هغه د تذکرې د مندرج سن او ظاهري حالت تر منځ توپير موجود وي محکمه د عدلي طب ډاکټر يا د بل طبيب رأی پکې غواړي.
(۲) په هغو موردونو کې چې د سن ټاکل د عدلي طب د ډاکتر او يا بل طبيب د نظر يې په اساس د قضيې له سوابقو او د شخص له ظاهري حالاتو سره توپير ولري د سن د بيا ټاکلو موضوع طبي هيأت ته چې له دريو تنو څخه لږ نه وي راجع کوي.

**يوسلو اتيايمه ماده:**

محکمه د ميرمنې د شنډوالي او يا په صعب العلاجو ناروغيو باندې د هغې د مصاب اوسيدلو په هکله د نسايي او ولادي له متخصص او د متخصص د نه موجوديت په صورت کې له طبيب، قابلې او سيمه ييزې دا يي څخه معلومات کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو یو اتیایمه ماده:**

د میړه د عیب له امله د تفریق په دعواوو کې محکمه د هغه د عیب د تثبیتولو او یا د نه علاج کېدونکو یا د اوږدی مودی د علاج وړ ناروغیو په باب له اړوند متخصص یا طبی هیأت څخه معلومات تر لاسه کړی.

**یوسلو دوه اتیایمه ماده:**

د اهل خبره رد او اجتناب د دغه قانون د دویم باب په څلورم فصل کې د اجتناب او رد د عمومی اساساتو د احکامو تابع دی.

**یوسلو دری اتیایمه ماده:**

د دعوی دواړه خواوی حق لری د باوری اسبابو دشته والی په صورت کې د اهل خبری درد غوښتنه وکړی. محکمه دی درد د غوښتنلیک د وړاندی کېدو له نېټی څخه د دریو ورځو په بهیر کې په دی هکله تصمیم ونیسی. په هغه صورت کې چې د رد اسباب د باور وړ وی اهل خبره بیا په موضوع کې نظر څرګندولی نه شی.

**یوسلو څلور اتیایمه ماده:**

محکمه کولای شی په هغو دعواوو کې چې پیچلتوب یی د حسابی مسئلو او د دفترونو، پاڼو او سندونو د معاینی څخه را پیدا شوی وی یا د دعوی پیچلتوب له بلی ناحیی څخه رامنځ ته شوی وی د محکمی د غړیو او یا د اهل خبری یو تن ته د موضوع د څېړلو له پاره دنده ورکړی او وروسته اجراآت وکړی.

**یوسلو پنځه اتیایمه ماده:**

اهل خبره په ټولو موردونو کې خپلی نظر یی په لیکلی ډول محکمی ته وړاندی کوی او په قضائی غونډه کې لوستل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوسلو شپږ اتيامه ماده:**

اهل خبرې څخه د دوی د نظر يې د لوستل کېدو نه وروسته استيضاح کېدای شي دغه استيضاح لومړی د هغه چا له خوا چې د هغه يا د نوموړي د قانوني وکيل د غوښتن ليک له مخې انتخاب شوی ده او وروسته په قضيه کې د شاملو کسانو او محکمې له خوا صورت نيسي.

**يوسلو اووه اتيايمه ماده:**

محکمه کولای شي د نظر يې د کافي وضاحت نه لرلو او يا نيمګړتيا په صورت کې اهل خبره باندې د زياتو څرګندونو او بشپړتيا يې کتنو امر وکړي.

**يوسلو اته اتيايمه ماده:**

په هغه صورت کې چې محکمه د خبير يا مطلع سړي نظر يې بيله استناده او يا له واقعيت سره مخالف تشخيص کړی د هغه څخه مجدد نظر غواړي او يا موضوع بل يو اهل خبرې يا مطلع ته سپاری.

**يوسلو نهه اتيايمه ماده:**

په هغو حالتونو کې چې اهل خبره قضائی غونډې ته حاضريږي د هغې د څرګندونو او معايناتو نتيجې د قضائی غونډې په محضر (پروتوکول) کې ليکل کيږي.

**يوسلو نوی يمه ماده:**

محکمه د اهل خبرې او مطلع پر نظر يې باندې مقيد نه دی، ور وړاندې شوی نظريه يې د اثبات د نورو دلايلو په شان ارزيابي کوی. که د محکمې د ارزيابي نتيجه د اهل خبرې له نظر يې سره سمون و نه لری د هغې درد دليلونه دی په مفصله توګه په پريکړه کې وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل
## په مدنی قضیو کې د لومړنیو اجراآتو تنظیم

**یوسلو یو نوی یمه ماده:**

مدنی قضیه چې د دی قانون د اتلسمی مادی د حکم سره سم د محکمی د تحریراتو له خوا د محکمی رئیس، مرستیال یا قاضی د ملاحظی په خاطر وړاندی کیږی د لاندنیو مراتبو د رعایت کولو تابع ده:

۱- په هغو محکمو کې چې د اصلی یا خدمتی قاضیانو شمیر له دریو تنو څخه زیات وی د محکمی رئیس یا مرستیال د قاضیانو له جملی څخه دوه تنه قاضیان د قضیی د لومړنی مطالعی په خاطر ټاکی او پاتې د محکمی د تحریراتو له خوا بیله ځنډه قضائی مؤظف هیأت ته سپارل کیږی.

۲- په ښاری، ولسوالی، علاقه داری او ناحیوی محکمو کې چې د قاضیانو شمیر له دریو تنو څخه لږ وی موجود قاضیان یا قاضی کولای شی د رارسیدلو قضیو لومړنی مطالعی تر سره کړی او په دی هکله کې تصمیم ونیسی.

**یوسلو دوه نوی یمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د مدنی قضیو څېړل په مدعا بها کې د بیی د تثبیت، تحدید، د اندازی د ټاکلو تصفیی یا د نورو ضروری حالتونو د تشخیص غوښتونکی وی محکمه د دی قانون د دوهم باب د لسم فصل د حکمونو سره سم اجراآت کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو دري نوی یمه ماده:**

که محکمه د مدعی بها د حالاتو د تشخیص د بررسی په وخت کې په مستقیمه توګه یا د دوارو خواوو د شفاهي څرګندونو له امله په دی باندی پوه شی چې د قضیې د ربښتینو اړخونو کشف او د هغی په ماهیت کې عادلانه څېړنه د ځینو نورو موضوعاتو د تحلیل غوښتونکی ده د په ګوته شویو موضوعاتو د تحلیل په هکله قضائی قرار صادروی او د دی قانون د یوسلو نهه اویایمی مادی څخه تر یوسلو دوه اتیایمی مادو پوری د حکمونو سره سم اجراآت کوی.

**یوسلو څلور نوی یمه ماده:**

که محکمه د مدنی قضیو د ځینو ځانګړو حالتونو کشفولو ته اړشی کولای شی د دوارو خواوو پر څرګندونو او دلایلو ډاډ منه شی او پرته له هغه په دی هکله کې له اړوندو مراجعو څخه د پاڼو د مستردولو څخه پرته معلومات وغواړی.

**یوسلو پنځه نوی یمه ماده:**

د محکمی تحریرات مکلف دی د دی قانون د یوسلو دوه نوی یمی څخه تر یوسلو څلور نوی یمی مادو پوری د مندرجو معلوماتو د رارسیدونه وروسته د قضیی سوابق قضائی هیأت ته وړاندی کړی.

**یو سلو شپږ نوی یمه ماده:**

محکمه د مؤجه اړتیا څخه پرته د مدنی قضیو پاڼی نه شی مستردولای.

**یوسلو اووه نوی یمه ماده:**

محکمه نه شی کولای د مدنی قضیو بهیر او څېړنی پرته له مؤجه دلایلو څخه وځنډوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوسلو اته نوی يمه ماده:**

له هغو حالتونو څخه پرته چې قانون تصريح کړی وی د مدني دعوی په ماهيت کې د قضائي قرار صادرول جواز نه لري.

**يوسلو نهه نوی يمه ماده:**

دستري محکمی د ديوانونو رئيسان، د محکمو رئيسان، مرستيالان، د ولايتونو د محکمو د ديوانونو، لويي ولسوالۍ، ښاري، ولسوالي، علاقه داری او ناحيوی محکمو رئيسان مکلف دی د مدني قضيو فهرست د دعوی د ډول او د دعوی د دواړو خواوو د پيژندني په توضيح کولو سره جوړ او د هغه پر اساس اجراآت وکړي.

**دوه سوومه ماده:**

د دعوی د لوری په تعقيب سره د مدني قضيو محاکماتي پړاوونه زيات نه زيات تر څلورو مياشتو پوری بشپړ او قضائي حکم صادريږي.

**دوه سوه يوومه ماده:**

د دی قانون د دوه سوومی مادی مندرجی مودی د مستندو او باوری دليلونو پر اساس د ځينو قضيو د ځانګړی توب له مخی تر يوی مياشتی نور د اوږدولو وړ دی.

**دوه سوه دوهمه ماده:**

د قضائي څېړني د مودی پيل په ځانګړی فورمه کې د مدعی دعوی د ليکلو نه وروسته د اعتبار وړ دی.

**دوه سوه دريمه ماده:**

له مدعی عليه څخه د مدعی تشخيص او له رښتيني ذواليد څخه د خارج ببلول په لومړی پړاو کې د قضائي قرار د صادرولو په واسطه صورت نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوولسم فصل
## د محاکمی بهیر او په قضیه کې د شاملو کسانو حاضریدل

**دوه سوه څلورمه ماده:**
مدعی او مدعی علیه مکلف دی چې په خپله یا د هغوی وکیل، ولی، وصی، یا قیم له اړوندو سندونو سره محکمی ته حاضر شی.

**دوه سوه پنځمه ماده:**
په قضائی غونډو کې د دعوی پر دواړو خواوو او مدنی څارنوال برسېره، د دولتی اورګانونو، مؤسسو استازی او دربیمګړی کسان هم ګډون کولای شی.

**دوه سوه شپږمه ماده:**
وکالت پاڼه د هغی محکمی د پریکړی تر صادریدو پوری چې دعوی پکی دایره ده د اعتبار وړ ده لاندنی مورد لدی حکم څخه جلا دی:
په هغه صورت کې چې په وکالت پاڼه کې وکیل ته د استدعا پر حکم باندی اعتراض او د محکمی داعادی د دعوی د وړاندی کولو او محکمو تر وروستی پړاو پوری د پر مخ بیولو واک په ډاګه ورکړ شوی وی.

**دوه سوه اوومه ماده:**
د محکمو قاضیان او اداری کارمندان نه شی کولای چې د وکالت چاری تر سره کړی. له هغو موردونو څخه پرته چې د هغوی د میړه، میرمنی، پلار، نیکه، مور، انا، زوی او لور دعوی په منځ کې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه اتمه ماده:**

د محكمو قاضيان او كارمندان په خپلو دعوى كې اصالتاً او د دى قانون د دوه سوه اوومى مادى د مندرجو كسانو په دعوى كې د وكيل، ولي، وصي او قيم په توګه لاس پورى كولاى شي.

**دوه سوه نهمه ماده:**

د دعوى اړخونه دوار د په پام كې نيولو سره د محكمى كوټې ته لارښوونه كيږى او د هغوى حالتونه په لاندى ډول څېړل كيږى:

۱- محكمه تشخيصوى چې كوم يو يې د اصيل په توګه او كوم يو يې د وكيل، ولي، وصي او قيم په توګه محكمى ته حاضر شوى دى.

۲- هغه كسان چې نيابتاً محكمى ته حاضريږى د محكمى د نده لرونكى د هغوى د واكمنۍ سند په دوسيه كې ږدى.

۳- د مدعى استدعا، د دواړو خواوو ټول سندونه او پاڼى د محكمى د تحريراتو له خوا تنظيميږى.

**دوه سوه لسمه ماده:**

مدعى خپل صورت دعوى په لازم تفصيل سره په دوو نسخو كې وړاندى كوى. د دعوى د نه سموالى په صورت كې، مدعى د دعوى په تصحيح كولو مكلف كيږى.

**دوه سوه يوولسمه ماده:**

د مدعى د دعوى د سموالى او د دى قانون شپږ ويشتمى مادى د مندرج حكم د په پام كې نيولو په صورت كې مدعى عليه مكلف دى خپل ليكلى ځواب په ټاكلى موده كې محكمى ته وړاندى كړى.

**دوه سوه دوولسمه ماده:**

محكمه د مدعى عليه د ليكلى ځواب د وړاندى كېدونه وروسته د دعوى دواړو خواوو ته د محاكمى د غونډې نېټه پوهوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه ديارلسمه ماده:**

که د دعوی دواړه خواوی په ټاکلی ورځ قضائی غونډی ته حاضر نه شی د غونډی رسمیت اعلانیږی او په لاندی ډول اجراآت کیږی:

۱- د مدعی د دعوی نه وروسته د مدعی علیه لیکلی دفاعیه په ځانګړی فورمه (صورتحال) کې درج کیږی او وروسته د دواړو خواوو په مخکی د مدعی دعوی او د مدعی علیه دفاعیه په قضائی غونډه کې لوستل کیږی او د دعوی او دفاعیی منځپانګی دواړو خواوو ته پوهول کیږی.

۲- د مدعی د دعوی او مدعی علیه د ځواب له لوستلو نه وروسته لومړی مدعی ته وخت ورکول کیږی چې دعوی او اړوند سندونه یی توضیح کړی وروسته بیا مدعی علیه ته وخت ورکول کیږی چې د مدعی د دعوی په وړاندی خپل ځواب د سندونو په وړاندی کولو سره توضیح کړی.

۳- د غونډی رئیس او د قضائی هیأت غړی له دواړو خواوو څخه د ابهام او تناقض په هکله استیضاح کوی.

۴- د غونډی منشی مکلف دی د محکمی د رئیس په امر سره، د غونډی بهیر د مدعی او مدعی علیه د ادعا د ابهام او تناقض د لیری کېدو د څرنګوالی توضیحات یادداشت کړی او د هغه ثبت د محاکمی په پای کې له لوستلو نه وروسته د دعوی د دواړو خواوو او قضائی هیأت له خوا لاسلیک کیږی.

**دوه سوه څوار لسمه ماده:**

د قضائی هیأت د بشپړ حضور د قضائی خبرو اترو او غونډو په وخت کې هرو مرو دی. د غونډی د رئیس او یا د قضائی هیأت یو له غړیو په غیاب کې غونډه دایرېدای نه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه پنځلسمه ماده:**

په غیر منقول مدعی بها کې د مدعی د دعوی د صحت کېدونه وروسته د ذوالیدی شاهدانو اقامه کول هرو مرو دي.*

**دوه سوه شپاړسمه ماده:**

که د دعوی د دواړو خواوو څخه یوه یې د محاکمې په وخت کې داسې اثباتیه سندونه وړاندې کړي چې د محکمې تر مطالعې لاندې په مخکنیو پاڼو کې شامل نه وي محکمه نوموړي پاڼې بیله لاندنیو موجباتو څخه منلې نه شي:

۱- د محکمې قناعت پدې باندې چې په هغه وخت کې د نوموړیو پاڼو وړاندې کول ممکن نه وه.

۲- په هغه وخت کې د نوموړوپاڼو دنه وړاندې کېدو په هکله د باوري عذر شته والې.

**دوه سوه اووه لسمه ماده:**

د دې قانون د دوه سوه شپاړسمې مادې د مندرجو حالاتو د یوه د تحقق په صورت کې محکمه پر موضوع باندې د غور په مقصد بله قضائي غونډه ټاکي.

**دوه سوه اتلسمه ماده:**

د دعوی دواړې خواوې کولای شي هغې دعوی او دفاعیې چې په بیلا بیلو نسخو کې محکمې ته وړاندې کړېدي د دعوی له دوران نه د مخه یوه پلا په هغه کې اصلاح، تعدیل، کموالې او یا زیاتوالې راوړي په دې شرط چې نوموړې اصلاح د زیاتوالې یا کموالې له پلوه د دعوی او دفاع په ماهیت کې بدلون منځ ته را نه وړي.

---

* **۲۱۵** ماده تعدیل شوې، د تعدیلونو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه نولسمه ماده:**

د دعوی دواړی خواوی نه شی کولای چې د خپلو مدعیاتو، مدافعاتو او اعتراضاتو د هری برخی په مقابل کې چې په یو صورت دعوی کې راوړل شوی دی له محکمی څخه د جلا پریکړی غوښتنه وکړی.

**دوه سوه شلمه ماده:**

که د دعوی، محاکمی او د حکم د صادرولو بهیر په یوه غونډه کې تر سره نه شي راتلونکی غونډی له پاره بله نېټه ټاکل کیږی او دواړو خواوو ته پوهول کیږی.

**دوه سوه یو ویشتمه ماده:**

که د دعوی د دواړو خواوو څخه یو تن یی د محاکمی په وخت کې مړ شی د مقابل لوری د غوښتنی له امله د نوموړی مړی ورثه محکمی ته جلب کیږی او محاکمه له دریدلی ځای څخه بیا پیل کیږی.

**دوه سوه دوه ویشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې مدعی د خپل دعوی د ثابتولو له پاره د زیاتی وخت غوښتنه وکړی محکمه ورته د لازمی مودی مهلت ورکوی.

**دوه سوه درویشتمه ماده:**

که د مدعی د دعوی او یا د مدعی علیه د دفع اړوندی پاڼی او سندونو ته چې په دوایرو، او دولتی، ګډ او خصوصی مؤسسو کې وی د محاکمی په بهیر کې اړتیا پیښه شی د دغه راز سندونو او پاڼو د لاس ته راوړلو په خاطر وخت ورکول کیږی.

**دوه سوه څلیر ویشتمه ماده:**

که د دعوی د دواړو خواوو په واسطه پاڼی تر لاسه نه شی محکمه کولای شی د اړتیا وړ پاڼی په رسمی ډول له اړوندو مراجعو څخه راوغواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه پنځه ويشتمه ماده:**

که د دعوی لوري د هغو پاڼو او سندونو له مندرجاتو څخه چې محکمې ته د دعوی د اثبات له پاره وړاندې کيږي منکر شي او يا يې د جعل ادعا وکړي د دې باب د پنځلسم فصل د حکمونو سره سم اجراآت او رسيدګي کيږي.

**دوه سوه شپږ ويشتمه ماده:**

له اصلي دعوی څخه راپيدا شوې حادثي دعوی چې د دعوی د بهير په وخت کې د مدعي يا مدعی عليه له خوا وړاندې کيږي محکمه يې د اصلي دعوی په ترڅ کې څيړي او پريکړې کوي.

**دوه سوه اووه ويشتمه ماده:**

محکمه د حادثي دعوی په هکله چې د چټکې څيړنې غوښتونکې ده قضائي قرار صادروي او دغه قرار وروستني دی.

**دوه سوه اته ويشتمه ماده:**

که د اصلي دعوی څخه راپيدا شوې حادثي دعوی په پورتنيو محکمو کې مطرح شي لومړنۍ محکمې ته ليږدول کيږي.

**دوه سوه نهه ويشتمه ماده:**

حادثي دعوی د لومړنيو مراتبو د تيرولو غوښتونکې نه دی.

**دوه سوه دېرشمه ماده:**

محکمه په هغو قضيو کې چې اصلاح ته د دواړو خواوو رغبت احساس کړي د اصلاح کوونکو په ټاکلو توصيه کوي.

**دوه سوه يو دېرشمه ماده:**

(۱) که د دعوی دواړه خواوې خپل منځ کې سره اصلاح وکړي په هغه صورت کې چې د دعوی له دوران او د محکمې له بهير څخه د مخه وي اصلاح پاڼه ليکلې کيږي او موضوع ته يې خاتمه ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که اصلاح د دعوی د دوران او د محاکمی په بهیر کې صورت ونیسي د دغه اصلاح صورت په پریکړه کې درج کیږي، د اصلاح په تجویز او د دواړو خواوو د شخړې په پای ته رسیدو حکم صادریږي.

**دوه سوه دوه دېرشمه ماده:**

که دواړه خوا وی اصلاح ته موافقه و نه کړي محکمه موضوع تر دوران لاندې نیسي او پریکړه کوي.

**دوه سوه درې دېرشمه ماده:**

د محکمې تحریرات مکلف دی د محاکمې په بهیر کې لاندنی مراتب په پام کې ونیسي او محضر کې یې ثبت کړي:

۱- د غونډې د رئیس او د قضائي هیأت نوم، د دعوی د دواړو خواوو پیژندنه او ژباړونکي نوم که موجود وي.

۲- د دواړو خواووخرگندونې.

۳- د شاهدانو نومونه د هغوی له بشپړې پیژندنې.

۴- د هغو سندونو د مندرجاتو لنډیز چې دواړه خواوې یې وړاندې کوي.

۵- هغه کړه کتنې چې د محکمې له خوا اجرأ کیږي.

۶- هغه تصمیم چې د محکمې له خوا نیول کیږي.

**دوه سوه څلور دېرشمه ماده:**

د محاکمې دنه ختمیدو او بلې ورځې او راتلونکو ورځو ته د هغې د بهیر د پاتې کېدو په صورت کې قضائي غونډې د دې قانون د دوه سوه درې دېرشمې مادې په ترتیب سره په محضر کې قید او اجراآت صورت نیسي.

**دوه سوه پنځه دېرشمه ماده:**

محضر، د ساتنې وړ نوری پاڼې او سندونه د قضیې له سوابقو سره یو ځای په محکمه کې ساتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه شپږ د پرشمه ماده:**

د قضیې له تحقیق او تدقیق او د دلیلونو له څېړلو نه وروسته د غونډې رئیس د قضیې له شاملینو څخه د زیاتي څرګندونو غوښتنه کوي په هغه صورت کې چې دواړه خواوې نوري څرګندوني ونلري د غونډې رئیس د قضیې د تحقیق پای ته رسېدل اعلانوي او محکمه په قضائي مباحثو لاس پوري کوي.

**دوه سوه اووه د پرشمه ماده:**

قضائي مباحثي په قضیه کې د شاملو کسانو د څرګندونو څخه عبارت دي چې په لاندي ډول صورت نیسي:

۱- د مدعي او یا د هغه د قانوني ممثل څرګندوني.

۲- د مدعی علیه یا د هغه د قانوني ممثل څرګندوني.

۳- د هغه دربېمګړي شخص څرګندوني چې د قضیې د څېړني په بهیر کې د دعوی په هکله جلا عریضه وړاندي کړي.

۴- په قضیه کې شامل د مدني څارنوال نظریه.

۵- نور هغه مطالب چې د محاکمې د چټک بهیر سره مرسته وکړي.

**دوه سوه اته د پرشمه ماده:**

د دي قانون په دوه سوه اووه د پرشمه ماده کې درج شوي د قضائي مباحثو ګډون کوونکي نه شي کولای په خپلو څرګندونو کې پر هغو حالتونو او دلیلونو باندي استناد وکړي چې محکمې ته توضیح شوي نه دي او په قضائي غونډه کې تحقیق شوي نه دي.

**دوه سوه نهه د پرشمه ماده:**

په هغه صورت کې چې دعوی د مراتبو له تیرولونه وروسته د حکم د صادریدو درجې ته رسیدلې وی د دواړو خواوو د ذات بدلون یا د صفتونو بدلون د حکم د صادریدو او ابلاغ خنډنه شي کېدای، د ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بدلون څخه مرینه او د صفتونو له بدلون څخه دلیونتوب او افلاس د حدوث هدف دی.

**دوه سوه څلویښتمه ماده:**

محکمه د دعوی د دوران په وخت کې د حق د غوښتنی، په دعوی کې د مداخلی واک او په محاکمه کې د حاضریدو په هکله د دریېمګړی شخص غوښتنلیک قبلوی.

په هغه صورت کې چې د حکم قانونی پړاوونه پای ته رسیدلی وی د دغه غوښتنلیک له امله د دعوی دواړو خواوو ته د محکمی د حکم ابلاغول نه ځنډیږی.

**دوه سوه یو څلویښتمه ماده:**

د غونډی رئیس د دعوی د تحقیق او تدقیق، قضائی مباحثو او دویلو وړ زیاتی مطلب د نه لرلو په هکله دواړو خواوو د اظهار نه وروسته، هغوی ته د محاکمی پای اعلاموی.

**دوه سوه دوه څلویښتمه ماده:**

د محاکمی د ختمیدو د اعلام نه وروسته د دواړو خواوو د څرګندونو حق پای ته رسیږی.

**دوه سوه دری څلویښتمه ماده:**

قضائی هیأت د محاکمی له پای ته رسیدونه وروسته د تصمیم نیولو او د حکم د نص د تنظیمولو په خاطر د قضائی مشوری خونی ته ورننوځی او دا موضوع د غونډی د رئیس له خوا مخکی د حاضر شویو کسانو په خبرتیا رسول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه څلور څلوېښتمه ماده:**

قضائی هیأت د تصمیم د نیولو او د حکم د نص د تنظیمولو نه وروسته د غونډې خونې ته راستنیږي، د غونډې رئیس د محکمې حکم اعلانوي، د شکایت او فرجام غوښتنې مودې توضیح کوي.

**دوه سوه پنځه څلوېښتمه ماده:**

که غونډه د قضائی هیأت د کار په دفتر کې دایره شوې وي حاضر شوي کسان د محاکمې د ختمیدو له اعلان سره جوخت له کوټې څخه د باندې وځي، د تصمیم نیولو څخه وروسته د دعوی دواړو خواوو ته د حکم د اورولو په خاطر د حاضریدو اجازه ورکول کیږي.

## دیارلسم فصل
## د محکمې پریکړه او حکم

**دوه سوه شپږ څلوېښتمه ماده:**

د قضائی هیأت تصمیم چې د محاکمې د بهیر نه وروسته د دعوی په ماهیت کې نیول کیږي د پریکړې په ډول صادریږي.

**دوه سوه اووه څلوېښتمه ماده:**

د محکمې پریکړه باید قانوني او مستند له وي.

**دوه سوه اته څلوېښتمه ماده:**

محکمه د هغو دلیلونو پر بنا پریکړه کوي چې په قضائی غونډه کې تحقیق او راټول شویدي.

**دوه سوه نهه څلوېښتمه ماده:**

د مشورې په خونه کې د حکم د صادرولو په وخت کې یوازې اړوند قضائی هیأت اوسیدای شي او د نورو کسانو حضور جواز نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه پنځوسمه ماده:**

د محکمې حکم د قضائي هيأت د رأيو په اکثريت په داسې ترتيب سره صادريږي چې لومړی د غونډې غړي او وروسته رئيس خپله رأيه څرګندوي. د قضائي هيأت دغړيو هيڅ يو تن د قانوني مجوز نه پرته د رأيو د څرګندولو څخه د ډډه کولو حق نه لري.

**دوه سوه يو پنځوسمه ماده:**

که د قضائي هيأت د غړيو يو تن د اکثريت له پريکړې سره موافق نه وي خپل ځانګړی رأی په جلا پاڼه کې ليکي او د مهر او لاسليک نه وروسته پريکړې سره يې ضميمه کوي دا نظريه په قضائي غونډه کې نه لوستل کيږي.

**دوه سوه دوه پنځوسمه ماده:**

د هغو نظريو افشا کول چې د مشورې په خونه کې د قاضيانو له خوا څرګنديږي مجاز نه دي.

**دوه سوه درې پنځوسمه ماده:**

پريکړه د قضائي غونډې د رئيس يا د حکم په صادرولو کې د ګډون کوونکو قاضيانو د يوه په واسطه ليکل کيږي او د قضائي هيأت له خوا مهر او لاسليک کيږي.

**دوه سوه څلور پنځوسمه ماده:**

پريکړه د مقدمې، تشريح، استدلال نتيجې او د حکم د نص له برخو څخه عبارت ده.

**دوه سوه پنځه پنځوسمه ماده:**

د پريکړې د مقدمې برخه د لاندنيو مطلبونو څخه عبارت ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د حاکمې محکمې نوم، د غونډې د رئيس، قضائي غړي، د غونډې د منشي او د څارنوال نوم په هغه صورت کې چې په غونډه کې ګډون وکړي.
۲- د استوګنې، کسب، دندې، د کسب، دندې ځای، د تابعيت د تذکرې نمبر د هغې د صادريدو د ځای په توضيح کولو سره د مدعي، مدعی عليه بشپړه پيژندنه. په قضيه کې د نورو شاملو کسانو د هغوی د وکيلانو او قانوني ممثلينو پيژندنه.
۳- د دعوی د موضوع د ډول تشخيص.
۴- د پريکړې نمبر، نېټه او د صادريدو ځای، د اورولو نېټه د پريکړې د پاڼو او د هغې د ضميمو شمير.

**دوه سوه شپږ پنځوسمه ماده:**

د پريکړې تشريحی برخه د لاندنيو مطلبونو لرونکې ده:
۱- د مدعی صورت دعوی، د مدعی عليه مدافعات او د دعوی د دوارو خواوو نورې غوښتنې.
۲- اقرار يا انکار.
۳- د شاهدانو شهادت قبليدل يا رد کيدل يې.
۴- سندونه، قاطعه قرينې او مستنبطه قرينې.
۵- حلف يانکول.
۶- د محاکمې د بهير لنډيز.

**دوه سوه اووه پنځوسمه ماده:**

د پريکړې د استدلال برخه دلاندنيو مطلبونو لرونکې ده:
۱- په محکمه کې د قضيې د تحقيق صورت.
۲- د اثبات يا نفې وسيلې او د دليلونو توضيح.
۳- هغه استدلال چې محکمه د هغه پر اساس ور وړاندې شوی دلايل قبلوي او يا ردوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د هغه قانون د مادی یادونه چې د محکمې د استناد وړ ګرځی.

**دوه سوه اته پنځوسمه ماده:**

د پریکړې د نتیجې برخه دلاندنیو مطلبونو لرونکې ده:

۱- د دعوی نه ثابتیدل.

۲- د مدعی علیه الزام.

۳- د تعویض یا د محکوم به تاوانونو ځومره والی.

۴- د محکمې لګښتونه.

**دوه سوه نهه پنځوسمه ماده:**

د پریکړې د حکم نص د لاندنیو مطلبونو لرونکی ده:

۱- د قضائی غونډې د نېټې یادونه او د اکثریت یا د رایو په اتفاق سره د حکم صادریدل.

۲- پر مشخصو دلیلونو باندی د قانون د مادی په یادولو سره اتکاء کول.

۳- د دعوی د دواړو خواوویادونه.

۴- د محکوم به ټاکل.

۵- د دعوی ردول.

۶- د خصومت پریښودل.

۷- د دعوی نه ثابتېدل.

۸- د مدعی علیه الزام.

**دوه سوه شپیتمه ماده:**

د حکم نص باید قاطع، صریح او د هر ډول لفظی او معنوی تعقید څخه خلاصه وی.

**دوه سوه یو شپیتمه ماده:**

۱- د محکمې حکم د محاکمې له پای ته رسیدونه وروسته دواړو خواوو ته بیله ځنډه او رول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د محکمې پريکړه د لسو ورځو په اوږدو کې تنظيم، ترتيب او صادريږي.

**دوه سوه دوه شپيتمه ماده:**

قضائي هيأت نه شي کولای چې په قضيه کې د حکم د اورولو نه وروسته خپله پريکړه تعديل يا نقض کړي.

**دوه سوه درې شپيتمه ماده:**

محکمه په هر حال کولای شي په پريکړه کې املايي، انشايي غلطي او عددي اشتباه گانې تصحيح کړي، قضائي هيأت په پريکړه کې غلطي او اشتباه گانې تصحيح کوي او تر هغې لاندې لاسليک کوي.

**دوه سوه څلور شپيتمه ماده:**

په حکم يا پريکړه کې د ابهام د موجوديت په صورت کې محکمه کولای شي په قضيه کې د شاملو کسانو د عريضې له مخې په غونډه کې د قضائي هيأت په واسطه د پريکړې په متن کې د بدلون راوستلو نه پرته هغه توضيح کړي خو په دې شرط چې پريکړه تطبيق شوې نه وي.

**دوه سوه پنځه شپيتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د وروستي پريکړې تطبيقول د پيسو د ورکولو مستلزم وي محکمه کولای شي په قضيه کې د شاملو کسانو د عريضې له مخې د محکوم عليه د شتمنۍ د څرنگوالي يا نورو حالتونو په تثبيتولو سره د حکم په نص کې د قسطونو په ورکولو تجويز کړي.

**دوه سوه شپږ شپيتمه ماده:**

په لاندنيو حالاتوکې د محکمې پريکړه قطعيت مومي:

۱- د قانوني عذر څخه پرته د شکايت د مودې پای ته رسيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- پورتني محکمې ته د شکايت يا اعتراض وړاندې کول په هغه صورت کې چې په پورتني محکمه کې د قضيې په خېړلو سره پرېکړه نقض نه شي.

## څوارلسم فصل
## د محکمې قرار

**دوه سوه اووه شپېتمه ماده:**

د محکمې قرار قضائي تصميم دی چې د دعوی ماهيت ته متوجه ندی خېړنې په شکل کې صورت نيسي.

**دوه سوه اته شپېتمه ماده:**

د محکمې قرار د دې قانون د دوه سوه درې څلوېښتمې مادې د حکم سره سم د مشورې په خونه کې د قضائي هيأت په واسطه صادرېږي.

**دوه سوه نهه شپېتمه ماده:**

په عادي موضوعاتو کې کولای شي ددې قانون د دوه سوه اته شپېتمې مادې د حکم له په پام کې نيولو څخه پرته د قضائي هيأت له مشورې نه وروسته قرار صادر کړي او په محضر کې يې درج کړي.

**دوه سوه اويايمه ماده:**

د محکمې قرار عندالصدور ابلاغيږي.

**دوه سوه يو اويايمه ماده:**

د محکمې قرار د لاندنيو مطلبونو لرونکی دی:

۱- د قرار د صادريدو نېټه او ځای.

۲- د قرار د صادروونکې محکمې نوم، د محکمې او دقضائي غونډې د منشي جوړښت.

۳- د شخړې د موضوع په قضيه کې شامل کسان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- هغه موضوع چې د هغه په هکله قرار صادرېږي.
۵- هغه علتونه او سببونه چې محکمه د هغه پر بنأ خپل قرار صادر کړی دی.
۶- د محکمې قانوني اتکاء.
۷- نتيجه اخيستنه او د قضائی هيأت وروستی تصميم.
۸- د هغه قرار پر خلاف د شکايت د مودې ټاکل چې د قانون له مخې وروستي نه وي.
۹- په هغو موردونو کې چې قرار د قانون د حکمونو سره سم وروستي وګڼل شي.

## پنځلسم فصل
## د حکم سببونه (د ثبوت وسيلې)

**دوه سوه دوه اويايمه ماده:**
د ثبوت وسيلې چې د حکم سببونه جوړوي په لاندې ډول دي:
۱- اقرار.
۲- بينه (سندونه، شاهدان، قاطعه او مستنبطه قرينې).
۳- يمين (لوړه).
۴- نکول.

**دوه سوه درې اويايمه ماده:**
اقرار په محکمه کې پر هغې چارې باندې له اخبار څخه عبارت دی چې د دعوی د لورې د حق پاتې کېدل يا د اقرار کوونکې پر خلاف يو حالت ثابتوي.

**دوه سوه څلور اويايمه ماده:**
د محکمې په وړاندې د حقوقي او قانوني اهليت لرونکي مقر اقرار په هغه صورت کې د اعتبار وړ دی چې ظاهر الحال يې مکذب نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه پنځه اویایمه ماده:**

اقرار د حاضر مقرله په قبلولو مقید نه دی خو رد یې د مقرله، له خوا صورت نیولی شي په هغه صورت کې چې د اقرار یوه برخه د مقر له له خوا رد شي په پاتې برخه کې اقرار صحیح دی.

**دوه سوه شپږ اویایمه ماده:**

د غایب پر حق باندې اقرار د مقر له اقرار څخه د غایب د خبرېدو او تصدیق تر وخت پورې نه نافذیږي.

**دوه سوه اووه اویایمه ماده:**

له هغه اقرار څخه رجوع چې د دې قانون د دوه سوه درې اویایمې مادې د حکم سره سم صورت نیولی وي اعتبار نه لري.

**دوه سوه اته اویایمه ماده:**

په نه افراز شوې سهم کې په مشاع اقرار صحت لري.

**دوه سوه نهه اویایمه ماده:**

که مدعی علیه د مدعی په ادعا کې د محکمې په وړاندې اقرار وکړي، محکوم علیه پېژندل کېږي.

**دوه سوه اتیایمه ماده:**

که مدعی علیه انکار وکړي مدعی مکلف دی د خپل ادعا د ثابتولو له پاره محکمې ته اثباتیه مدرکونه وړاندې کړي.

**دوه سوه یو اتیایمه ماده:**

اثباتیه مدرکونه په لاندې ډول دي:

۱- سندونه.

۲- د شاهدانو شهادت.

۳- قرینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه دوه اتیایمه ماده:**

سندونه دوه ډوله دي:

۱- رسمي سندونه.

۲- عرفي سندونه.

**دوه سوه دري اتیایمه ماده:**

رسمي او عرفي سندونه هغه سندونه دي چې د مدني قانون د نهه سوه یو نوي یمې مادې په لومړۍ او دوه یمه فقره کې تصریح شوي دي.

**دوه سوه څلور اتیایمه ماده:**

رسمي سندونه د مقر، ورثې او د هغه د قایم مقام په هکله د دعوی له دوران څخه د مخه د اعتبار وړ او د الزام دلیل دي.

**دوه سوه پنځه اتیایمه ماده:**

چا چې په رسمي سندونو کې د پیژندني د شاهد په توګه منل شوي وي او ځانته د سند د مندرج ملکیت ادعا وکړي، نوموړی رسمي سند د هغه پر خلاف دعوی له دوران نه د مخه د الزام دلیل دی.

**دوه سوه شپږ اتیایمه ماده:**

د رسمي سندونو پر خلاف د مدعی دعوی د مدعی علیه له خوا د مبطل سند په وړاندې کولو سره باطل یا د مدعی علیه په اقرار سره ثابتیږي.

**دوه سوه اووه اتیایمه ماده:**

فرمانونه، رسمي سندونه د محکمې قطعي پریکړې او قرارونه په هغه صورت کې چې له جعل او تزویر څخه عاري وي او په دولتي اداره یا د قضا په دیوان کې د محفوظ ثبت لرونکي وي مثبته سندونه شمیرل کیږي د اثبات او الزام دلیل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه اته اتيايمه ماده:**

هغه رسمي سندونه چې په جوړونه اوتنظيم کې يې د قانون شرطونه او حکمونه په پام کې نيول شوی نه وی د عرفي سندونو حيثيت لري.

**دوه سوه نهه اتيايمه ماده:**

هغه عرفي سندونه چې د دواړو خواوو تر منځ ليکل شوی او د هغوی لاسليک، مهر او يا ګوتی پکی لګيدلی وی په هغه صورت کې چې دواړه خواوی خپل مهر، لاسليک او ګوتی تصديق کړی د رسمي سندونو په شان د اعتبار وړ دی.

**دوه سوه نوی يمه ماده:**

هغه عرفي سند چې د شخص په ليک او کتابت سره ليکل شوی او لاسليک شوی وی په هغه صورت کې چې د هغه ليکنه او لاسليک د اړوند کار پوه او اهل خبری له خوا تثبيت شی د رسمي سند په څير د اعتبار وړ ده.

**دوه سوه يو نوی يمه ماده:**

هغه کسان چې عرفي سندونه د هغوی په مهر، لاسليک، يا د ګوتی د نښی په لرلو سره په يوه خصومت کې وړاندی کيږی مکلف دی چې خپل مهر، لاسليک او يا د خپلی ګوتی تصديق يا ور څخه انکار وکړی سکوت د انکار په حکم کې دی.

**دوه سوه دوه نوی يمه ماده:**

وارث د خپل مورث د مهر، لاسليک او ګوتی په تصديق کولو يا انکار کولو نه مجبوريږی يوازی د اقرار، انکار يا د بی خبری د ښرګندولو حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه دری نوی یمه ماده:**

د ځانګو د لاسلیک شوی مکاتیبو، تیلګرام او نورو پاڼو مینوت چې په دفتر کې موجود وی د عرفی سندونو حیثیت لری.

**دوه سوه څلور نوی یمه ماده:**

د محکمو په ټولو وثیقو کې د پیژندنی د دوو شاهدانو شهادت درج کول چې د شهادت ورکولو اهلیت ولری هرو مرو دی. پیژندل شوی کسان د محکمی په وړاندی له دی حکم څخه جلا دی.

**دوه سوه پنځه نوی یمه ماده:**

د ورثې او شریک د تعدد په صورت کې که د هغوی د جملی څخه ځینی کومه وثیقه ترتیب کړی وی دا وثیقه یوازی د ترتیب کوونکو په برخه کې د اعتبار وړ ده پاتی ورثی او شریکان پکی نه شاملیږی.

**دوه سوه شپږ نوی یمه ماده:**

(۱) قاضی په هغه محکمه کې چې دنده تر سره کوی نه شی کولای چې د خپل ځان، پلار، نیکه، مور، انا، اولاد، ورور، خور، میړه او میرمنی او د اړوندی محکمی کار کوونکو له پاره وثیقه ترتیب کړی.

(۲) د اړوندی محکمی د قاضی له خوا د شاهدانو، اهل خبری یا ژباړونکی په توګه د دی مادی د لومړی فقری د مندرجو کسانو قبلول جواز نه لری.

**دوه سوه اووه نوی یمه ماده:**

د دی قانون د دوه سوه شپږ نوی یمی مادی د مندرجو کسانو وثیقی په ګاونډی محکمه کې جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه اته نوی یمه ماده:**

د رسمي سندونو د مشبوهیت او جعل پر بناء د عریضو وارسي په واکمنې لومړنۍ محکمې پورې اړه لري.*

**دوه سوه نهه نوی یمه ماده:**

که د سندونو د مشبوهیت، جعل یا تزویر په باب عریضې نورو مرجعو ته وړاندې شي د اړوندې علاقه داري، ناحیوي، ښاري یا د ولسوالۍ محکمې ته لیږدول کیږي.*

**دری سومه ماده:**

که د سندونو په هکله د مشبوهیت، او جعل ادعا د ثابتولو غوښتونکې وي د موضوع جزائي تعقیب د حق العبدي تروروستي دوران پورې ځنډیږي.*

**دری سوه لومړۍ ماده:**

که محکمه د دلیلو نو له ارزیابۍ نه وروسته د مشبوهیت او جعل ادعا واردونه ګڼي د دعوی د نه دوران قرار صادروي. د دغه قرار پر خلاف استیناف غوښتل کېدای شي.

**دری سوه دوهمه ماده:**

که محکمه د دلیلونو له ارزیابۍ څخه وروسته د مشبوهیت او جعل ادعا وارد وګڼي د مشبوهیت او جعل د دعوی دوران قرار صادروي او مدعی ته تفهیم کوي ترڅو خپل صورت دعوی وړاندې کړي*

---

* ۲۹۸، ۲۹۹، ۳۰۰او ۳۰۲ مادې تعدیل شوي، د تعدیلونو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه درېیمه ماده:**

(۱) که د امر ظواهر، د دعوی یو د دواړو خواوو وړاندی کړای شوی سند محکمی ته مشبوه ښکاره شی محکمه کولای شی په رسمی توګه د هغه مثنی له جوړوونکی مرجع څخه وغواړي.

(۲) د دی مادی د لومړۍ فقری مندرج حکم په وړاندی شوی تصدیق کې د اشتباه په صورت کې هم تطبیقیږي.

**دری سوه څلورمه ماده:**

(۱) هغه برآمدګی او یا عبارتونه چې د یو رسمی سند د کرښو د ترمنځ یا په دوو خواوو کې لیکل شوی دی اعتبار نه لري.

(۲) په هغه صورت کې چې د دی مادی د لومړۍ فقری مندرجی زیاتوالی د سند د مقر، مقر له او شاهدانو له خوا تصدیق او لاس لیک شوی او د جوړوونکی له خوا مهر یا لاسلیک شوی وی د اعتبار وړ دی.

**دری سوه پنځمه ماده:**

هغه عبارتونه چې د ټول پور یا د هغه د یوی برخی د تر لاسه کولو په باب د مدیون په لاس کې د یو سند پرمخ او یا شا باندی د داین له خوا لیکل شوی دی په هغه صورت کې د اعتبار وړ دی چې داین د هغه په سموالی باندی معترف وی او یا د هغه په لیک او کتابت سره لیکل شوی او لاسلیک شوی وی.

**دری سوه شپږمه ماده:**

هغه لوری چې اصلی سند یی د رسمی مقامونو سره قید وی او محکمی ته د سند د وړاندی کولو د اړتیا سره سره د باوری دلیلونو پر بنا له وړاندی کولو څخه یی عاجز وی د محکمی په واسطه د اصلی سند غوښتنه کولای شی. له دغی چاری څخه راپیدا شوی لګښتونه د سند د خاوند په غاړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه اوومه ماده:**

هغه سندونه چې له هېواد څخه د باندې جوړ شوي دي په هغه حال کې د اعتبار وړ ګرځېدای شي چې نوموړي سند د افغانستان جمهوریت یو د سیاسي نماینده ګیو له خوا جوړ او تصدیق شوي وي او د بهرنیو چارو وزارت هم په رسمي توګه د هغه له سموالي څخه ډاډ څرګند کړی وي.

**دری سوه اتمه ماده:**

پر هغه سند باندې د استناد په صورت کې چې په بهرنۍ ژبه جوړ شوي دي ګټه اخیستونکی مکلف دی اصلي سند د هغه د مصدقه ژباړنې سره جوخت محکمې ته وړاندې کړي.

که د وړاندې کړای شوي سند ژباړنه د مقابل لوري یا محکمې د منلو وړونه ګرځي د محکمې له خوا د سند د وړاندې کوونکي په لګښت سره د هغه بیا ژباړلو ته لاس پوري کیږي. د لومړنۍ ژباړنې سره د دوهمې ژباړنې د سمون لرلو په صورت کې مقابل لوري ته د تاوانې شوي د مراجعې حق نه اخلال کیږي.

**دری سوه نهمه ماده:**

که د وړاندې کړای شوي سند د مشبوهیت او جعل دعواوې د محکمې د غونډې په وخت کې منځته راشي څرنګوالي یې ددعوې په ځانګړې فورمه کې ور داخلیږي. د ادعا کوونکي لاسلیک او ګوته د هغه په پای کې نیول کیږي.

**دری سوه لسمه ماده:**

(۱) که د مشبوهیت او یا جعل د ادعا په هکله سند د دعوې په ماهیت کې اغیزمنه نه وي د محکمې په وړاندې د اعتبار وړ نه ده د مدعي نور مدرکونه او سندونه اوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که د مشبوهیت او جعل د ادعا په باب وړاندی کړای شوی سند د دعوی په ماهیت کې اغیزمن وی محکمه د مشبوهیت یا جعل د دعوی د څېړلو په باب قرار صادروی او دایر شوی اصلی دعوی د وورستیو پړاوونو تر تېرېدو پوری ځنډوی.

**دری سوه یوولسمه ماده:**
د مشبوهیت او جعل مدعی مکلف دی چې خپله ادعا په واکمنه محکمه کې د یوی میاشتی په بهیرکی تعقیب کړی.*

**دری سوه دوولسمه ماده:**
که د مشبوهیت او جعل مدعی د دی قانون د دری سوه یوولسمی مادی په مندرجه موده کې د باوری عذر نه پرته خپلی دعوی ته حاضر نه شی محکمه د مدعی د حاضریدو له پاره بله نېټه ټاکی او اوروی یی، په هغه صورت کې چې مدعی بیا هم په ټاکلی موده کې د مشبوهیت او جعل دعوی تعقیب نه کړی د مشبوهیت او جعل په هکله د هغه د دعوی له پاره بله موده نه ټاکل کیږی، محکمه دواړه خواوی جلبوی او دایره شوی اصلی دعوی څېړی.*

**دری سوه دیارلسمه ماده:**
که د جعل د دعوی رسیدگی د اصلی دعوی د واکمنی محکمی نه پرته د بلی محکمی له خوا صورت ونیسی د جعل څېړونکی محکمه مکلفه ده د خپلو اجراآتو له نتیجی څخه هغی محکمی ته چې اصلی دعوی څېړی وقتا فوقتاً خبر ورکړی.*

---

* ۳۱۱ او ۳۱۲ مادې حذف شوي، د تعدیلونو برخې ته دې مراجعه وشي.

* ۳۱۳ ماده تعدیل شوې، د تعدیلونو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه څوارلسمه ماده:**

د مشبوه او جعلی سندونو په څېړلو کې د لاندنیو ټکو په پام کې نیول ضروری دی:

۱- پر لیک باندی ځیرکېدل.
۲- پر لاسلیک باندځیرکېدل.
۳- پر مهر باندی ځیرکېدل.
۴- د ګوتی پر نښه باندی ځیرکېدل.
۵- له تصحیح نه پرته ګل کول موښل او قلم وهل.
۶- له مهر او لاسلیک څخه پرته برآمده ګی.
۷- د وثیقی د شاملینو فوتو.
۸- د وثیقی په اصل او ثبت کې توپیر.

**دری سوه پنځلسمه ماده:**

د مشبوهیت او جعل د ادعا د څېړلو څرنګوالی بر سیره پر هغو حکمونو چې پدی قانون کې اټکل شوی دی د هغی ځانګړی لایحی په واسطه چې د وثیقو لیکنی او د وثیقی اشتباه پکی توضیح کیږی او دستری محکمی عالی شوري یی تصویبوی تنظیمیږی.

**دری سوه شپاړسمه ماده:**

د مدنی او عامه حقوقو په قضیو کې د مرافعه غوښتنی ادعا چې د ابرأ او سولی د وثیقو د مشبوهیت یا د اقرار، ابراء، او سولی د پریکړو له مخی مطرح کیږی. د مشبوهیت او جعل د ادعا دوراندی کولو د نېټی څخه د اعتبار وړ ده خو د وثیقی د اصل یا د پریکړی د صادریدو له نېټی څخه نه.

**دری سوه اووه لسمه ماده:**

پورتنی محکمه د دی قانون په دری سوه شپاړسمه ماده کې مندرجی وثیقی او پریکړی د مشبوهیت یا جعل او دلایلو له مخی څېړی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه صورت کې چې مشبوهیت او جعل موجود نه وي په تأیید یې حکم کوي.

**دری سوه اتلسمه ماده:**

که چیرې د محکمې حکم د اقرار اصلاح او ابراء پر اساس او یا د قضا د دیوان د محفوظ ثبت لرونکو وثیقو او رسمي سندونو پر بنا صادر شوی وي او د نوموړیو سندونو په باب د جعل او مشبوهیت ادعا منځته راغلې نه وي پورتنۍ محکمه د قضائي قرار په صادرولو سره د دغه ډول حکم مرافعه غوښتنې ردوي.

**دری سوه نولسمه ماده:**

محکمه نه شي کولای د هغو سندونو مثنی اشخاصو ته ورکړي کوم چې د مشبوهیت او جعل ادعا ور باندې شوې ده.

**دری سوه شلمه ماده:**

که د یو سند د جعلیت په باب د محکمې پریکړه قطعي شي د باطلیدو د حکم لنډیز د سند د اصل او کندې په پای کې لیکل کیږي او د اړوندې محکمې د رئیس مخصوص مهر پرې کیږي.

**دری سوه یوویشتمه ماده:**

(۱) د شاهدانو شهادت د قضا په غونډه کې د اشهد په لفظ سره پر حق باندې له اخبار څخه عبارت دی.

(۲) محکمه مکلفه ده د شاهدانو د شهادت شرایط په کلکه په پام کې ونیسي.

(۳) شهادت د اثباتیه توان له مخې له سند څخه وروسته په دوه یمه درجه کې ځای لري.

(۴) د شهادت نصاب او شرایط یې د اسلامي شریعت د حکمونو تابع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه دوه ویشتمه ماده:**
د شاهدانو شهادت د قضائی هیأت په غونډه کې په منفرد ډول د دعوی د دواړو خواوو په حضور کې اوریدل کیږی.

**دری سوه در ویشتمه ماده:**
محکمه د شاهدانو د شهادت له اوریدو د مخه مکلفه ده د شاهدانو بشپړ شهرت ځانته معلوم کړی.

**دری سوه څلیر ویشتمه ماده:**
(۱) که مدعی د قضائی هیأت او د دعوی د لوری په وړاندی د شاهدانو له حاضریدو نه د مخه د محکمی د پوښتنی په ځواب کې د شاهدانو بشپړ شهرت معرفی کړی خو د حاضریدو په وخت کې محکمی ته نور شاهدان حاضر کړی محکمه دا شاهدان نه قبلوی.
(۲) په هغه صورت کې چې مدعی هماغه شاهدان چې مخکی د هغوی بشپړی پیژندنی معرفی کړی دی کټ مټ حاضر کړی، شاهدانو ته محکمه اجازه ورکوی چې شهادت ووایی.

**دری سوه پنځه ویشتمه ماده:**
که په حقوقی معاملاتو کې محکمی ته د غونډی په ټاکلی ورځ یو د شاهدانو حاضر شی او بل یو شاهد د قانونی باوری عذر له امله ونشو حاضریدلی، محکمه د حاضر شوی شاهد څرګندونی اوری او د غایب شاهد حاضریدو ته مهلت ټاکی.
د حدودو او قصاص په قضیو کې شاهدان له دی حکم څخه جلا دی.

**دری سوه شپږ ویشتمه ماده:**
د شاهدانو شهادت په قضائی غونډه کې د محکمی د قضائی هیأت د یوه له خوا ثبتیږی د شاهدانو او د دعوی د دواړو خواوو په مخکی لوستل کیږی او د هغوی لاسلیک مهر او د ګوتی نښی پکی کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري سوه اووه ويشتمه ماده:**

(۱) که شاهدان د اربعه حدودو د زياتوالي يا د مدعي بها د تعدد له امله خپل شهادت له ياده ونه شي ويلای، خپل شهادت دی د ليکنی له مخی د محکمی د هيأت په وړاندی ولولي او په لازم وخت کې د اړتيا سره سم د مدعی، مدعی عليه او مدعی بها خواته اشاره وکړي.

(۲) د حدود او قصاص په دعوی کې د ليکنی له مخی شهادت ورکول جواز نه لري.

**دري سوه اته ويشتمه ماده:**

که مدعی عليه د شاهدانو له اقامی نه وروسته د شاهدانو شهادت تصديق کړي او يا د مدعی بها پر اصل باندی اقرار وکړي محکمه خپل حکم د مدعی عليه د اقرار پر بنا صادروي.

**دري سوه نهه ويشتمه ماده:**

د تيری د دفع له مدعی څخه ذواليدی شاهدان غوښتل کيږي او د ذواليدی د اثبات نه وروسته له مدعی عليه څخه حجت او برهان غوښتل کيږي د حجت او برهان له اقامی څخه د مدعی عليه د عاجز کېدو په صورت کې پر مدعی بها باندی د مدعی عليه د تيری په بنديدو او دفع کېدو حکم صادريږي.

**دري سوه دېرشمه ماده:**

(۱) د شاهدانو د حاضرولو له پاره د مودی او مهلت د ټاکلو واک د واټن د اوږد والی او حاضريدو د کيفيت د په نظر کې نيولو سره د محکمی څخه دی.

(۲) محکمه د شاهدانو د اقامی او مدعی ته تر دري ځلي پوری د حاضرولو وخت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه نهه اتیایمه ماده:**

که مدعی د محکمې په وړاندې ووايي چې که هر څومره وخت ماته راکړ شي شاهدان حاضر ولی نه شم د مدعی ځرګدونې د دعوی په فورمه کې ثبتیږي او د هغې په پای کې د ګوتې نښه او لاس لیک یې اخیستل کیږي، که بیا وروسته مدعی شاهدان راوړي نه قبلیږي.

**دری سوه نوي یمه ماده:**

که شاهدان د مدعی د غوښتنې پر بنا طوعاً محکمې ته را نه شي محکمه کولای شي د مدعی د غوښتنې له امله شاهدان را جلب کړي.

**دری سوه یو نوي یمه ماده:**

(۱) د مدعی بها د ثابتولو له پاره د متواترو شاهدانو نصاب تر پنځه ویشت کسه لږ نه وي.

(۲) د متواترو شاهدانو په هکله پټ او ښکاره تزکیه د تطبیق وړ نده.

**دری سوه دوه نوي یمه ماده:**

له محکمې څخه د باندې د شاهدانو شهادت اعتبار نه لري.

**دری سوه دری نوي یمه ماده:**

د فرع په هکله د اصل او د اصل په هکله د فرع، د میرمنې په هکله د میړه او یا د دې پر خلاف شهات او تر دویمې درجې پورې د نورو خپلوانو شهادت جواز نه لري.

**دری سوه څلور نوي یمه ماده:**

د شراکت په حال کې د شریک په هکله د شریک او په ګټه کې د رفیق په هکله د رفیق شهادت صحیح نه دی.

**دری سوه پنځه نوي یمه ماده:**

(۱) د ملزمه شاهدانو تزکیه او د تزکیې د شرایطو څرنګوالی د اسلامي شریعت د حکمونو تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) ستره محکمه مکلفه ده د ملزمه شاهدانو د پېژ او ښکاره تزکیې کړنلاره د اسلامي شریعت د حکمونو سره سم تنظیم کړي او د اجراء وړ وګرځوي.

**دري سوه اته دېرشمه ماده:**

(۱) قاطعه قرینه هغه ده چې د هغې په دلالت د یو مجهول امر وجود معلومیږي دا دلالت قرینه د یقین تر حد پورې رسوي د هغې له ظاهر څخه د متنازع فیها موضوع په اصل کې ګټه اخیستل کیږي.

(۲) که چا په یوه موده کې د بل چا مالکانه تصرفات وګوري او د ماشومتوب، لیونتوب او ورته نورو قانوني معاذیرو د نشتوالي سره سره د خپل ځان له خوا د مالک په شان دعوی و نه کړي که وروسته بیا دعوی وکړي د هغه د ملکیت دعوی د قاطعه قرینې په دلالت سره منتفي ده.

**دري سوه نهه دېرشمه ماده:**

(۱) مستنبطه قرینه هغه قرینه ده چې محکمه یې د دعوی د اړوندو حالتونو او د محاکمې له بهیر څخه استنباطوي او وروسته په خپل حکم کې د دلیل په توګه ورباندې اتکأ کوي.

(۲) پر مستنبطه قرینه باندې قانون د صریح نص د شته والي په صورت کې اتکأ جواز نه لري.

**دري سوه څلوېښتمه ماده:**

لوړه او له لوړې څخه نکول: که مدعي په محکمه کې د نورو وسیلو او اثباتیه مدرکونو له وړاندې کولو څخه عاجز شي کولای شي چې مدعی علیه ته لوړه متوجه کړي پدغه صورت کې محکمه د مدعي د غوښتنې له امله مدعی علیه ته قسم ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه یو څلویښتمه ماده:**

که مدعی علیه په محکمه کې لوړه وکړله د مدعی دعوی رد کیږي، د اوسنی خصومت په قطع کېدو حکم صادریږي.

**دری سوه دوه څلویښتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې دعوی د څو مطلبونو لرونکی وي په یوه لوړه بسنه کیږي.

**دری سوه دری څلویښتمه ماده:**

لوړه یا له لوړې څخه نکول په محکمه کې د خصم یا د هغه د قایم مقام په حضور اعتبار لري.

**دری سوه څلور څلویښتمه ماده:**

د لوړې منل او یا له لوړې څخه نکول په خپله مدعی علیه پوری اړه لري، له لوړې څخه د وکیل د ډډه کولو او یا د هغه له نکول څخه کومه اغیزه نه رامنځته کیږي.

**دری سوه پنځه څلویښتمه ماده:**

که مدعی د خپلی لوړې حق اسقاط کړي محکمه د مدعی د خصومت په نه کولو حکم صادروي.

**دری سوه شپږ څلویښتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې مدعی علیه له لوړې څخه نکول وکړي محکمه دی ومدعی ته د مدعی بها په رد کولو او یا سپارلو محکوموي.

**دری سوه اووه څلویښتمه ماده:**

مدعی علیه کولای شی د مدعی د دعوی په مقابل کې صحیح دفع ته لاس پوری کړي. د مدعی علیه دفع په لاندنیو حالتونو کې صحیح دفع شمیرل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- مدعی له خپلې دعوی څخه ابراء کړې ده.
۲- مدعی مدعی بها یې هبه کړې ده.
۳- مدعا بها یې له مدعی څخه پیرودلې ده.
۴- مدعی ته مطلوبه حق ایفا کړې ده.

**دري سوه اته څلوېښتمه ماده:**

(۱) که بالدفع مدعی د دفع له ثابتولو څخه عاجز شي د اصل مدعی د لوري غوښتنه کولای شي.

(۲) د مدعی علیه د دفع له دعوی څخه د مدعی د نکول په صورت کې د اصل مدعی دعوی رد کیږي او د محکوم علیه ځای نیسي.

**دري سوه نهه څلوېښتمه ماده:**

که مدعی پر ایفأ، هبه، شرأ او ابرأ باندې د مدعی علیه د دفع په مقابل کې لوړه وکړي په دغه صورت کې مدعی علیه پړکیږي.

**دري سوه پنځوسمه ماده:**

د نه اثبات په صورت کې د دفع په ترځ کې اقرار، مدعی علیه د مدعی بها په ورکولو محکوموي. د اقرار په غیر متضمنه دفع کې د دعوی بهیر په خپل اصلي حالت دوام مومي.

**دري سوه یو پنځوسمه ماده:**

د دعوی دفع د قانوني دعواوو د نورو شرایطو د رعایتولو مستلزم دی.

**دري سوه دوه پنځوسمه ماده:**

محکمه د مدني قانون د یو زرو دوه ویشتمې مادې څخه تر یو زرو څلیر ویشتمې مادې پورې د مندرجو حکمونو د په نظر کې نیولو سره د خصم د غوښتنې نه پرته په مستقیم ډول مدعی ته د لوري توجیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي دا لوړه د قضا په واک کې ده او بشپړوونکې لوړه ده چې موردونه یې دا دي:

۱- د استحقاق په دعوی کې چې مدعی بها بل چا سره وي او مستحق د هغې په هکله د استحقاق دعوي وکړي، محکمه مدعی ته د هغه د حق له ثابتېدو نه وروسته او د حکم له صادرولو نه د مخه د لاندنیو چارو په باب د لوړې توجیه کوي:

- مدعی بها یې په چا پلورلې نه ده.

- مدعی بهایې چا ته د سوغات او صدقې په ډول ورکړې نده.

- مدعی بها یې چاته هبه کړې نه ده.

۲- پر مړي باندې د پور او یا حق په دعوی کې محکمه مدعی ته د هغه د حق د ثابتېدونه وروسته او د حکم له صادرولو نه د مخه د لاندنې چارې په باب لوړې توجیه کوي:

- مدعی بها بالذات یا بالواسطه د مړ شوي سړي له خوا ورته ورکړ شوي نده.

۳- د شفع په دعوی کې محکمه شفیع ته د شفع د حق د ثابتېدو نه وروسته او د حکم له صادرولو نه د مخه د لاندنیو چارو په هکله د لوړې توجیه کوي:

- دوخت سره سم دشفع غوښتنه کړې ده.

- د خپل د شفع حق یې په هیڅ ډول له منځه وړې نه ده.

۴- د عیب له امله د مبیعې دردولو په دعوی کې محکمه مدعی ته د عیب له ثابتېدو نه وروسته او د حکم له صادرولو نه د مخه د لاندنې چارې په هکله د لوړې توجیه کول:

- پر عیب باندې صراحتاً یا دلالتاً خپل رضایت ښودلی نه وي.

۵- پر غایبه میره باندې د نفقې په دعوی کې محکمه میرمنې ته د حق د ثابتېدو نه وروسته او د حکم له صادرولو نه د مخه په لاندنیو چارو کې د لوړې توجیه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- میړه وده ته نفقه پرې ایښې نده.
- ده یې د خپل نکاح له عقد څخه خلاصه کړې نه ده.

**درې سوه درې پنځوسمه ماده:**
محکمه مدعی علیه ته د مدعی د غوښتنې پر اساس د خدای د ذات پر نامه باندې بې له تکراره یوه پلا سوګند ورکوي.

**درې سوه څلور پنځوسمه ماده:**
د لوړې په کولو نیابت جواز نه لري.

**درې سوه پنځه پنځوسمه ماده:**
د هغې پېښې او فعل په اړوند موضوع کې چې په خپله لوړه کوونکې سره یې منځته راوړې وې قاطعه لوړه (یمین البات) او د بل چا د پېښې او فعل په اړوند موضوع کې د علم لوړه توجیه کیږي.

**درې سوه شپږ پنځوسمه ماده:**
د یوې چارې په واقع کېدو او یا نه واقع کېدو په اړوند موضوع کې د سبب لوړه او د همدا اوس په بقایا نه بقا په اړوند موضوع کې د حاصل لوړه توجیه کیږي.
**درې سوه اووه پنځوسمه ماده:**
یو بل ته د دواړو خواوو د لوړې دردولو په اړوند موضوع کې د مدني قانون د پنځم باب د څلورم فصل د لومړۍ برخې مندرج حکمونه په پام کې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درییم باب
## په پورتنیو محکمو کې اجراآت

### لومړی فصل
### د لاندنیو محکمو پر پریکړو باندې شکایت او اعتراض

**دری سوه اته پنځوسمه ماده:**
شکایت او اعتراض د لاندنی محکمی له پریکړی څخه د غیر قانع، محکوم علیه له حق څخه عبارت دی چې له پورتنی محکمی څخه د حاکمی محکمی د قضائی اجراآتو پر خلاف د شکایت په وړاندی کولو سره غوښتل کیږی.

**دری سوه نهه پنځوسمه ماده:**
(۱) غیر قانع محکوم علیه کولای شی د ناحیوی، ښاری، ولسوالی او د علاقه داری د حاکمی محکمی د صادر کړای شویو حکمونو پر خلاف پورتنی محکمی ته شکایت او اعتراض وړاندی کړی.
(۲) غیر قانع محکوم علیه کولای شی د ولایتونو د محکمو د دیوانونو د صادره حکمونو پر خلاف چې په لومړنی ډول حکم صادر کړی دی د ستری محکمی اړوندو دیوانونو ته شکایت او اعتراض وړاندی کړی.

**دری سوه شپیتمه ماده:**
مدنی څارنوال چې په قضیه کې د مدعی یا مدعی علیه په ډول ګډون کړیدی د لاندنی محکمی د حکمونو پر خلاف اعتراض کولای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه یو شپیتمه ماده:**

د لاندنیو محکمو د نهایی حکمونو پر خلاف په لاندنیو موردونو کې شکایت او اعتراض صورت مومی:

۱- د قانونی حکمونو په تطبیقولو کې خطا.

۲- د قانونی حکمونو په تأویل کې خطا.

۳- د غیر قانونی حکم د صادریدو په دلیل په اجراآتو کې بطلان.

**دری سوه دوه شپیتمه ماده:**

د شکایت او اعتراض اساسی شرایط دا دی:

۱- د لاندنی محکمی پریکړه چې د حکم د صفت لرونکی وی.

۲- د لاندنی محکمی پر صادر شوی پریکړه باندی د محکوم علیه د رضایت نشتوالی.

۳- د اعتراض د وړاندی کولو قانونی مودی په پام کې نیول.

۴- د پورتنی محکمی له خوا د څېړلو د واک لرل.

۵- د هغی ځانګړی سند نشتوالی چې د محکوم علیه د اعتراض حق له منځه وړی وی.

۶- پورتنی محکمی ته د مدعی، مدعی علیه یا د هغوی د قانونی ممثل له خوا د اعتراض وړاندی کول.

۷- د محکوم علیه په رضایت سره د لاندنی محکمی د حکم نه تطبیق او اجرأ کېدل.

**دری سوه دری شپیتمه ماده:**

د ښاری، ناحیوی، ولسوالی او علاقه داری د محکمی پر پریکړو باندی د اعتراض څېړل د ولایت د محکمی د ریاست د اړوندو دیوانونو له واک څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه څلور شپیتمه ماده:**
د ولایت د محکمې د ریاست د دیوانونو او د دې د انډول محکمې پر لومړنیو پریکړو باندې د اعتراض څېړل د سترې محکمې د اړوند دیوان له واک څخه دي.

**دری سوه پنځه شپیتمه ماده:**
د شکایت او اعتراض د وړاندې کولو موده د حکم د صادریدو او ابلاغ نه وروسته یوه میاشت ده.

## دوهم فصل
## د شکایت یا اعتراض وړاندې کولو ډول

**دری سوه شپږ شپیتمه ماده:**
د لاندنۍ محکمې پر پریکړه باندې د غیر قانع محکوم علیه شکایت د چاپي عریضې د وړاندې کولو په ترڅ کې صورت نیسي.

**دری سوه اووه شپیتمه ماده:**
د شکایت په باب عریضه په مستقیم ډول پورتنۍ محکمې یا حاکمې محکمې ته وړاندې کیږي.

**دری سوه اته شپیتمه ماده:**
که غیر قانع لوری د حکم د ابلاغولو د هغې پاڼې په پای کې چې د ښاری، ناحیوی، ولسوالۍ او د علاقداری د محکمې له خوا ورته ورکول کیږي خپل نه قناعت ولیکي دغه امر د شکایت حیثیت لري.

**دری سوه نهه شپیتمه ماده:**
د غیر قانع لوري عریضه باید د موضوع د اصل او د لاندنۍ محکمې د حکم د بیان لرونکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري سوه اويايمه ماده:**

د غير قانع محکوم عليه دشکايت عريضه چې پورتني محکمې يا حاکمې محکمې ته وړاندې کيږي رسمي وي. د محکمې په دفتر کې ثبت او شکايت کوونکي ته رسيد ورکول کيږي.

**دري سوه يو اويايمه ماده:**

کوم شکايت او اعتراض چې د ټاکلې مودې له تيريدو نه وروسته وړاندې کيږي د څېړلو وړندې وړاندې کوونکي ته يې بيرته مسترديږي خو دا چې شاکي يا معترض باوري عذر وړاندې کړي.

**دري سوه دوه اويايمه ماده:**

د شکايت پاڼه د وړاندې کوونکي يا د هغه د قانوني ممثل په واسطه لاسليک کيږي.

**دري سوه دري اويايمه ماده:**

د څارنوال اعتراض چې پورتني محکمې ته وړاندې کيږي د دنده لرونکي څارنوال په واسطه لاسليک کيږي.

**دري سوه څلور اويايمه ماده:**

که شکايت د قانوني ممثل په واسطه وړاندې شي په شکايت پاڼه کې د وثيقې د نمبر او نېټې پر ليکلو بر سېره د وثيقې اصل، فوتوکاپي يا تصديق شوي کاپي هم پورتني محکمې ته وړاندې کيږي.

**دري سوه پنځه اويايمه ماده:**

پورتنۍ محکمه د شکايت پاڼې د تر لاسه کولو نه وروسته د پريکړې اړوندې پاڼې د هغې له مرجع څخه مطالبه کوي.

**دري سوه شپږ اويايمه ماده:**

د پريکړې اړوندې پاڼې د رارسيدو سره سم قضائي هيأت ته سپارل کيږي نوموړې هيأت په دې مطلب باندې د ځان د پوهولو نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شکايت په ټاکلې موده کې وړاندې شوېدی او پاڼې اداري نميګړتياوې نه لري په اندراج کولو يې امر کوي.

**دري سوه اووه اويايمه ماده:**

د شکايت کوونکي مفصل اعتراض د شکايت له وړاندې کولو نه وروسته د شلو ورځو په بهير کې وړاندې کيږي.

**دري سوه اته اويايمه ماده:**

ليکل شوی شکايت يا مفصل اعتراض د لاندنيو مطلبونو لرونکی دی:

۱- د شکايت يا اعتراض د مرجع د محکمې نوم.
۲- د شاکي يا اعتراض کوونکي پيژندنه.
۳- د شکايت يا اعتراض د موضوع د پريکړې لنډيز.
۴- د تر اعتراض لاندې پريکړې د صادرکوونکې محکمې نوم.
۵- د پريکړې د نه سموالي دليلونه.
۶- د شاکي يا اعتراض کوونکي غوښتنه.
۷- د شکايت يا اعتراض مل پاڼو او سندونو فهرست.

**دري سوه نهه اويايمه ماده:**

د دې قانون په دري سوه اته اويايمه ماده کې مندرج شکايت او يا اعتراض په دوو نسخو کې پورتنۍ محکمې ته وړاندې کيږي.

## دريم فصل
## د پورتنۍ محکمې لومړنۍ اجراآت

**دري سوه اتيايمه ماده:**

د پورتنۍ محکمې د تحريراتو څانګه د معترض د ليکلي شکايت يا اعتراض يو نقل د قضائي هيأت د غور او کتنې نه وروسته مقابل لوري ته سپارلي او ليکلي ځواب ځنې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري سوه يو اتيايمه ماده:**

(۱) که شاکي د ليکل شوي مفصل اعتراض له وړاندي کولو نه ډډه وکړي يا د اعتراض له وړاندي کولو څخه د خپل عجز په باب عذر ښکاره کړي محکمه د هغه پر شفاهي د ليلونو باندي بسنه کوي د هغه د څرګندونو په پای کې لاسليک او د ګوتی نښه يی اخلی.

(۲) د دی مادی د لومړی فقری حکم د شاکی او معترض د مقابل لوری په هکله هم د تطبيق وړ دی.

**دري سوه دوه اتيايمه ماده:**

پورتنی محکمه په لاندنيو موردونو کې د شکايت د اجراآتو د ځنډولو په باب قرار صادروی او شاکی يا معترض ته د شکايت او يا اعتراض د تصحيح کولو په هکله مهلت ورکوی:

۱- په هغه صورت کې چې شکايت يا اعتراض د وړاندی کوونکو له خوا لاسليک شوی نه وی.

۲- په هغه صورت کې چې شکايت سره جوخت لازمی ضميمی محکمی ته وړاندی شوی نه وی.

۳- په هغه صورت کې چې د شکايت يا اعتراض له املـه دولتی محصول ورکړ شوی نه وی.

**دري سوه دري اتيايمه ماده:**

شکايت يا اعتراض له پاره د مرور زمان موده محکمی ته د هغه د وړاندی کولو له نېټی څخه محاسبه کيږی. پدی شرط چې د شکايت يا اعتراض وړاندی کوونکی په ټاکلی موده کې د دری سوه دوه اتيايمی مادی د مندرج قرار لارښودنی تر سره کړی.

**دري سوه څلور اتيايمه ماده:**

د شکايت وړاندی کوونکی کولای شی له خپل شکايت څخه لاس واخلی خو پدی شرط چې پريکړه د دربيمګړی شخص تر شکايت يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض لاندې واقع شوې نه وي پدغه صورت کې محکمه د شکایت يا اعتراض څخه د لاس اخيستنې قرار صادروي او پدې هکله کې اجراآت پای ته رسوي.

**دری سوه پنځه اتيايمه ماده:**

(۱) د شکايت او اعتراض لاندې قضيه د دواړو خواوو له څرګندونو نه وروسته د څارنوال د اعتراض او د دواړو خواوو له ځواب سره د مطالعې د بشپړولو په خاطر قضائی هيأت ته سپارلی کيږي.
(۲) قضيه د قضائی هيأت د مطالعې له بشپړيدو نه وروسته په اجندا کې درج کيږي د شکايت د څېړلو او د قضائي غونډې د داېريدو ځای د دعوې د دواړو خواوو او د قضيې د شاکې کسانو خبرتيا ته رسول کيږي.

**دری سوه شپږ اتيايمه ماده:**

که دواړه خواوې د شکايت يا اعتراض له وړاندې کولو نه وروسته په وروستی پړاو کې په اصلاح سره موافقه وکړي دا موافقه محکمې ته په ليکلی ډول وړاندې کيږي او د تأييد کېدو په صورت کې پورتنی محکمه د اجراآتو په پای ته رسيدو تصميم نيسي.

## څلورم فصل
## د شکايت او اعتراض د څېړلو په خاطر د قضائی غونډې داېريدل

**دری سوه اووه اتيايمه ماده:**

د قضائی غونډې رئيس د شکايت او اعتراض د څېړلو په پړاو کې د دې قانون د دوه هم باب د دريیم فصل د حکمونو د په نظر کې نيولو سره د قضائی غونډې د نظم د تأمينولو په خاطر لازم تدبيرونه نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه اته اتیایمه ماده:**

د قضائي غونډې رئيس د غونډې له پرانيستلو او د قضائي هيأت د جوړښت او د مدني څارنوال له پيژندلو نه وروسته لاندني موضوعات يي د څېړلو په خاطر اعلانوي:

- د څېړلو وړ قضيي ډول.
- د شاکي يا معترض پيژندنه.
- د هغې محکمې پيژندنه چې د هغې د پريکړې پر خلاف اعتراض شوی دی.
- د دعوی د دواړو خواوو هويت په دغه غونډه کې د غونډې د منشي له خوا ثبت کيږي.

**دری سوه نهه اتيايمه ماده:**

د قضيي د څېړلو له نېټې او ځای څخه د خبر نه لرلو په دليل د دعوی يو د شاملو کسانو د نه حاضريدو په صورت کې محکمه د څېړنې چاری ځنډوي.

**دری سوه نوی يمه ماده:**

(۱) د قضيي د څېړلو د نېټې او ځای څخه په پوهيدو سره سره د دعوی يو د شاملو کسانو نه حاضريدل د څېړلو ځنډنه شي کيدای.

(۲) که محکمه يي نه حاضريدل مؤجه وبولي کولای شي چې د قضيي څېړل وځنډوي.

**دری سوه يو نوی يمه ماده:**

(۱) محکمه په غونډه کې د څارنوال يا مدافع وکيل غير مؤجه نه حاضريدل پورتني څارنوال يا د مدافعو وکيلانو ټولنې ته خبر ورکوي.

(۲) که د محکمې د جلب نه وروسته مدافع وکيل تر لسو ورځو پوري قضائي غونډې ته حاضر نه شي محکمه د هغه دنه حاضريدو موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د قضیې د څېړلو د ځنډېدنې سبب شوې دي په رسمي توګه د مدافعو وکیلانو د هیأت ټولنې ته ابلاغوي.

**درې سوه دوه نوی یمه ماده:**

(۱) د استیناف په پړاو کې د قضیې څېړل د هغه رپوټ په لوستلو سره چې د پاڼو په مطالعه کولو سره جوړ شویدی د غونډې د رئیس یا قاضیانو د یو تن په واسطه پیل کیږي.

(۲) رپوټ د قضیې د څرنګوالي د لاندنۍ محکمې د حکم د شکایت او اعتراض د دلیلونو او هغو نورو موادو لرونکي دي چې محکمې ته نوي وړاندې شوي دي او هم د هغو مدرکونو لرونکي دي چې محکمه د پریکړې د سموالي په منظور یې څېړي.

**درې سوه درې نوی یمه ماده:**

(۱) پورتنۍ محکمه د قضیې څېړلو په وخت کې د موجودو دلیلونو او هغو دلیلونو له مخې چې د دواړو خواوو او یا په قضیه کې د نورو شاملو کسانو په واسطه وړاندې شوي دي په شکایت شویو برخو کې او په هغو برخو کې چې پر خلاف یې شکایت نشته دی او هم د هغو کسانو په ارتباط چې شکایت یې وړاندې کړی نه دی د لاندنۍ محکمې د پریکړې قانونیت او مدلل توب ارزیابي کوي.

(۲) محکمه د قضیې په هر اړخیزه ارزیابۍ کې د شکایت او اعتراض د دلیلونو تابع نه دی یوازې د څېړلو وسیله یې بولي.

**درې سوه څلور نوی یمه ماده:**

قضائي هیأت د قضیې د رپوټ له لوستل کېدو نه وروسته د دعوی د شاملو کسانو څرګندوني چې په قضائي غونډه کې حاضر شوي دي اوري لومړی شکایت وړاندې کوونکي یا وکیل یې، مدني څارنوال د اعتراض دوړاندې کولو په صورت کې څرګندوني کوي. د دعوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوارو خواوو د شکایت د وړاندی کیدو په صورت کې د مطلبونو په ثرګندولو کې د لومړیتوب حق د مدعی څخه دی.

**دری سوه پنځه نوی یمه ماده:**

په قضیه کې شامل ځارنوال د اړوندو کسانو د څرګندونو څخه وروسته د پریکړې د قانونیت او مدلل توب یا د معکوس حالت په هکله څرګندونی کوی.

**دری سوه شپږ نوی یمه ماده:**

د قضیی د شاملو کسانو د څرګندونو او د ځارنوال د رای له اوریدو نه وروسته قضائی هیأت د قضائی تصمیم د نیولو په خاطر د مشوری خونی ته ورننوځی.

**دری سوه اووه نوی یمه ماده:**

د قضائی هیأت مشوری، تصمیم او اعلانول یی د دی قانون د دوه هم باب د دوولسم فصل د مندرجو حکمونو سره سم صورت نیسی.

**دری سوه اته نوی یمه ماده:**

پورتنی محکمه په وروستی پړاو کې د قضیی د لومړنی څېړنی نه وروسته لاندنی واکونه لری:

۱- د لاندنی محکمی د پریکړې د باطلیدو په صورت کې د بیا څېړلو په خاطر واکمنی محکمی ته د قضیی استول.

۲- د لاندنی محکمی د پریکړې د نقض په صورت کې یا د بیا څېړلو په خاطر د زیاتو دلیلونو او تحقیقاتو د راټولولو په منظور حاکمی محکمی ته د قضیی استولو ته د اړتیا په صورت کې د نوی پرېکړې صادرولو ته لاس پوری کوی.

۳- د بطلان او نقض له موردونو څخه لیری او د شکلی نیمګړتیاوو یا په عددونو او رقمونو کې د سهو او خطا د اشتباه ګانو لرونکی د لاندنیو محکمو پریکړې د پورتنی محکمی له خوا نقض او یا باطل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي نه، خو يوازې د نيمګړتيا د استدراک او اصلاح له پاره لاندنۍ محکمې ته اعادهٔ کېږي.

۴- د لاندنۍ محکمې د پرېکړې تأييدول په هغه صورت کې چې د غور کېدو په نتيجه کې د قانون سره د هغې سمون لرل ښکاره شي.

**دری سوه نهه نوی یمه ماده:**

د پرېکړې د بطلان سببونه په لاندې ډول دي:

۱- په پريکړه کې د قضا د اساسي ارکانو نشتوالی.

۲- د مخاصمې له پاره د دعوی يو د دواړو خواوو د واک نشتوالی.

۳- د مدعی بها په هکله د غير محتمل الثبوت او يا د عينی واقعيت سره مخالف د قضائی پريکړې صادريدل.

۴- د واک نه لرونکی قضائی هيأت له خوا د پريکړې صادريدل.

۵- د واک نه لرونکی محکمې له خوا د پرېکړې صادريدل.

**څلور سومه ماده:**

د پريکړې د نقض موردونه په لاندې ډول دي:

۱- د پرېکړې نه مدلل توب.

۲- د هغو حالتونو د توضيح نشتوالی کوم چې د قضيې د روښانه کېدو ارزښت لري.

۳- د قضيې له حالتونو سره په پريکړه کې د مندرجو دليلونو سمون نه لرل.

۴- د قوانينو له حکمونو څخه سمه استفاده نه کول.

۵- د مدعی د نه حاضريدو له امله د خصومت نه کولو د پرېکړې صادريدل.

۶- هغه نوري خطاګانی چې د قانون له مخې د پريکړې د نقض باعث وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه لومړۍ ماده:**
د لاندنيو محکمو د پريکړو څخه د پورتنيو محکمو تأييد د قرار په واسطه صورت نيسي.

## پنځم فصل
## د پرېکړې دنه سموالي او د هغې د نقض په هکله د پورتنی محکمی د قرار صادرول

**څلور سوه دويمه ماده:**
د نقض په هکله د پورتنی محکمی تصميم د قرار په ډول صادرېږي او نوموړی قرار د لاندنيو مطلبونو لرونکی دی:
۱- د قرار د صادريدو نېټه او ځای.
۲- د قرار د صادروونکی محکمی نوم.
۳- د قضائی هيأت جوړښت.
۴- د مدنی څارنوال او د قضيې د څېړنې د شاملو کسانو پيژندنی.
۵- د شکايت يا اعتراض دوړاندی کوونکی شخص پيژندنه.
۶- د لاندنی محکمی د پريکړې لنډ متن.
۷- د وړاندی شوی شکايت يا اعتراض لنډ متن.
۸- په محکمه کې د قضيې په څېړلو کې د شاملو کسانو څرګندونی.
۹- د مدنی دعوی د راپارولو عوامل او د محکمی نتيجه اخيستنی.
۱۰- د محکمی د استناد وړ قانون.
۱۱- د پرېکړې د نقض په هکله د قضائی هيأت تصميم.

**څلور سوه درېيمه ماده:**
د پرېکړې د نقض کېدو او بيا څېړلو ته د هغې د استولو په صورت کې پورتنی محکمه په خپل قرار کې لاندنی مطلبونه په ډاګه کوی:
۱- د قضيې د توضيح وړ حالتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د اثبات د غوښتنې وړ دلیلونه.
۳- هغه نور اجراآت چې په لاندنی محکمه کې تر سره کیږي.

**څلور سوه څلورمه ماده:**

د لاندنی محکمې د پریکړې د نقض په هکله د پورتنی محکمې قرار د شکایت وړ نه دی او قطعي دی.

**څلور سوه پنځمه ماده:**

(۱) د بیا څیړلو په برخه کې د بطلان یا نقض په هکله د پورتنی محکمې د قرار د مندرجاتو تطبیق هرو مرو دی.
(۲) لاندنی محکمه د خپل حکم په صادرولو کې د پورتنی محکمې قرار ته په بې قید او شرط غاړه ایښودنې اړ نه ده.

**څلور سوه شپږمه ماده:**

د وړاندې شوی شکایت یا اعتراض درد کېدو په صورت کې، پورتنی محکمه په خپل قرار کې درد دلیلونه تصریح کوي.

## شپږم فصل
## د لاندنی محکمې پر قرار باندې د شکایت او اعتراض وړاندې کول

**څلور سوه اوومه ماده:**

د قضیې دواړه خواوې کولای شي د محکمې د هغه قرار په خلاف چې په لومړي پړاو کې صادر شوی دی شکایت او اعتراض وړاندې کړي.

**څلور سوه اتمه ماده:**

لاندنی قرارونه د شکایت او اعتراض وړ گرزیدای شي:
۱- هغه قرارونه چې د ولایت د محکمې، د ښاري، ناحیوي، ولسوالۍ او علاقه داری د محکمې له خوا د واک لرلو او واک نه لرلو له مخې صادر شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه قرارونه چې د مودې د تېرېدو یا نه تېرېدو په هکله صادرېږي.
۳- نور هغه موردونه چې د دې قانون له مخې د لاندنې محکمې قرار د شکایت او اعتراض وړ وګڼل شي.

**څلور سوه نهمه ماده:**

پورتنۍ محکمه د لاندنۍ محکمې پر قرارونو باندې د شکایت او اعتراض له څېړلو نه وروسته چې په قانون کې اټکل شوې دي په لاندې ډول تصمیم نیسي:

۱- قرار یې تأیید، شکایت یا اعتراض یې رد کوي.
۲- قرار یې نقضوي، موضوع لاندنۍ محکمې ته د بیا څېړلو له پاره استوي.
۳- هغه قرار چې د دعوې په ماهیت کې صادر شوی دی نقضوي او لومړنۍ محکمې ته د پرېکړې د صادرولو په خاطر یې استوي.

**څلور سوه لسمه ماده:**

د لاندنۍ محکمې د قرار د نقضولو په هکله د پورتنۍ محکمې صادره قرار د دې قانون د څلور سوه نهمې مادې په مندرجو حالتونو کې واجب التعمیل دی.

## اووم فصل

## د لاندنۍ محکمې د صادره حکمونو پر خلاف د شکایتونو په څېړلو کې د پورتنیو محکمو واکونه

**څلور سوه یوولسمه ماده:**

که د قانون د حکمونو سره سم د قضیې د پرېکړې واک له یوې محکمې څخه بلې محکمې ته سپارل شوی وي د صادر شوې پرېکړې پر خلاف د شکایت استدعا حاکمې محکمې یا د هغه ولایت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمې ریاست ته وړاندې کیږي چې د پریکړې صادروونکې محکمه د هغې په قضائي ونډ کې ځای لري.

**څلور سوه دوولسمه ماده:**

(۱) د ټاکلې مودې د تېرېدونه وروسته د دواړو خواوو د شکایت حق له منځه ځي.

(۲) په هغه صورت کې چې د دعوی یو د دواړو خواوو قایم مقام په ټاکلې موده کې شکایت و نه کړي هغه لوری چې له دې بابته تاواني شوی وي په لاندنۍ محکمه کې د قایم مقام پر خلاف دعوی اقامه کولای شي.

**څلور سوه دیارلسمه ماده:**

که یو د دواړو خواوو څخه په ټاکلې موده کې شکایت وکړي هغه بل لوری د شکایت د مودې د سرته رسیدو سره سره د دعوی د پای ته رسیدو او پریکړې تر وخت پورې د شکایت واک لري.

**څلور سوه څوار لسمه ماده:**

هغه کسان چې پر دعوی یې په لاندنۍ محکمه کې بالذات یا د وکیل، ولي، وصي یا قیم په واسطه پریکړه شوې وي د شکایت حق هم هغو کسانو له پاره خوندي دی.

**څلور سوه پنځلسمه ماده:**

پورتنۍ محکمه نه شي کولای چې د لاندنۍ محکمې د مخکینۍ پرېکړې څخه پرته په مستقیم ډول د دعوی حل او فصل ته لاس پوري کړي خو دا چې په قانون کې بل ډول اټکل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه شپاړسمه ماده:**

د محکمې پرېکړې ته د صغیر، لیوني، معتوه یا ولي، وصي، وکیل او قیم صریح یا ضمني رضایت د اعتبار وړ نه دی کوم وکیل چې د خپل مؤکل له خوا د قناعت کولو واک لري له دې حکم څخه جلا دی.

**څلور سوه اووه لسمه ماده:**

لاندني موردونه د لاندني محکمې پر پرېکړه باندې د ضمني قناعت په حکم کې دي:

۱- د محکمې په لګښتونو یا محصول کې محکوم له سره د محکوم علیه روغه جوړه.

۲- له محکوم له څخه د محکوم علیه له خوا د پور دور کړې له پاره د مهلت غوښتنه.

۳- د موضوع په اصل کې د شاکي نه شکایت او د محکمې له لګښتونو څخه د شکایت بسنه.

**څلور سوه اتلسمه ماده:**

که شاکي یا متعرض په ټاکلې موده کې خپل اعتراض یا شکایت وړاندې کړي او په خپله د خبر ورکولو او باوري عذر څخه پرته پورتنۍ محکمې ته حاضر نه شي محکمه د شکایت یا اعتراض د حق د ساقطیدو په هکله خپل تصمیم صادروي او د محکمې تصمیم په دفتر کې د ثبت نه وروسته اړوندو مرجعو ته اورول کیږي.

**څلور سوه نولسمه ماده:**

په ټاکلې موده کې محکمې ته د معترض د مقابل لوري د نه حاضریدو په صورت کې د معترض د اعتراض حق په خپل حال پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه شلمه ماده:**

د مودې د سرته رسيدو او د درېيم ګړي شخص له حق سره د لاندني محکمې د حکم د تماس لرلو په دليل د معترض د اعتراض د حق ساقطيدل د لاندني محکمې د پرېکړې پر خلاف د درېيمګړي شخص د اعتراض د حق خنډ کېداى نه شي.

**څلور سوه يو ويشتمه ماده:**

د وروستي حکم د تطبيق او اجرأ نه وروسته د درېيم ګړي شخص اعتراض د باوري عذر د وړاندې کولو نه پرته اعتبار نه لري.

**څلور سوه دوه ويشتمه ماده:**

د ښارې، ناحيوې، ولسوالۍ او د علاقه دارۍ د محکمې د حکم نقض او بطلان له دغو محکمو سره د ورته درجې محکمې له خوا صورت نيولاى نه شي.

**څلور سوه در ويشتمه ماده:**

د پورتني محکمې له خوا د شکايت د اوريدلو واک د مدعى بها د بيې له مخې قانوناً تحديد شويدى هغه دعواوې چې موضوعات يې په لاندې ډول ذکر کيږي له نوموړې تحديد څخه جلا دي:

۱- د لښتې د حق دعوې يا دهغې د احداث دعوى.

۲- د دروازې او کړکۍ د بندولو دعوى.

۳- د متروکه مالونو د ويش دعوى.

۴- د اثبات، ترک او له دعوى څخه د ډډه کولو په جهت کې د شفع حق.

۵- د ګاونډې د ودانۍ د جګوالي دعوى او د هغې د ضرر د دفع کولو غوښتنه.

۶- د مبرز او ناووه چې د بل شخص د حويلۍ خواته وي د ضرر د دفع کولو دعوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- له ګډې ویالې څخه د نوی لښتې د کیندلو دعوی.
۸- د قنات د کیندلو دعوی که د هغه د کیندلو له امله بل قنات ته تاوان پیښ شي.
۹- د نیمګړې، قانونی اهلیت نه لرونکو او غایبو کسانو دعوی چې مدعی یا مدعی علیه واقع شوی وی او د هغوی په ضرر حکم صادر شوی وی.
۱۰- د حق آبې دعوی.
۱۱- د مرور د حق دعوی.
۱۲- د مرور زمان دعوی.
۱۳- هغه دعوی چې یوه خوایې دولت وی او د دولت د قضایاوو د اداری استازی محکوم علیه شي.

**څلور سوه څلیر ویشتمه ماده:**

د محکوم علیه د تعدد او یو د هغوی له خوا د شکایت د وړاندی کولو په صورت کې که حکم د تجزیې وړ وګڼل شی هغو کسانو چې شکایت نه دی کړی د شاکی له شکایت څخه برخمن کیدلای نه شي.

**څلور سوه پنځه ویشتمه ماده:**

د لاندنیو محکمو د غیر نهایی پریکړو او صادر شوی قضائی قرارونو پر خلاف د شکایت او اعتراض اړوند حکمونه د لاندنیو محکمو پر نهایی حکمونو او قرارونو باندی هم تطبیقیږی.

**څلور سوه شپږ ویشتمه ماده:**

د ولایت د محکمی دیوانونه د قانون له حکمونو سره توپیر لرلو د قانون په تطبیق کې د خطا ، په تاویل کې خطا یا په اجراآتو کې د هغسی بطلان په صورت کې چې د غیر قانونی حکم په صادریدو منجر شوی وی مدنی قضیې پر وروستی حکمونو باندی د دعوی د لوری د شکایت یا د څارنوال د اعتراض پر بنسټ څیړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه اووه ويشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د لاندني محکمې پريکړه او قرار د قانون د حکمونو سره سم صادر شوی وی او له نيمګړتياوو څخه ليری وی که د نوموړی پرېکړی پر خلاف شکايت او اعتراض بی ځايه وګڼل شی پورتنی محکمه د وروستی حکم د قانونی توب او د هغه د تنفيذ کېدو په هکله خپل قضائی قرار صادروی.

**څلور سوه اته ويشتمه ماده:**

که د لاندنی محکمی په پرېکړه کې قانونيت په پام کې نيول شوی نه وی ددې قانون د دری سوه اته نوی يمی مادی د دوه يمی فقری حکم تطبيقيږی.

**څلور سوه نهه ويشتمه ماده:**

که د لاندنی محکمی وروستی پريکړه بطلان سره مخامخ شی قضيه واکمنی محکمی ته د بيا څېړلو په خاطر استول کېږی.

## څلورم باب
## د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضيو په ديوان کې اجراآت

**څلور سوه دېرشمه ماده:**

په ور وړاندی شويو قضيو کې د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضيو د ديوان واکونه په لاندنی ډول دی:

۱- د قانون د صراحت سره سم د قضيو لومړنی څېړنی.
۲- په وروستی پړاو کې څېړنه.
۳- د قانونيت له مخی څېړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی فصل
## د قضیو لومړنی څېړنی

**څلور سوه یو د یرشمه ماده:**
د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضیو دیوان هغه قضیی څېړی چې د قانون د حکمونو سره سم د لومړنی څېړنی په خاطر ورته احاله کیږی.

**څلور سوه دوه د یرشمه ماده:**
د ولایت او لویی ولسوالی د محکمو حکمونه په هغه صورت کې چې دوهم ځل بیا نقض شی په لومړنی ډول د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضیو په دیوان کې څېړل کیږی.

**څلور سوه دری د یرشمه ماده:**
د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضیو د دیوان حکم چې د دی قانون د څلور سوه یو د یرشمی او څلور سوه دوه د یرشمی مادو سره سم صادریږی وروستی ده.

**څلور سوه څلور د یرشمه ماده:**
د محاکمی هغه اصول او قاعدی چې په لومړنی پړاو کې د قضیو په حل او فصل کې د اجرأ وړ دی دستری محکمی د مدنی قضیو د دیوان په لومړنی څېړنی کې هم د پاملرنی وړ دی.

**څلور سوه پنځه د یرشمه ماده:**
په هغه پریکړه کې چې په لومړنی ډول د دیوان تر څېړنی لاندی نیولی کیږی د رأیو د اختلاف په صورت کې د رأیو په اکثریت سره وروستی پریکړه صادریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه هم فصل
## د فرجام غوښتنې شرايط او په هغې پورې اجراآت

**څلور سوه شپږ دېرشمه ماده:**
غير قانع لوري، مدني څارنوال او د دولت د قضاياوو استازې کولای شي خپل شکايت او اعتراض د هغو قضيو په هکله چې د ولايتونو، لويي ولسوالۍ د محکمو د ديوانونو او د کابل د ښاري محکمې په واسطه په لومړنې ډول ور باندې پرېکړې شويدي حاکمې محکمې يا د سترې محکمې د مدني او عامه حقوقو د قضيو ديوان ته وړاندې کړي. محکمه مکلفه ده چې فرجام غوښتنه ثبت کړي او د رارسيدو ليکلی سند يې فرجام غوښتونکي ته ورکړي.

**څلور سوه اووه دېرشمه ماده:**
۱- د فرجام غوښتنې موده دوه مياشتې ده.
۲- د دغې مودې محاسبه د حکم د ابلاغ کېدو له نېټې څخه صورت نيسي.

**څلور سوه اته دېرشمه ماده:**
د کابل په مرکز کې د فرجام غوښتنې د استدعا د وړاندې کولو مرجع د سترې محکمې د مدني او عامه حقوقو د قضيو ديوان دی او په ولايتونو کې فرجام غوښتونکي کولای شي خپله استدعا د ولايت د محکمې رياست ته وړاندې کړي.

**څلور سوه نهه دېرشمه ماده:**
د عامه حقوقو په قضيو کې هريو غير قانع لوري، د دولت د قضاياوو استازې يا مدني څارنوال فرجام غوښتلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه څلوېښتمه ماده:**

د فرجام غوښتنی استدعا د لاندنیو مطلبونو لرونکی ده:

۱- د دعوی د دواړو خواوو پیژندنی.

۲- د حکم د صادرکوونکی محکمی نوم.

۳- د هغی پریکړی حکم چې ور څخه شکایت صورت نیسی.

۴- د محکمی د حکم د ابلاغولو نېټه.

۵- د فرجام غوښتنی موجبات.

**څلور سوه یو څلوېښتمه ماده:**

هغه استدعا چې پکی د دی قانون د څلور سوه څلوېښتمی مادی حکم په پام کې نیول شوی نه وی د فرجام غوښتنی د څېړلو د مقام له خوا مستردیږی او له دی امر څخه راپیدا شوی ځنډ د فرجام غوښتنی په قانونی موده کې نه شمیرل کیږی.

**څلور سوه دوه څلوېښتمه ماده:**

د حکم د ابلاغ پاڼی په پای کې نه قناعت هم فرجام غوښتنه شمیرل کیږی.

**څلور سوه دری څلوېښتمه ماده:**

د حکم صادرروونکی محکمه د دی قانون د څلور سوه څلوېښتمی مادی د حکم سره سم د فرجام غوښتنی فورمه جوړ وی.

**څلور سوه څلور څلوېښتمه ماده:**

که د فرجام غوښتنی استدعا د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضایاوو دیوان ته وراندی شی د نوموړی دیوان تحریرات د موضوع پاڼی او د لاندنی محکمی پریکړه له اړوند مرجع څخه راغواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه پنځه څلوېښتمه ماده:**

په ولایتونو کې د فرجام غوښتنې د استدعا د څېړلو مرجع مکلف دی دیوی اونۍ په بهیر کې د موضوع پاڼې په رسمي توګه سترې محکمې ته واستوي.

**څلور سوه شپږ څلوېښتمه ماده:**

د اړوندو مراجعو په واسطه د فرجام غوښتنې د څېړنې د قانوني پړاوونو په پام کې نه نیول چې د پاڼو په لیږلو کې په ځنډ او ضرر منجر شي د سر غړوونکو د مسئولیت باعث کیږي.

**څلور سوه اووه څلوېښتمه ماده:**

په هغو قضیو کې چې دولت د دعوی لوری وی اړوندې پاڼې د محکوم علیه د شکایت یا د دولت د قضایاوو د استازي د اعتراض له کبله د نومړې اداري له لارې د سترې محکمې دیوان ته احاله کیږي.

**دریم فصل**

**په وروستي پړاو کې څېړنه**

**څلور سوه اته څلوېښتمه ماده:**

په وروستي پړاو کې د څېړنې په باب ددې قانون د دریم باب مندرج حکمونه د سترې محکمې د مدني او عامه حقوقو د قضیو په دیوان کې د تطبیق وړ دی د نقض او لاندنی محکمې ته د قضیې د لیږلو حالت له دې حکم څخه جلا دی.

**څلور سوه نهه څلوېښتمه ماده:**

ستره محکمه د قضیو د وروستي څېړنې په پړاو کې لاندنی واکونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په کلي او يا قسمي ډول د لاندني محکمې د پرېکړې يا قرار نقض او يا باطلول او اړوندې محکمې ته د همهغو قاضيانو يا په نوې ترکيب سره د بيا څېړلو په خاطر د قضيې لېږل.
۲- د قانون پر حکم باندې د استناد د خطا د تصحيح په خاطر د پرېکړې صادرول په هغه صورت کې چې د پرېکړې د نقض کيدو نه وروسته په قضيه کې د نويو دليلونو يا بشپړوونکو دليلونو راټولولو ته اړتيا منځ ته رانه شي او د قضيې حالتونه د لاندنې محکمې په واسطه په بشپړ او صحيح ډول څېړل شوي وي او يوازې د قانون پر حکم باندې په استناد کې خطا صورت نيولې وي.
۳- له دې امله چې د موضوع څېړل د پريکړې د صادرولو غوښتونکې ده د محکمې قرار د نقض په صورت کې حاکمې محکمې ته د بيا څېړلو په خاطر د پاڼو اعادهٔ کول، په دغه حالت کې د سترې محکمې په ديوان کې د دواړو خواوو حضور ته اړتيا نشته.
۴- د لاندنې محکمې د حکم تأييدول، دقانون سره سم د هغه د صادريدو په صورت کې.

## څلورم فصل
## د قانونيت له مخې د لاندنيو محکمو د وروستيو حکمونو څېړل

**څلور سوه پنځوسمه ماده:**
د ولايتونو، لويې ولسوالۍ او د کابل د ښاري محکمې د وروستيو حکمونو په هکله د فرجام غوښتنې څېړل د سترې محکمې په واک کې ده چې د فرجام غوښتونکې د استدعا پر بنسټ د سترې محکمې د مدني او عامه حقوقو د قضيو د ديوان په واسطه عملي کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه يو پنځوسمه ماده:**

(۱) د ستري محکمی د مدني او عامه حقوقو د قضيو ديوان د لاندنيو محکمو وروستي حکمونه يوازي د قانونيت او اسلامي شريعت له حکمونو سره د هغه د سمون لرلو له مخي څېړي.

(۲) که نوموړی ديوان د غور په نتيجه کې ډاډه شي چې د لاندني محکمي حکم د قانون او اسلامي شريعت د حکمونو سره سم صادر شوی دی شکايت او اعتراض رد کوی او دوروستي حکم په تنفيذولو باندي قرار صادروی.

(۳) که د ستري محکمی د اړوند ديوان د غور په نتيجه کې ثابت شي چې د لاندنيو محکمو په وروستيو حکمونو کې قانوني خطا صورت نيولي ده پرېکړه نقضوی او حالتونه يې له دليلونو سره تصريح کوی او د نوی پرېکړې د صادرولو له پاره لاندني محکمی ته يې استوی.

**څلور سوه دوه پنځوسمه ماده:**

د دی قانون په دري سوه نهه نوی يمه ماده کې درج شوی لاندنيو محکمو د وروستيو حکمونو د بطلان موجبات او په څلور سوومه ماده کې درج شوی د نقض اسباب د لاندنيو محکمو د وروستيو حکمونو د څېړلو په پړاو کې د قانونيت له مخی هم د تطبيق وړ دی.

**څلور سوه دري پنځوسمه ماده:**

د ستري محکمی د مدني او عامه حقوقو په ديوان کې د نه قناعت له کبله د لاندنيو محکمو د وروستيو حکمونو څېړل د اعتراض په وړاندی کولو موقوف نه دی د قانوني نيمګړتياوو د شته والي په صورت کې نوموړی حکمونه نقض کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه څلور پنځوسمه ماده:**

د قانون له حکمونو سره د توپیر لرلو په دلیل د پرېکړې په نقض کې هغو قانوني سندونو ته اعتبار ورکول کېږي چې د لاندني محکمې د حکم د صادریدو په وخت کې نافذوو.

**څلور سوه پنځه پنځوسمه ماده:**

په لاندنیو محکمو کې د ستري محکمې د اړوند دیوان په امر د نقض شوي پرېکړې بیا څېړل د نوي استدعا او عریضې په وړاندې کولو موقوف نه دي.

**څلور سوه شپږ پنځوسمه ماده:**

د فرجام غوښتنې د څېړلو په پړاو کې د محکمې د پرېکړې له موضوع څخه بهر اعتراضونه د څېړلو وړ نه دي، نوې دعوی ګڼل کېږي.

**څلور سوه اوه پنځوسمه ماده:**

هغه حکمونه چې په حادثه دعوی کې د اصلي دعوی په ترڅ کې صادرېږي د اصلي دعوی له پرېکړې نه د مخه د فرجام څېړلو وړ نه دي.

**څلور سوه اته پنځوسمه ماده:**

فرجام غوښتنه د لاندني محکمې په پرېکړه پورې مربوط د اړوندو حکمونو تنفیذ ځنډوي.

**څلور سوه نهه پنځوسمه ماده:**

د ستري محکمې د مدني او عامه حقوقو د قضیو دیوان د قانونیت له مخې د لاندنیو محکمو د وروستیو حکمونو د څېړلو په وخت کې کولای شي چې د دعوی دواړه خواوې جلب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه شپیتمه ماده:**
که د دعوی د لوری د استدعا او شکایت له کبله د ستری محکمی اړوند دیوان د ولایت د محکمی د دیوان حکم چې د مودی د سرته رسیدو او یا د دعوی د لوری د استیناف غوښتنی د حق دردولو پر بنسټ صادر شوی دی نقض کړی موضوع یی د لاندنی محکمی دیوان ته د نوی دوران له پاره اعادهٔ کوی.

**څلور سوه یو شپیتمه ماده:**
که د مودی د سرته رسیدو قرار یا حکم چې د ولایت د محکمی د اړوند دیوان له خوا صادر شوی وی د نقض وړ نه وی او شاکی یوازی د لومړنی محکمی د پریکړی پر قانونیت باندی اعتراض یا شکایت ولری د ولایت محکمه قضیه د قانونیت له مخی څیړی.

**څلور سوه دوه شپیتمه ماده:**
که د ولایت د محکمی اړوند دیوان د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضیو د دیوان له تصمیم سره مخالف حکم صادر کړی او نوموړی دیوان د ولایت د محکمی دوهمه پریکړه د نقض وړ تشخیص کړی د ستری محکمی د مدنی قضیو بشپړ هیأت موضوع څیړی.

**څلور سوه دری شپیتمه ماده:**
که د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د قضیو دیوان د لاندنی محکمی د اړوند دیوان د دوهمی پریکړی د صادریدو نه وروسته د اقامه شویو دلیلونو پر بنا قانع شی د حکم په تنفیذ کیدو قرار صادروی.

**څلور سوه څلور شپیتمه ماده:**
د لاندنی محکمی د حکم د نقضیدو او نوموړی محکمی ته د دعوی د بیا لیږلو په هکله د ولایت د محکمی قرار د ستری محکمی د مدنی او عامه حقوقو د دیوان په وړاندی د فرجام غوښتنی وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه پنځه شپیتمه ماده:**
که د لاندني محکمې پرېکړه د بطلان نیمګړتیا ونه لري او یوازې د جزیي او شکلي نیمګړتیاوو لرونکې وي پریکړه د حکم صادروونکې محکمې ته اعادهٔ کېږي په دغه صورت کې د دعوی نوي کېدل او د شاهدانو حاضریدل لزوم نه لري.

**څلور سوه شپږ شپیتمه ماده:**
د فرجام څېړلو دیوان کولای شي هغه اصلي پاڼې چې ددعوی دواړه خواوې لاندني محکمې ته وړاندې کړې دي د کتنې له پاره راوغواړي.

**څلور سوه اووه شپیتمه ماده:**
که فرجام غوښتونکی د قضیې د رارسیدو نه د یوې میاشتې په بهیر کې د باوري عذر نه پرته خپل اعتراض فرجام څېړونکي دیوان ته وړاندې نه کړي او په خپله حاضر نه شي د لاندني محکمې د پریکړې د تنفیذ او یا نقض په هکله قضائي قرار صادریږي.

**څلور سوه اته شپیتمه ماده:**
د فرجام څېړونکي دیوان صادره قرار د لاندنیو مطلبونو لرونکی دی:
۱- د دعوی د دواړو خواوو پیژندنې، کسب او استوګنځی.
۲- د دعوی د تحریک سبب.
۳- د لاندنی محکمې حکم.
۴- د دواړو خواوو د اعتراض او د وړاندې شویو دلیلونو لنډیز.
۵- د تنفیذ اسباب.
۶- د قانونیت له مخې د نقض او بطلان سببونه.

**څلور سوه نهه شپیتمه ماده:**
هغه پریکړه یا قرار چې د فرجام څېړونکي دیوان له خوا نقض یا باطل شویده حاکمې محکمې ته اعادهٔ کېږي. کومه محکمه چې پرېکړه ورلیږل شوې ده مکلفه ده چې د فرجام څېړلو حکم او یا تصمیم په هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو لفظونو او تورو سره په خپله دوهمه پریکړه کې ور داخل کړي. د دغې چارې په نه رعایتولو سره پرېکړه د دوهم ځل له پاره نقض کیږي.

**څلور سوه اویایمه ماده:**

که په یوه دعوی کې محکوم علیه له یو تن څخه زیات وي او د هغوی د یو تن د فرجام غوښتنې له کبله پرېکړه نقض شي نوریې له دې نقض څخه استفاده کولای نه شي، لاندنی موردونه له دې حکم څخه جلا دي:

۱- د پور په ورکولو باندې د اصیل او کفیل محکومیت.

۲- د ورثې او شریکانو تر منځ د ځمکو او مالونو تر که اوویش.

**څلور سوه یو اویایمه ماده:**

که د مرافعه محکمې محکوم علیه د فرجام غوښتنو د دیوان له خبرولو نه د مخه مړ شي د فرجام غوښتنې حقوق یې ورثې ته لیږدول کیږي.

**څلور سوه دوه اویایمه ماده:**

محکوم علیه له پریکړې نه د باندې پر دریېمګړي شخص باندې فرجام غوښتې نه شي.

**څلور سوه درې اویایمه ماده:**

که محکوم علیه د فرجام غوښتنې د مودې له سر ته رسیدونه وروسته مړ شي ورثه یې د فرجام غوښتنې حق نه لري. باوري عذر له دې حکم څخه جلا دی.

**څلور سوه څلور اویایمه ماده:**

د ملزمه شاهدانو نه تزکیه کېدل پریکړه د فرجام څېړلو د دیوان د غور وړ ګرځوي او حاکمې محکمې ته یې د لیږلو باعث کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه پنځه اویایمه ماده:**

د فرجام غوښتنې د حق او یا د مودې د سر ته رسیدو په هکله اختلاف را منځته کېدل د فرجام څېړلو د دیوان په واسطه د موضوع د څېړلو باعث کیږي.

**څلور سوه شپږ اویایمه ماده:**

د فرجام څېړلو دیوان په قضیه کې خپلې څېړنې په لاندې ډول تر سره کوي:

۱- د دعوی د دواړو خواوو د دلیلونو د قوت او ضعف څېړل.

۲- د لاندنی محکمې په حکم کې د مندرجو دلیلونو د قوت او ضعف څېړل.

**څلور سوه اووه اویایمه ماده:**

لاندنی محکمې مکلفې دي د دعوی د دواړو خواو په لاس کې موجود دلیلونه او د خپل حکم دلیلونه د قانوني مادو او د اسلامي شریعت د جزئیاتو په یادولو سره په پرېکړه کې په څرګند ډول درج کړي.

**څلور سوه اته اویایمه ماده:**

د وړاندې شویو دلیلونو او سندونو د په پام کې نیولو سره د فرجام غوښتونکی د اعتراضاتو تردید او یا قبلیدل ماده په ماده په قرار کې لیکل کیږي.

**څلور سوه نهه اویایمه ماده:**

د لاندنی محکمې صادره قرار او پرېکړې په لاندنیو موردونو کې د فرجام څېړلو وړ نه دي:

۱- هغه حکمونه چې پر صریح اقرار او یا ابراء مستند وي او فرجام غوښتونکی یوازې د خپل حضوري اقرار یا ابراء څخه منکر وي او قوي دلیلونه چې وثیقه یې مشبوه کړي موجود نه وي. په نه حضور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اقرار باندې د متواتر نفې د شاهدانو شته والی له دې امر څخه جلا دی.
۲- د دواړو خواوو د قناعت پر بنا چې رسمي بڼه یې حاصله کړې وي د فرجام غوښتنې د حق ساقطېدل.
۳- د هغه حکم، حکم چې دواړه خواوې په خپل رضایت سره د هغه د حکم پر قاطعیت اقرار کړی او حکم په شرعي وثیقه کې درج شوی وي.

## پنځم باب
## د مدني او عامه حقوقو په قضیو کې پر وروستیو پرېکړو او قرارونو باندې نوې کتنه

### لومړی فصل
### نوې کتنه

**څلور سوه اتیایمه ماده:**
قاضي القضات، لوی څارنوال، متضرر هر یو کولای شي چې د نویو دلیلونو د رامنځته کېدو له امله د محکمو پر وروستیو قرارونو یا پرېکړو باندې اعتراض وکړي.

**څلور سوه یو اتیایمه ماده:**
د محکمو پر وروستیو پرېکړو یا قرارونو باندې نوې کتنه د سترې محکمې د عالي شوري له واک څخه ده.

**څلور سوه دوه اتیایمه ماده:**
د نوې کتنې موردونه دا لاندې دي:
۱- د شاهدانو د شهادت د کذب ثابتېدل.
۲- د اهل خبرې د استنتاج د کذب ثابتېدل.
۳- په اثباتیه سندونو او مدرکونو کې د جعل او تزویر ثابتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د ژباړونکي د نا سمې ژباړنې ثابتېدل چې په حکم کې اغېزمن وي.
۵- د محکوم علیه له خوا د مثبته سند وړاندې کېدل کوم چې د حکم د صادرېدو په وخت کې موجود نه وي.
۶- نور نوي علتونه چې د څېړنې په وخت کې محکمې ته معلوم نه وو او د حکم د صادرېدو نه وروسته څرګند شوي وي او یا د څېړلو په وخت کې اصلاً د پام وړ ګرځېدلي نه وي او پورتني نوموړي علتونه د حکم د لغو کېدو موجب وګرځي.

## دوهم فصل
## د نوي کتنې اړوند اجراآت

**څلور سوه درې اتیایمه ماده:**
که د وروستي حکم د لغوې په هکله باوري دلیلونه موجود وي د سترې محکمې عالي شورې د حکم په لغو کېدو قرار صادروي، قضیه یې د بیا څېړلو له پاره حاکمې محکمې یا بلې محکمې ته استوي.

**څلور سوه څلور اتیایمه ماده:**
که د سترې محکمې عالي شورې تر کتنې لاندې قضیه د زیاتو څېړنو وړ تشخیص کړي د قضیې سوابق د لومړنۍ ارزیابۍ په خاطر د سترې محکمې د عالي شورې د غړیو د یو تن تر ریاست لاندې د مدني دیوان له دوو تنو غړیو څخه جوړ شوي کمېسیون ته سپاري.

**څلور سوه پنځه اتیایمه ماده:**
لومړنی کمیسیون پر وروستي پرېکړه باندې د معترض اعتراض تر غور لاندې نیسي او د دې قانون د څلور سوه دوه اتیایمې مادې د حکم له مخې ارزیابي کوي یې، د لزوم په صورت کې کولای شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضیې دواړه خواوې احضار کړي او د موضوع څرنګوالی له هغوی څخه وپوښتي.

**څلور سوه شپږ اتیایمه ماده:**
دنده لرونکی کمیسیون خپلی نظریې په دوو نسخو کې تنظیموي او له سوابقو سره یو ځای د ستری محکمې د عالي شوري د دارالانشاء ریاست ته یې سپاري.

**څلور سوه اووه اتیایمه ماده:**
په هغه صورت کې چې غوښتونکی متضرر شخص وي د نوي کتنې د غوښتنلیک د وړاندي کولو مرجع ستره محکمه ده.

**څلور سوه اته اتیایمه ماده:**
(۱) پر وروستیو حکمونو باندي د نوي کتنې د استدعا د وړاندي کولو موده د شخصي احوالو (کورنۍ) په قضیو کې دري میاشتې ده.
(۲) د دي مادي د لومړۍ فقرې د مندرجې مودې پېل د وروستي پرېکړي د صادریدو له نېټې څخه محاسبه کیږي.

**څلور سوه نهه اتیایمه ماده:**
د نوي کتنې د څېړلو موده د اعتراض د وړاندي کولو نه وروسته دري میاشتې ده.

## شپږم باب
## متفرقه حکمونه

**څلور سوه نوي یمه ماده:**
د مدني او عامه حقوقو په قضیو کې د غیر قضائي غونډو تصمیمونه او قرارونه د اعتبار وړ نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه یو نوی یمه ماده:**

د مدني حقوقو په موضوعاتو کې قضاوت د عریضې او دعوی له وړاندې کولو نه وروسته صورت نیسي.

**څلور سوه دوه نوی یمه ماده:**

قاضي نه شي کولای چې د قضاوت واک وبل قاضي ته وسپاري خو دا چې په قانون کې بل ډول تصریح شوی وي.

**څلور سوه دری نوی یمه ماده:**

قاضي نه شي کولای چې د قانون د څرګند امر نه پرته او بیله قانوني موجب څخه د خپل واک په دننه کې د قضیو حل او فصل تعطیل او وځنډوي.

**څلور سوه څلور نوی یمه ماده:**

قاضي مکلف دی چې د قضائي نزاهت سره د مخالفو کړو وړو او ویناوو څخه په کلکه ډډه وکړي.

**څلور سوه پنځه نوی یمه ماده:**

د قاضي قضاوت د وخت، ځای، موضوع او پیښې د په پام کې نیولو سره تقیید ، تخصیص او تجزیه کیدای شي.

**څلور سوه شپږ نوی یمه ماده:**

که د دعوی موضوع پور یا د منقولو او غیر منقولو مالونو پیرودل وي او مړ شوی مدعی علیه شرعي وارث ونه لري د دولت د قضایاوو اداره د قضا په وړاندې د مړي قانوني ممثل شمیرل کیږي او محکمه د موضوع په هکله رسیدګي کوي.

**څلور سوه اووه نوی یمه ماده:**

قاضي نه شي کولای په هیڅ ډول سره مدعي، مدعی علیه او شاهدانو ته تلقین وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه اته نوی یمه ماده:**

قاضي باید د هېواد پر نافذو قوانینو او د اسلامي شریعت پر حکمونو باندې د بشپړې احاطې څخه بر سېره د ټولنې پر دود، عاداتو او عمومي عنعنو باندې پوره خبرتیا ولري.

**څلور سوه نهه نوی یمه ماده:**

پر اثباتیه مدرکونو باندې مستند د قضا حکم د ورثو د یو تن یا د ځینو پرله او پر خلاف د ورثې پر ټولو باندې حکم دی.

**پنځه سوومه ماده:**

قضا مظهر ده نه مثبت، محکوم به په حقیقت کې ثابت امر دی او قاضي د قانوني او شرعي وړاندې شویو دلیلونو پر اساس څرګندوي یې.

**پنځه سوه یوومه ماده:**

د قاضي حکم د قانون د صریح حکم د نشتوالي په صورت کې د اسلامي شریعت د اساساتو سره سم صادرېږي په محکوم به کې د زور اوځواک لرونکي دی.

**پنځه سوه دوه یمه ماده:**

صغیر، لیوني، معتوه، محجور او غایب په مستقیم ډول شرعي خصم نه شي کېدای.

**پنځه سوه درېیمه ماده:**

د ښاري، ناحیوي، ولسوالۍ او علاقداري د محکمو پرېکړې چې د مدعي یا مدعی علیه د اقرار یا د مدعي، مدعی علیه یا د هغوی د مورث له اقرار څخه د حکم وړ وثیقي پر اساس یا د شرعي ابرأ پر بنا وي د استیناف وړ نه دي، پورتنی محکمه په دغو موردونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استیناف غوښتنی په رد کولو تصمیم نیسی، مشبوه وثیقی له دی حکم څخه جلا دی.

**پنځه سوه څلورمه ماده:**

ستره محکمه مکلفه ده د دعوی د سموالی د شرایطو او ورته نورو په هکله د دی قانون د حکمونو د اغیزمن تطبیق په خاطر ځانګړی قاعدی او لایحی چې د ستری محکمی د عالی شوري له خوا تصویب شوی وی وضع کړی.

**پنځه سوه پنځمه ماده:**

د علاقه داری او ولسوالی د محکمو پریکړی چې د حکم سببونه پکی لوړه (حلف) یا د لوړی اسقاط وی د لاندنیو اجراآتو تابع دی:

۱- که نوموړی پریکړه په پورتنی محکمه کې نقض شی د دی قانون د دریم باب د څلورم فصل د حکمونو مراتب په پام کې نیول کیږی.

۲- په هغه صورت کې چې نوموړی پریکړه په پورتنی محکمه کې د نقض وړونه ګڼل شی او مدعی د شاهدانو د اقامه کولو غوښتونکی وی د ولایت د محکمی اړوند دیوان او د هغی اندول محکمه د قضائی قرار په ترڅ کې قضیه د شاهدانو د اقامه کولو د دوران له پاره اړوندی محکمی ته استوی.

۳- په هغه محکمه کې چې قضیه ورته احاله شوی ده یوازی د شاهدانو د اقامی موضوع د دعوی په نوی فورمه کې درج کیږی او له مدعی څخه د شاهدانو د حاضرولو په خاطر استحضاری اخیستل کیږی. د دی منظور له پاره د دعوی نوی دوران د نوی صورت دعوی د وړاندی کولو غوښتونکی نه دی.

۴- په لومړی محکمه کې د دعوی د بیا داېرېدلو نه وروسته د شاهدانو د راوړلو موده یوه میاشت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-** که مدعی شاهدان اقامه کړل او نوموړی شاهدان قبول یا رد شول، په دواړو حالتونو کې باید قضیه پورتنیو محکمو ځخه تېره شي.
**۶-** که مدعی د یوی میاشتی په موده کې د شاهدانو له حاضرولو ځخه عاجز شي لومړنۍ پرېکړه قطعیت مومي.
**۷-** د شاهدانو د اقامی له پاره لومړی محکمی ته د قضیی قانونی وړاندی کېدل د لومړنۍ پرېکړی بشپړوونکی حیثیت لری، استینافی نه دی، د مرافعوی محصول تابع نه دی.

**پنځه سوه شپږمه ماده:**

دا قانون په رسمی جریده کې له خپرېدو نه یوه میاشت وروسته نافذیږی او ددې په نافذیدو سره د **۱۳۳۸** د تلی د میاشتی د شلمی نېټی د عدلی محکمو اداری اصولنامه د هغی له ضمیمو سره، د **۱۳۳۷** کال د جدی د لومړی نېټی د حقوقی عدلی محاکماتو د اجراآتو اصول د **۱۳۲۴** کال د سنبلی د اووه ویشتمی نېټی د لومړنیو دعواوو د مودی د ټاکلو د اصولو او په حقوقی او جزائی دعواوو کې د مرافعی او تمیز د استماع اصولنامه د ټولو اړوندو ضمیمو او تعدیلاتو او د **۱۳۳۱** د جدی د ځلیر ویشتمی نېټی نافذ شوی د محاکماتو د اصولو واحده ماده او د هغو نورو قوانینو او تقنینی سندونو حکمونه چې د دی قانون له حکمونو سره توپیر ولری لغوه ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مدني محاكماتو د اصولو د قانون تعديلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د ځینو مادو د تعدیل او حذف په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس تقنیني فرمان

**ګڼه: (۱۳۵)**

**نېټه: ۱۰/۱۳۸۶/۲۷**

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۶۹ هجري لمریز کال په (۷۲۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د مدني محاکماتو د اصولو د قانون دوه سوه پنځلسمه، دوه سوه اته نوي یمه، دوه سوه نهه نوي یمه، دري سوه دوه یمه او دری سوه دیارلسمه مادې په لاندې ډول سره تعدیل شي:

**۱- دوه سوه پنځلسمه ماده:**

د غیر منقولو مالونو په دعواوو کې د حکم د صحت په منظور، د ذوالیدۍ د شاهدانو اقامه کېدل د دعوي له صحت وروسته معتبر دی. د ذوالیدۍ د شاهدانو له حاضرولو څخه د مدعي د عاجزه کېدو په صورت کې، د خصمینو تصدیقونه د اعتبار وړ دی. د نه ذوالیدۍ په هکله د مدعي علیه د انکار او حلف په صورت کې، موضوع، د خصومت په پرېښودو سره پای مومي.

**۲- دوه سوه اته نوي یمه ماده:**

د رسمي سندونو د مشبوهیت یا تزویر په هکله د عریضو وارسی، په هغې ابتدائیه محکمې پورې مربوط دي چې د اصل دعوي رسیده ګي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه د تزویر ادعا په یوه وخت کې له اصل دعوې سره یوځای د یوې فیصلې په ترڅ کې منفصله کوي.

**۳- دوه سوه نهه نوي یمه ماده:**

که چیرې د سندونو د مشبوهیت یا تزویر په هکله عریضې نورو مراجعو ته وړاندې شي، اړوندې ابتدائیه محکمې ته رجعت ورکول کېږي.

که چېرې تر ادعا لاندې سند په هغې محکمې کې چې قضیه تر رسیده ګۍ لاندې نیسي، نه وي ترتیب شوی، د ترتیبوونکې محکمې د حوزې نظر د قضائي نیابت په څېر هغې محکمې ته چې قضیه تررسیده ګۍ لاندې نیسي، وړاندې کېږي.

د سندونو د مشبوهیت یا تزویر په هکله ادعا د مقر، شاهدانو یا د هغوی د قانوني قایم مقام لخوا صورت مومي.

**۴- درې سومه ماده:**

د سندونو د مشبوهیت یا تزویر د موضوع جزایي تعقیب، د حق‌العبدي دعوې په هکله د محکمې تر قطعي یا نهایي فیصلې پورې، معطلېږي.

**۵- درې سوه دوه یمه ماده:**

که چېرې محکمه د دلیلونو له ارزونې وروسته، د مشبوهیت یا تزویر ادعا وارده وګڼي، مدعي پوهوي (تفهیم کوي) څو خپله صورت دعوي د موضوع له اصل دعوي سره یو ځای وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶- درېِ سوه دیارلسمه ماده:**

که چېرې د مشبوهیت یا تزویر د دعوي رسیده ګي له اصلي دعوي سره یو ځای صورت و مومي رسیده ګي کوونکې (څېړونکې) محکمه مکلفه ده د خپلو کړنو د پایلو څخه هغې محکمې ته چې سند په هغې کې ترتیب شوی دی یا د هغه مخزن اداري ته چې د سند کنده په هغه کې قرار لري، وخت په وخت خبر ورکړي څو د بیعې یا د مثني له ورکړې څخه ډډه وشي.

**دوه یمه ماده:**

دمدني محاکماتو د اصولو درې سوه یوولسمه او درې سوه دولسمه مادې دې حذف شي.

**درېیمه ماده:**

دغه تعدیل او حذف د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي**
**جمهوریت رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون اصول محاکمات مدنی

جریدهٔ رسمی شماره ( ۷۲۲)
مؤرخ ۱۳۶۹ /۵/۳۱ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمان رئیس جمهور جمهوری افغانستان**

**شماره:** ۱۳۴۱

**تاریخ:** ۱۳۶۸/۹/۱۹

توشیح قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان مطابق به حکم فقرهٔ دوم مادهٔ هفتادوپنجم قانون اساسی ج.ا قانون اصول محاکمات مدنی ج.ا به داخل پنج صد و شش ماده که بر اساس صلاحیت های تفویض شده در فرمان شماره (۱٤۸۹) مؤرخ ۱۳٦۷/۱۱/۳۰ در مورد اعلام حالت اضطرار طی مصوبهٔ شماره(۱۸۰) مؤرخ ۱۳٦۸/٥/٥شورای وزیران به تصویب رسیده توشیح می‌دارم.
این فرمان همراه با مصوبهٔ شورای وزیران و قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان جهت نشر در جریدهٔ رسمی به وزارت عدلیه گسیل گردد.

**نجیب الله**

**رئیس جمهور افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری افغانستان شهر کابل**

**شماره: ۱۸۰**

**تاریخ: ۱۳۶۸/۵/۵**

در مورد قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان شورای وزیران جمهوری افغانستان بر اساس صلاحیت های تفویض شده در فرمان شماره (۱٤۸۹) ۱۳٦۷/۱۱/۳۰ رئیس جمهور در مورد اعلام حالت اضطرار تصویب می‌نماید:

۱- قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان به داخل (۵۰٦) ماده منظور است.

۲- مصوبهٔ شورای وزیران جهت توشیح به مقام ریاست جمهوری ارایه گردد.

**سلطانعلی کشتمند**

**رئیس کمیتهٔ اجرائیهٔ شورای وزیران**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان

## باب اول

## فصل اول

## احکام عمومی

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ (۱۰۸) قانون اساسی جمهوری افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به قضاوت وطرز رسیدگی قضایای مدنی در محاکم جمهوری افغانستان وضع گردیده است.

**مادۀ دوم:**

اهداف اساسی این قانون قرار ذیل است:

۱- رعایت تساوی حقوق اتباع و تطبیق احکام قوانین جمهوری افغانستان در قضایای مدنی.

۲- تنظیم رویۀ عادلانه درجلسات قضائی.

۳- تعیین حدود حقوق و و جایب طرفین دعوی، شهود و اهل خبره.

٤- تنظیم طرزالعمل شهادت وارزیابی اسناد قانونی، قرائن قاطعه، قراین مستنبطه و اسباب حکم.

٥- تنظیم امور مربوط به استیناف خواهی، فرجام خواهی و تجدید نظر به فیصله ها و قرار های نهائی محاکم.

٦- تسریع رسیدگی دعاوی مدنی.

**مادۀ سوم:**

رسیدگی به دعاوی مدنی از صلاحیت محاکم جمهوری افغانستان است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ چهارم:**

اصـطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را دارد:

۱- قاضی: شخصی است که حکم می‌کند.

۲- محکوم له: شخصی است که به نفع او حکم شده باشد.

۳- محکوم علیه: شخصی است که به ضرر او حکم شده باشد.

٤- محکوم به: آنچه که موضوع حکم قرار گرفته باشد.

٥- طریق حکم: طرز و روش اصدار قرار وفیصله است.

٦- قضـاء: حکمی است که توسط قاضی به الفاظ وکلمات مخصوص به صورت قطع و جزم صادر می‌شود.

۷- حکم: قضاوت قاضی است به اینگونه الفاظ صادر می‌شود که حکم نمودم تو ........ در موضوع .......... ملزم می باشی و حکم خود را به رد و یا سپردن مدعی بها تصریح نماید و یا حکم کردم که در مدعی بها به مدعی علیه مزاحم مباش.

۸- قضای الزام: حکم برثبوت مدعی بها است.

۹- قضای بالترک: حکم بر عدم اثبات است.

۱۰- استیناف خواهی: آن است که محکوم علیه به حکم صادرهٔ محکمهٔ شهری، ناحیوی، ولسوالی یا علاقداری قناعت ننموده شکایت واعتراض خود را به محکمهٔ ولایت و یامحکمهٔ لوی ولسوالی تقدیم نماید.

۱۱- فرجام خواهی: آن است که محکوم علیه به حکم صادرهٔ محکمهٔ ولایت یا محکمهٔ لوی ولسوالی قناعت ننموده شکایت یا اعتراض خود رابه دیوان مربوط ستره محکمه تقدیم نماید.

۱۲- اهل خبره: اشخاص مسلکی است که در رشته های خاص دارای تخصص، معلومات یا تجربهٔ کافی باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل دوم

## دعوی

**مادۀ پنجم:**

دعوی خواستن حق است از غیر در پیشگاه محکمه.

**مادۀ ششم:**

شخصیکه حق را می‌خواهد مدعی و شخصی که حق از او خواسته می-شود مدعی علیه است.

**مادۀ هفتم:**

طرفین دعوی مطابق احکام قانون دارای اهلیت قانونی باشند.
درصورت نقصان یا فقدان اهلیت قانونی و غیابت احکام ولایت، وصایت و قیمومیت قابل تطبیق است.

**مادۀ هشتم:**

مدعی بها شی خواسته شده وشامل حقوقی است که قوانین جمهوری افغانستان آن‌راپیش بینی و موضوع دعوی قرار گرفته بتواند.

**مادۀ نهم:**

(۱) نمایندۀ قانونی دولت در قضایای مدنی‌که حقوق و وجایب نفع وضرر کلی یا قسمی دولت مطرح باشد به حیث مدعی یا مدعی علیه قرار می‌گیرد.
(۲) نمایندۀ دولت به منظور حکم مندرج فقرۀ اول این ماده ادارۀ قضایای دولت می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ دهم:**

درقضایای که اهالی قریه به صــورت مـشـترک ذینفـع باشـند حـضور بعـضی آنـها به حیث مـدعی یـا مـدعی علیـه درمحکمـه کفایـت مـی‌کنـد مـانـند چـراگـاه، راه عـام و امـثال آن.

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) دعاوی که در جـهت نفـع و ضرر متـوفی و یـا متروکـه صورت می-گیرد وحضـوریکی از ورثه بحیث مـدعـی یا مدعی علیه بـرای رسـیدگی در محکمه کافـی است.

(۲) در دعـوی متروکه عینـی، وارثی‌که متروکـه درحیـازت اوقـرار دارد بحیث خصم شنـاختـه می‌شـود.

**باب دوم**

**فصل اول**

**استدعا**

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) استدعای حق مدنی توسط عریضهٔ رسمی مطالبه می‌شود.

(۲) عریضهٔ حقوقی مستقیماً به محاکم یـا از طریــق شـعبات حقـوق بـــه محـاکم تقـدیم و مـورد رسیـدگی قرار می‌گیرد.

**مادهٔ سیزدهم:**

عریضـهٔ حقوقی حاوی مطـلب ذیل مـی‌باشد:

۱- اسـم، ولد، محل سکونت اصلی و فعلی، پیـشه، نمـره تـذکرهٔ مـدعی و مدعی علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- تعیین اندازهٔ مدعی بها و خلص مقصد دعوی.

۳- بیان جنس، نوع، قیمت مدعی بها در صورتی‌که منقول باشد. در صورتی‌که مدعی بها عقار باشد ذکر موقعیت، نوعیت ومساحت آن نیز حتمی است.

٤- امضاء یا نشان انگشت عارض. درصورتی‌که عارض وکیل، وصی یا قیم باشد ذکر نمره و تاریخ سند وکالت، وصایت و قیمومیت با شهرت مکمله آن ضرور است.

۵- تاریخ ایجاد حق وتاریخ تقدیم عریضه.

**مادهٔ چهاردهم:**

درصورتی‌که مدعی بها مشترک و مدعی متعدد باشد استدعا توسط عریضهٔ واحد صورت می‌گیرد.

**مادهٔ پانزدهم:**

درصورت وحدت سبب دعوی در مدعی بها و تعدد مدعی علیه استدعا توسط عریضهٔ واحد صورت می‌گیرد.

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱) عریضه ای‌که به محکمهٔ ذیصلاح تقدیم می‌گردد محکمه بعد از احضار معروض علیه آنرا بررسی نموده در صورت قناعت معروض علیه قرار قضائی صادر وجهت اجرأ به ادارهٔ حقوق ارجاع می‌دارد.

(۲) درصورت انکار معروض علیه محکمه مطابق به احکام قانون رسیدگی می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ هفدهم:**

عریضه ایکه به ادارۀ حقوق تقدیم می‌گردد درصورت عدم قناعت مدعی علیه یا طرفین محول محکمه می‌شود.

## فصل دوم
## مبادی دعوی

**مادۀ هجدهم:**

تحریرات محکمۀ ذیصلاح عرایض وارده را تسلیم و بعد از ملاحظۀ رئیس محکمه به دفتر مربوط ثبت می‌نماید.

**مادۀ نزدهم:**

در صورتی‌که محکمه در رسیدگی به قضیه خود را ذیصلاح تشخیص ننماید قرار رد آن‌را صادر می‌کند.

**مادۀ بیستم:**

درقضیه ای‌که اعتراضات ابتدایی صورت گیرد محکمه اعتراضات را درجلسۀ قضائی که از طرف محکمه تعیین می‌گردد رسیدگی و تصمیم قضائی اتخاذ می‌گردد.

**مادۀ بیست ویکم:**

اعتراضات ابتدائی قرار ذیل است:

۱- عدم صلاحیت رسیدگی قضیه از طرف محکمه.

۲- فقدان صلاحیت و اهلیت مدعی ومدعی علیه.

۳- متوجه نبودن ادعای مندرج عریضه برمدعی علیه.

٤- صدور حکم قضائی قبلی در موضوع بین عارض ومعروض.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- عـدم ذوالیدی مدعی علیه متکی بـراسـناد مثبته در مدعی بهـای غیـر منقول.

٦- ارتبـاط قضیه بـا دعوای‌که در محکمهٔ دیگر دایر است.

۷- دایـر بودن قضیهٔ مندرج در عریضـه در محکمهٔ دیگر.

۸- تحـت مرور زمان بودن قضیهٔ مورد دعوی.

**مادهٔ بیست ودوم:**

هیأت قضائی درموارد منـدرج مـادهٔ (۲۱) این قانون بـه حـضور طـرفین مـوضـوع را رسیدگـی نموده قرار قضائی صـــادر و بـــه طـرفین ابـــلاغ می‌دارد.

**مادهٔ بیست وسوم:**

طرفی‌که به قرار قضائی مندرج مادهٔ (۲۲) این قانون قناعت نداشته باشـد می‌تواند طی مـدت بیـست روز اعتـراض خـود رابـه مـــحکمهٔ حاکمـه یـا محکمهٔ فوقانـی تقـدیم نـماید در این حالت محکمهٔ حـاکمه مـکلف است به معتـرض به قید تـاریخ رسـید داده و اعتـــراض را بعـد از ثبـت در دفتـر مربوط به محکمهٔ فوقانی احاله نماید.

**مادهٔ بیست وچهارم:**

میعاد تقدیم صورت دعوی و جواب دعوی بدون عـذر معقـول از پـانزده روز بیشتر بوده نمی‌تواند.

**مادهٔ بیست و پنجم:**

تحـریرات محکمه مکلف است از وصول صـورت دعوی، جـواب دعـــوی وضمایم آن به مـدعی ومدعی علیه باقید تاریخ رسید بـدهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ بیست وششم:**

تحریرات محکمه بعد از وصول دعوی درصورت صحت آن به تشخیص هیأت قضائی اجراآت مربوط به محصول را مطابق قانون انجام وصورت دعوی را به امر تحریری رئیس محکمه درج فورمه معین نموده ویک نسخه آن را به تعیین وقت به مدعی علیه غرض تهیهٔ جواب تسلیم می‌دهد. و درصورت عدم صحت دعوی مدعی به تصحیح صورت دعوی مکلف می‌شود.

**مادهٔ بیست وهفتم:**

محکمه بعد از تهیهٔ جواب مدعی علیه تاریخ جلسهٔ رسیدگی قضیه را به طرفین ابلاغ نماید.

**مادهٔ بیست وهشتم:**

در دعاوی بسیط و دعوای‌که ایجاب رسیدگی عاجل را نماید به ملاحظه استدعا واظهارات شفوی طرفین رسیدگی بعمل می آید. دعاوی بسیط نظر به اوضاع و احوال متداعیین و شرایط زیست به تشخیص محکمهٔ ذیصلاح مربوط است.

**مادهٔ بیست ونهم:**

مدعی ای‌که دعوی خود را در میعاد قانونی به محکمه تقدیم نه نماید محکمه به ترک خصومت قرار قضائی صادر و عریضه را به مرجع مربوط مسترد می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ سی ام:**

درصورتی‌که مدعی علیه جواب تحریری خود را درمعیاد قانونی به محکمه تقدیم ننماید محکمه به جواب شفوی او اکتفا نموده در موضوع رسیدگی قضائی نماید.

**مادۀ سی ویکم:**

هرگاه مدعی بعد از صدور قرار قضائی مندرج مادۀ (۲۹) به محکمه مراجعه نماید محکمه سوابق موضوع رامطالبه و بعد از احضار طرف مقابل درموضوع رسیدگی می‌نماید. مدعی دراین حالت به تعقیب دعوی خود مکلف می‌باشد.

**مادۀ سی ودوم:**

هرگاه مدعی بار دوم درمیعاد قانونی به اقامۀ دعوی خود حاضر نشود و اطلاع دایر بر عذر قانونی به محکمه نداده باشد محکمه مجدداً به ترک خصومت قرار صادر می‌نماید.

**مادۀ سی وسوم:**

قرار مندرج مادۀ (۳۲) این قانون تابع احکام استیناف خواهی بوده مگر این‌که قانون برخلاف آن حکم نموده باشد.

**مادۀ سی وچهارم:**

(۱) محکمه ایکه قرار مندرج مادۀ (۳۲) را صادر نموده و قرار مذکور توسط محکمۀ فوقانی نقض گردد مکلف است به رسیدگی قضیه اقدام نماید.

(۲) محکمۀ فوقانی مکلف است قرار نقض خود و رسیدگی مجدد قضیه را توسط محکمۀ اولی به طرفین ابلاغ نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ سی وپنجم:**

مدعی بعد از ورود قضیه به دفتر محکمه غرض رسیدگی مجدد مکلف است در خلال یک ماه دعوی خود را به محکمۀ مربوطه اقامه نماید درصورتی‌که بدون عذرقانونی به داخل میعاد مقرره دعوی خود را اقامه ننماید محکمه به ترک خصومت قرار صادر می‌نماید واین قرار نهائی می‌باشد.

**مادۀ سی وششم:**

در دعوی نکاح، مدعی مکلف است درحال عدم عذر مؤجه از تاریخ وصول عریضۀ دعوی خود را در خلال مدت یکماه به محکمه تقدیم نماید با سپری شدن این موعد محکمه می‌تواند به ترک خصومت قرار صادر نماید برای مدعی صرف یکبار حق استیناف خواهی داده می-شود.

هرگاه محکمۀ اولی بار دوم به ترک خصومت قرار صادر نماید این قرار نهائی می‌باشد.

**مادۀ سی وهفتم:**

محکمه دارای دفاتر ذیل می‌باشد:

۱- کتاب وارده و صادره.

۲- کتاب اندراج دوسیه های جزائی.

۳- کتاب اندراج قضایای مدنی و تجارتی.

٤- اجندای جلسات قضایای عاجل.

٥- اجندای جلسات قضایای عادی.

٦- فورمۀ اوراق حکم قضائی.

۷- فورمۀ ثبت اوراق حکم قضائی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- فـورمهٔ اصل و ثبت قرارهای قضائی.

۹- دفتر محـاسبه اوصیا.

۱۰- دفتر ثبـت شکـایات و اعتراض براحکـام نهـائی وغیرنهـائی محـاکم ولایـات.

۱۱- دفتر ثبت استیناف خـواهی.

۱۲- ابلاغ نامه.

۱۳- کتـاب ثبت سندات محصولی.

۱٤- شهریه (تابلو).

۱۵- کتاب ثبت عرایض.

۱٦- دفتر تعرفهٔ محصولی.

۱۷- دفترحاضری.

۱۸- دفتر نظارت بر تطبیق فیصله های قطعی.

۱۹- سایر دفاتر مورد نیاز.

**مادهٔ سی وهشتم.**

تعداد و انواع دفاتر وکتب محاکم نظر به خـصوصیات کـار هـر مـــحکمه متفاوت بـوده و هر یک از محـاکم مطـابق بـه خـصوصیت کـار خـود از دفـاتر مـنـدرج مـادهٔ (۳۷) این قانـون استـفاده مـی‌نماید.

**مادهٔ سی ونهم:**

با در نظر داشت احکام این قـانون سـایر مکلفیـت هـای کارمنـدان اداری محاکم توسط لایحـهٔ جداگانـه ای‌کـه شـورای عـالی سـتره محکمـه آن‌را تصویب می‌نماید تنظیم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل سوم
## جریان رسیدگی قضایای مدنی در محاکم

**مادۀ چهلم:**

رسیدگی به تمام دعاوی مدنی درمحاکم جمهوری افغانستان علنی می-باشد. مگر در حالاتی‌که رسیدگی علنی نظم عامه را اخلال و یا سبب افشای اسرار محرمانه زندگی اشخاص گردد.

**مادۀ چهل ویکم:**

جلسات علنی در روز های رسمی دایر به علاقه مندان اجازه حضور داده می‌شود.

**مادۀ چهل ودوم:**

ابلاغ حکم محکمه در تمام حالات علنی می‌باشد.

**مادۀ چهل وسوم:**

جلسات سری به حضور داشت اشخاص شامل قضیه وممثل قانونی آنها دایر و درصورت لزوم شهود، اهل خبره و ترجمان اشتراک می‌نمایند.

**مادۀ چهل وچهارم:**

شخصی‌که سن (۱۵) سالگی را تکمیل نکرده و شامل قضیه نباشد در جلسات قضائی اشتراک کرده نمی‌تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ چهل و پنجم:**

تحریرات محکمه مکلف است قبل از دایر شدن جلسه، مدعی و مدعی علیه یا ممثل قانونی شان، شهود،اهل خبره و ترجمان را درمحل مختص به آن جابه‌جا نماید.

**مادهٔ چهل وششم:**

هیأت قضائی زمانی وارد اطاق جلسه می‌گردد که وقت تدویر جلسه آماده و اشخاص مندرج مادهٔ (٤٥) حاضر گردیده باشند.

**مادهٔ چهل وهفتم:**

حین داخل شدن هیأت قضائی به اتاق جلسه تمام حاضرین به پا ایستاده می‌شوند زمانی‌که قضات اخذ موقع نمودند به جای خود می نشینند.

**مادهٔ چهل وهشتم:**

رئیس جلسهٔ قضائی رسمیت جلسه را به نام خداوند توانا ودادگر افتتاح، ترکیب هیأت قضائی، څارنوال واهل خبره، ترجمان ومنشی جلسه به اطلاع حاضرین می‌رساند.

**مادهٔ چهل ونهم:**

رئیس جلسهٔ قضائی حقوق و وجایب و مکلفیت های اشخاص شامل قضیه وجلسه را توضیح و منشی جلسهٔ قضائی دستور قرائت اجندای جلسه را صادر وبعد از معرفی مدعی و مدعی علیه و یا ممثل قانونی آنها رسیدگی قضیه را آغاز می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ پنجاهم:**

رئـیس جـلسه حین رسیدگی قضیه نخست به مدعـی یا ممثـل قـانونی او و سپس به مدعی علیه و یا ممثل قـانـونی او موقع مـی‌دهـد تـا دعـوی و دفـاع شـان راقرائت نمایند.

**مادۀ پنجاه ویکم:**

طرفیـن دعوی به کمـال آزادی مطالبات خود راقـرائت و توضیحات مـی- دهد قبل از ختم گفتار یک طرف، طرف دیگـر حـق نـدارد صـحبت جانـب مقابل را قطع کند.

**مادۀ پنجاه ودوم:**

استیضـاح از مدعی، مدعی علیـه و سـایر اشـخاص ذیـربط از صـلاحیت رئیس جلـسه بوده هرگاه درجریان محاکمه مطالبی نزد اعضای قـضائی جلسه قـابل استیـضاح باشد به اجازۀ رئیس جلسه از طـرفین استفـسار به عمل می آید.

**مادۀ پنجاه وسوم:**

منشی جلسه مکلف است تمـام جریـان محـاکمه را بـه ارتبـاط دعـوی و مدافعات شهادت شهود و اظهارات اهل خـبره بـدون کـم وکـاست قیـد محضر جلسه نموده و در پای آن امضای رئیـس و اشـخاص مربـوط را اخذ نمـاید.

**مادۀ پنجاه وچهارم:**

رهبـری و انتظام جلسۀ قضائی از صـلاحیت رئـیس جلسه می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ پنجاه وپنجم:**

اشـخاص شامل قضیه، ممثل قـانونی طرفیـن دعوی، شهود، اهـل خبـره، مـترجـمـین و سـایر شـاملین جلسۀ قـضـائی مــکلف بـه رعایـت نظـم جلسه و اطاعت از اوامر رئیس جلسه می‌باشند.

**مادۀ پنجاه وششم:**

مـدعی، مــدعی علیـه و یـا ممثـل قـانونی آن‌هــا، شـهود، اهــل خبـره و مترجمین مکلف اند حین اظهارات و توضیح مطالب بـه پــا بایـستند مگـر این‌که رئیس جلسه اجازۀ نشستن را بـه آن‌ها بدهد.

**مادۀ پنجاه وهفتم:**

شخصی‌که نظم جلسه را برهم می زنـد رئیس جلسه او را اخطار می‌دهد در صـورت تـخلف رئـیس می‌توانـد اخــلال کـنـنــده را از اتــاق جلـسه خـارج نماید.

**مادۀ پنجاه وهشتم:**

هرگاه اخـلال کننده نظم جلسه مدعی، مدعی علیه یـا ممثـل قـانونی آنهـا باشد درصورت تکرار تخلف محـکمه می‌تواند اخـلال کـنـنده را بـه جزای نقـدی که از سـه هـزار افغـانی بیـشتر نباشـد یـا حـبس الـی یـک هفتـه محکوم نماید.

**مادۀ پنجاه ونهم:**

اگر اخـلال کننده څارنـوال مدنی باشد محکمه با صدور قرار قـضائی بـه تعویض وی اقـدام می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ شصتم:**

درصورتی‌که اخـلال کننده وکیل مدافع باشد محکمه او را مطابق احــکام قانون تأدیب می‌نماید.

**مادۀ شصت ویکم:**

هرگاه شخص در جلسۀ قضائی مرتکب جرم قباحت و یا جنحـه گـردد از طرف محکمه مطابق به احکام قانون مجازات می‌گردد.

**مادۀ شصت ودوم:**

مـحکمه مجـازات مـندرج مـواد( ۵۸) الی (٦٠) ایـن قانون را به داخل حکم قضائی واجـب التعمیل تعیین و حکم مذکور غیرقابل استیناف است.

**مادۀ شصت وسوم:**

در حالات مندرج مواد (۵۸) الی (٦٠) ایـن قـانـون محکمه می‌تــواند قبــل از خـتم جلسه حـکم صادر شـده را لغو نماید.

**مادۀ شصت وچهارم:**

هرگاه محکمه در جرم جنحه در همان جلسۀ قضائی متهم را محکـوم بـه جزأ ننماید و یا جرم ارتکابیه جنایت باشد محکمـه مکلـف است، محـضر واقعــه را ترتیـــب وامــر گــرفـــتاری مــتهم را صـــادر و موضــوع رابــه څارنـوال مربـوط احالـه نمایـد اصــدارحکم در ایــن مــورد در محکمـۀ مجاور قریب صورت می‌گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل چهارم
## اجتناب و رد قاضی

**مادهٔ شصت وپنجم:**

رئیس واعضای محکمه هریک در حالات آتی از اشتراک در ترکیب محاکمه و رسیدگی به دعوی مدنی اجتناب می‌ورزند.

۱- درصورتی‌که در قضیه مورد رسیدگی ذینفع و یا دعوی مربوط به اصول و فروع، زوج، زوجه و یا اقارب آنها باشد.

اقارب به این منظور عبارت است از برادر، برادر زاده، خواهر, خواهر زاده، کاکا، عمه، خاله، ماما، خسر و خشو.

۲- در صورتی‌که در اسناد مربوط به قضیهٔ مطروحه در محکمه سند را تحریر یا امضاء نموده یا در موضوع دعوی قبلاً به حیث څارنوال، حکم، اهل خبره یا شاهد اظهار عقیده کرده باشد.

۳- درصورتی‌که بین رئیس یا اعضای محکمه یا یکی از طرفین قضیه دعوی موجود باشد.

٤- درصورتی‌که بین رئیس یا یکی از اعضای محکمه با یک طرف دعوی خصومت قبلی موجود باشد.

**مادهٔ شصت وششم:**

قضاتی‌که برطبق حکم مندرج فقره (۱) مادهٔ (٦٥) این قانون با همدیگر قرابت داشته باشند نمی‌توانند در ترکیب محاکمه در رسیدگی قضیهٔ مدنی شامل شوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ شصت وهفتم:**

قاضی می‌تواند درصورت بروز اسبابی خارج از احوال مندرج در مواد (٦٥ و ٦٦) این قانون از اشتراک در رسیدگی دعوی اجتناب نماید.

**مادهٔ شصت وهشتم:**

دراحوال آتی اشتراک رئیس واعضای محکمه در رسیدگی بعدی قضیه مجاز نمی باشد:

